﴿ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا ﴾ . (سورت مزمل ۴)

تسهیل الفرقان

في

حل جمال القران

من

افادات الشیخین

مؤلف

خادم القرآن الكريم عبد الحميد آفريدي

فاضل فی القرأت العشر الکبریٰ المتواترة

رئیس شعبہ قرأت جامعہ روضۃ الاسلام نستہ ضلع چارسدہ

نوم د کتاب : تسهیل الفرقان فی حل جمال القرآن
من افادات الشیخین

نوم د مؤلف : خادم القرآن الکریم عبد الحمید آفریدي
فاضل فی القرآت العشر الکبرٰی المتواترة

فون : 0347 9103029

نظر ثاني: حضرت مولانا مفتی محمد قاسم کوهاتی صاحب
قاری شاه فیصل و قاری خائسته رحمٰن صاحب

طبع اوّل : 18 جمادی الاول 1438 هجری بمطابق 2017 فروری

طبع دوم : 2018

طبع سوم : 2019

طبع چهارم : 2020

تعــــــداد : 1100

کمپوزنګ : اعجاز احمد مرداني .03423968411

دملاویدو پتے
مکتبه روضة السلام نسته چارسده
مکتبه فاروق اعظم اوقاف پلازه ضلع چارسده
مدرسه جامعه اسلامیه اوچ پل تیراه اورکزئ ایجنسي
ضیاء اسلامي کتب خانه چراټ روډ پبي سټیشن نیزد پولیس تهانه
سرډیري بازار کوډه خیل چوک ریمه روډ مسجد توحید
مکتبه نعمانیه اتمانزئ چارسده

فهرست

پیش لفظ

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله وحده والصلوة والسلام على من لا نبي بعده اما بعد!

د تجويد ابتدائي كتاب جمال القرآن د مدارسو د تجويد د قراءت په نصاب كښي شامل دے. د دے وجه نه قرآء وصاحبانو مختلف قسمه شروحات تحرير فرمائيلے دي الله تعالي دے د دغه ټولو قراؤ صاحبانو خدمات قبول كړي آمين.

د طلباء كرامو په بار بار وينا باندے چه تاسو په جمال القرآن باندے يو آسانه شان شرح اوليكئ ما احقر دا خبره محسوس كړه چه قراء په جمال القرآن باندے اكثر د اردو شرحي ليكلي دي. ما دا سوچ اوكړو چه بعض طلباء كرامو ته د اردو شرح ناآشنا وي نو انشاء الله د دے نه به هر طالب علم ته فائده اوشي ځكه چه دا ډير آسان او جامع كتاب دے او هر كله چه ما دا كتاب پوره كړو نو ما خپلو استاذانو ته پيش كړو او بيا په خپلو استاذانو كښي مي اول قاري المقري شيخ القراء حضرت مولانا ولي الله صاحب ته وړاندے كړو، هغوي ډير په مينه محبت باندے دا كتاب اوكتلو او تقريظ ئے پرے هم اوليكلو د دے نه علاوه زمونږه استاذ محترم حضرت مولانا قاري حامد الله صاحب ته هم پيش كړو، هغوي هم په مينه محبت باندے اوكتلو او تقريظ ئے پرے هم اوليكلو.چونكه ما په فن تجويد كښ د دے دوو استاذانو نه ډيره استفاده كړے ده نو د دے وجے نه ما د دے كتاب نسبت خپلو استاذانو محترمو ته اوكړو، الله تعالى دے دا شرح "تسهيل الفرقان" زما مشائخ عظام اساتذه كرام او زما والدين كريمين او د نورو علماؤ د قراتو د پاره صدقه جاريه او ذريعه د نجات اوګرځوي، او الله تعالى دے دے ته قبوليت وركړي او د طلباء كرامو د پاره دے فائده منده اوګرځوي آمين ثم آمين

په اخر كښي مشائخ فن د تجويد او قرات په خدمت كښي عرض دے چه په دے كتاب كښي كه څه قسمه كمے بيشے محسوس كړي نو بطور شفقت دے ما خبر كړي.

احقر عبد الحميد آفريدي رئيس قرات و تجويد

جامعه روضة الاسلام نسته چارسده

تعارف

حضرت مولانا قاري آصف الله مهتمم مدرسه فيض القرآن مجيد آباد

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وحده والصلوة والسلام على من لا نبي بعده اما بعد!

قرآن پاک د الله تعالی کلام او آخري کتاب دے د دے د حفاظت ذمه الله تعالی پخپله اخستے ده، د قرآن پاک زبر، زیر، فصاحت بلاغت مِنُ او عَنُ په مکمل طور سره نن زمانے ته الله پاک سینه په سینه راؤرسولو. چه په دے کښ یو زمونږه د محترم قاري عبد الحمید آفریدي صاحب سینه هم الله پاک د قرآن پاک د خدمت د پاره منتخب کړله او الحمد لله د قرآن پاک خدمت ترے هم الله پاک ډیر په ښه انداز سره واخستو، قاري عبد الحمید صاحب پیدائش د خیبر ایجنسي تیرا علاقے دے، ابتدائي سبقونه حفظ ئي په باړه کښي اوکړو تجوید ئي تعلیم القرآن سرډهیرو مدرسه کښي اوکړو بیا د علم د پاره ئي څه کالونه په تعلیم القرآن سرډهیرو کښي او څه په دار العلوم اسلامیه چارسده کښي تیر کړو او دوره حدیث ئے په مدرسه جامعه روضة الاسلام نسته چارسده کښي د مفتي محمد مسلم نستوی صاحب نه اووي او د علم قرآت سبعه عشرے شوق ئے د ابتداء نه په زړه کښي وو، چه د هغے د پاره ئے د مردان مشهور و معروف ماهر القرآن حضرت شیخ ولي الله صاحب دامت برکاتهم سره داخله واخسته، د دوي نه علاوه د ډیرلویو شیوخو قاریانو نه ئے سبقونه اووے.

- قاري المقري ابراهيم صافي صاحب (افغانستان)
- قاري المقري مولانا حامد الله صاحب (سرډهيري)
- قاري المقري مولانا سيف الله خالد صاحب (سرډهيري)
- قاري المقري عبد المالک صاحب (افغانستان)
- قاري المقري مولانا عرفان الله صاحب (گل آباد)
- قاري المقري واجد علي مصباح (نوشهره)

او تقريباً درے خلور کاله مسلسل د تجويد د تدريس نه پس ئے دا کتاب اوليکه چه ډير آسان فهم او جامع دے، قاري عبد الحميد آفريدي صاحب دا کوشش او سعي دے الله پاک قبوله کړي او د دوي علم، عمل او ژوند کښے دے الله پاک برکت واچوي. آمين ثم آمين.

آصف الله

۲۰۱۶،۱۲،۲۷

﴿تقريظ ۱﴾

قاري المقري الشيخ عبد الكبير بن عبد الودود

مدرس القراء ت مسجد نبوي مدينه منوّره

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله وحده، والصلاة والسلام
على من لا نبي بعده، وبعد: فقد التقيت بالشيخ الفاضل
طالب العلم النبيل / عبد الحميد افريدي / بالمسجد النبوي الشريف
يوم الأحد تاريخ ١٤/٤/١٤٣٨هـ. فوجدته ضابطا للمسائل
التجويدية النظرية وبحاجة إلى التجويد التطبيقي، وفقه الله لمزيد
فأسأل الله تعالى أن يجعله من الصالحين ومن الدعاة المخلصين
ومن حفظة كتابه الكريم ومن أهل الله وخاصته، اللهم آمين.

ترجمہ:

میری ملاقات شیخ فاضل طالب علم، نبیل عبد الحمید افریدی سے مسجد نبوی میں بروز اتوار ۱۴ ربیع الثانی ۱۴۳۸ ھجری کو ہوئی میں نے اس کو مسائل تجوید کا حافظ پایا اور اسی طرح تجوید کے ادائیگی میں بھی اللہ تعالی ان کو مزید توفیق دے، میں اللہ تعالی سے سوال کرتا ہوں کہ ان کو صالحین اور داعین مخلصین کے زمرے میں داخل کریں ان کے اس کتاب کو مقرب بنادے اور ان کو اہل اللہ اور ان کے خواص میں داخل فرمادے۔

اللھم امین.

کتبه عبد الكبير بن عبد الودود

مدرس القراءات مسجد نبوی مدینہ منورہ

۱۴٫۴٫۱۴۳۸ھ

تقریظ (۲)

شيخ التجويد والقراءات سند القراء
استاد الكل مولانا قاري المقري ميا ں
ولي الله باچا الهزاروي صاحب

بسم اللہ الرحمن الرحیم

نحمدہ ونصلی علی رسولہ الکریم

اما بعد آج بتاریخ ۱۲ ربیع الاول ۲۰۱۶ء

کو میرے پاس قاری عبد المجید آفریدی چارسدہ سے تشریف لائے لگتا ہے
کہ انہوں نے جمال القرآن کے لمعات کو آسان بہترین حل کر کے
طلباء کرام کی سہولت کی خاطر جمع کیا ہے قاری صاحب آپ
بہترین فاضل اور عالم ہے ساتھ ساتھ النحو اور الصرف کے بھی
بہت ماہر ہیں اور ان کی ایک عادت یہ بھی تھی طالب العلمی کے
زمانے میں ان کو ہر وقت میں دیکھتا رہتا تھا جو بھی بات سنتا مجھ سے
تو فوراً لکھ لیا کرتا تھا اگر کہا جائے کہ یہ بھی افادیت ہے جو احقر کے
بیان کردہ ہے تو غلط نہ ہوگا بہر کیف قاری عبد المجید آفریدی میرے
پاس کافی عرصہ لگا کر فن تجوید وقراءت اور قراءت عشرہ الکبری
المتواترہ میں کافی دسترس حاصل کی ہے اللہ تعالیٰ ان کی زندگی
میں برکت فرمائیں اور اللہ تعالیٰ ہمیں صحیح قرآن شریف پڑھنے
اور پڑھانے اور اس کے احکام پر عمل کرنے اور پورے عالم میں
پھیلانے کی توفیق عطا فرمائیں

آمین ثم آمین والسلام

تلمیذ خاص سیدنا سید القراء مولانا قاری
المقری اظہار احمد تھانوی

۱۲ ربیع الاول ۲۰۱۶ء

تقريظ ﴿۳﴾

شيخ التجويد سند القراء استاد الكل

حضرت مولانا قاري حا مد الله صاحب

مولانا حافظ القاري عبد الحميد صاحب چه كومه شرح د جمال القرآن ليكلے ده اكثر ځايونه ما اوكتل د طلباؤ د پاره ډير فائده مند او آسان كتاب دے الله تعالى دے دا كتاب د دے قاري صاحب د پاره يو صدقه جاريه اوګرځوي آمين يا رب العالمين.

از طرف بنده حامد الله.

تقریظ او دعائی کلمات (۴)

شيخ القرآن والحديث مفتي محمد مسلم نستوي صاحب
مهتمم جامعه روضة الاسلام نسته چارسده

بسم الله الرحمٰن الرحيم

نحمده و نصلي على رسوله الكريم اما بعد!

محترم لوستونکو جمال القرآن د علم تجوید بنیادي او اهم کتاب دے.رومبو طالبانو د علم تجوید د پاره چه تالیف د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تصنیف دے په دیني مدرسو کښي په نصاب کښي شامل دے او مقبولیت عامه ورته حاصل دے د دے اهم کتاب پښتو ژبه کښي تشریح او وضاحت ته ضرورت وو دا ضرورت څمونږه ورور د جامعه روضة الاسلام نسته چارسده فاضل اوهم د دے جامعے د شعبه تجوید سرپرست او استاد نوجوان عالم دین حضرت مولانا قاري عبد الحمید صاحب سلمه الله پوره کړو او د دے کتاب ترجمه او تشریح ئے په پښتو ژبه کښې او لیکله چه ستاسو مخکښې ده.

مولف موصوف باندے د خپل استاذانو اعتماد دے او ډیر مدت داسے موصوف په دے فن کښي محنت کوي امید دے دا لیکل به لوستونکو د پاره ډیر مفید وي څما دعا ده الله تعالي دے د ده دا خدمت قبول کړي او الله دے موصوف علم او عمر کښي برکت واچوي او الله تعالی دے د دے نه زیات خدمت مقبول توفیق د خپل دین ورکړي آمین ثم آمین.

احقر محمد مسلم نستوي عفا الله عنه

جامعه روضة الاسلام نسته چارسده

۲۸ ربیع الاول ۱۴۳۸ هجري

بسم الله الرحمٰن الرحيم

حالات د مصنف

د ده نوم اشرف علي تهانوي رحمه الله ؤو. او لقب ئے حکیم الامت وو. د پلار نوم ئے عبد الحق ؤو. د پلار د طرفه فاروق النسل ؤو او د مور د طرفه علوي ؤو او د هندوستان په ضلع مظفر نگر په تهانه بهون کلی کښې د یورئیس په کورنۍ کښې په پنځم ربیع الثاني 1280 هجري کښې د چهار شنبے په ورځ پیدا شوے وو. او د دوي وفات 1362 هجري کښې په مطابق 1942 کښې اوشو.

خواجه عزیز الحسن مجذوب رحمه الله د دوي د رحلت په وخت کښې اوفرمائیل چه دا نن وفات د اشرف الاولیاء دے دوي اول قرآن شریف حفظ کړو د دوي د استاذ نوم حافظ حسین علي رحمه الله وو. هر کله چه دوي د حفظ نه فارغ شول بیا ئے په تهانه بهون کلي کښې ابتدائي کتابونه د مولانا فتح محمد صاحب نه وئیلے ؤو.

حضرت مولانا فتح محمد صاحب ډیر لوئے عالم دین او متقی کیدو سره د مولانا محمد قاسم نانوتوی بانی دار العلوم دیوبند په خاص شاګردانو کښې وو. د تهانوي رحمه الله عمر دولس یا دیارلس کاله وو چه د مولانا فتح محمد صاحب د تعلیم او تربیت نه ئے لوئے اثر واخستو پنځه وخته مونځ سره به ئے د تهجدو پابندي هم کوله د پنځلسو کالو په عمر کښې په دارالعلوم دیوبند کښې داخل شو او بیا ئے دوره حدیث د مولانا محمد یعقوب صاحب نه اووے.

د علم تجويد مبادیات

د علم تجوید د شروع کولو نه مخکښې د يو څو خبرو پيژندل ضروري دي هغې ته د تجويد مبادیات وائي.

نوم د علم: نوم ئې علم تجويد دے

تعریف: هُوَ عِلْمٌ يُبْحَثُ فِيْهِ عَنْ مَخَارِجِ الْحُرُوْفِ وَصِفَاتِهَا.

ترجمه: دا يو داسے علم دے چه په دے کښې بحث کيږي د مخارجو د حروفو او د صفاتو د هغے نه.

موضوع: د علم تجوید موضوع حروف هجا او حروف تهجي دي د الف نه ياء پورے دے حروفو ته حروف تهجي وائي د دے نه ټول قرآن مجید جوړ شوے دے.

عرض و غايت: صَوْنُ اللِّسَانِ عَنِ الْخَطَآءِ فِي أَدَآءِ الْقُرْاٰنِ وَ تِلَاوَةِ الْقُرْاٰنِ كَمَا أُنْزِلَ وَتَحْسِيْنُ الْقِرَآءَةِ.

ترجمه: بچکول د ژبے دي د غلطو نه په ادا کولو د قرآن کښې او د تلاوت په دوران کښې لکه څنگه چه نازل شوے دے او خائسته کول د قراءت دي.

اقسام د علم التجوید: اقسام د علم تجوید دوه دي يو عملي تجويد دے او بل علمي تجويد دے.

عملي تجوید: عملي تجوید دیته وائي چه د تلاوت په دوران کښې قرآن مجيد په داسے انداز کښې لوستل چه په کوم انداز کښې په رسول الله ﷺ باندے نازل شویدے او چه څنگه پرے هغوي تلفظ ادا کړي دي.

علمي تجوید: علمي تجويد نه مراد هغه قواعد احکام او اصول دي کوم چه علماء تجويد او قراء حضراتو ديو خاص ترتيب مطابق مرتب کړي دي.

ارکان د علم التجوید: د علم تجوید ارکان او اجزاء مختصر دوه دي یو مخارج الحروف او دویم صفات الحروف او تفصیلاً شپږ دي.

.۱. مخارج.۲. صفات لازمه.۳. صفات عارضه.۴. محل وقف.۵. کیفیت وقف.۶. په ژبه او په خولے سره محنت کول.

فائده او ثمره د علم تجوید: سَعَادَةُ الدَّارَيْنِ د دواړو جهانو کامیابي.

فضیلت د علم تجوید: دا دے چه دا علم اشرف العلوم دے ځکه چه د ده تعلق د قرآن سره دے او قرآن په ټولوکتابونو باندے اوچت دے نودا علم هم په ټولو علمونوباندے اوچت دے.

واضعین د علم تجوید: واضعین په دوه قسمه دي یو "مِنْ حَيْثُ الْأَدَا" نبیﷺ په خپله دے ځکه هغوي صحابه کرامورضي الله عنهم ته د تلفظ ادا خودلے وه.

دویم "مِنْ حَيْثُ الْقَوَاعِدْ" په دے اعتبار سره د تجوید بنیاد پنځو (۵) صاحبانو ایخودلے دے.

- امام ابو عبد الرحمن خلیل بن احمد فراهیدي رحمه الله المتوفی ۱۷۰ هجري.
- امام عمر بن عثمان بن قُمبر لقب ئے سیبویه رحمه الله المتوفی ۱۸۸ هجري
- امام محمد بن مستنیر عرف قطرب رحمه الله المتوفی۲۰۹ هجري.
- امام یحي بن ذیاد فراء رحمة الله المتوفی ۲۰۷ هجري
- امام مبرد رحمة الله المتوفی ۲۸۶ هجري. د دے علم تجوید د ترتیب بنیاد تقریبا ۱۵۰ هجري کښي ایخودلے شوے دے.

حکم د علم تجوید: فرض کفایه دے دومره چه په اته ځلویښت میله کښي

به يو ماهر قاري موجود وي او كه موجود نه وي نو بيا به ټول خلق ګنهګار وي او عمل پرے فرض عين دے يعني د دے علم موافق قرآن لوستل فرض عين دي دومره چه د الفاظو د غلطئ او د معنے د تبديلئ نه پرے بچ شي او د دے نه زيات مستحب دے.

د علم تجويد د فرضيت او د وجوب ثبوت

د قرآنَ نه د علم تجويد ثبوت: قرآن كښې د دے آيت نه علم التجويد ثابت دے.

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰاهُمُ الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ (بقره).

ترجمه: "هغه كسان چه وركړے دے مونږه دوي ته كتاب نو تلاوت كوي د دے په حق تلاوت سره" د حق تلاوت نه علم التجويد مراد دے.

امام غزالی رحمة الله فرمائي چه حق تلاوت كښې درے شيزونه داخل دي.

- د زړه كارپكښې اطاعت او نصيحت دے.
- د ژبے كارپه كښې د حروفو صحيح كول دي.
- د عقل كار په كښې معني او تفسير دے د دے آيت نه هم علم تجويد ثابت دے: **وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا**. امام بيضاوي د دے ايت ترجمه داسے كوي. اَي **جَوِّدِ الْقُرْاٰنَ تَجْوِيْدًا**. كره كړه يا عمده كړه قرآن لره په كره كولو او عمده كولو سره حضرت علي رضي الله عنه د دے آيت ترجمه داسے كوي. "**اَلتَّرْتِيْلُ هُوَ تَجْوِيْدُ الْحُرُوْفِ وَ مَعْرِفَةُ الْوُقُوْفِ**: تجويد كره كول يا عمده كول د حروفو دي او پيژندل د وقفونو دي.

ده حدیث نه د علم تجوید ثبوت: رُبَّ قَارِيٍ لِلْقُرْآنِ وَالْقُرْآنُ يَلْعَنُهُ.

ترجمه: ډیر ځله به یو قاري قرآن وائي خو قرآن به په ده باندے لعنت وائي.

ملا علی قاری رحمه الله فرمائي چه په دے حدیث کښي درے قسمه کسان داخل دي.

- بے عمله قاري
- تحریف کونکے قاري
- غلط لوستونکے قاري.

د اجماع نه د علم تجوید ثبوت: په دے سره هم علم تجوید ثابت دے.

ملا علي قاري رحمه الله په شرح مقدمة الجزري کښي فرمائي.

"هٰذَا الْعِلْمُ لَا خِلَافَ فِي أَنَّهُ فَرْضُ كِفَايَةٍ وَلْعَمَلُ بِهٖ فَرْضِ عَيْنٍ عَلٰى صَاحِبِ كُلِّ قِرَاءَةٍ وَرِوَايَةٍ وَلَوْ كَانَتِ الْقِرَاءَةُ سُنَّةً"

ترجمه: دا علم چه دے نو پدی کښی د چا خلاف نشته چه فرض کفائي دے او عمل په دے باندے فرض عین دے په صاحب د هر قراء ت او روایت باندے اګر چه تلاوت سنت او مستحب دے نه فرض دے او نه واجب.

د قیاس نه د علم تجوید ثبوت: هغه دا چه دا قرآن عبارت دے د الفاظو او معنو دواړو نه خنګه چه د قرآن معني صحیح کول ضروري دي دغه شان د قرآن الفاظ صحیح کول هم ضروري دي.

د علماء کرامو د اقوالو نه د علم تجوید ثبوت: دغه شان فقهائے کرامو فرمائیلي دي چه تجوید سره قرآن شریف وئیل واجب او انتهائي ضروري

دي.ځکه چه غلط لوستلو سره بعض وخت معني بدله شي او مونځ پرے هم فاسد شي.

علامه شمس الدين ابو الخير محمد بن الجزري رحمه الله فرمائي.

وَالْاَخْذُ بِالتَّجْوِيْدِ حَتْمٌ لَّازِمٌ: مَنْ لَّمْ يُجَوِّدِ الْقُرْاٰنَ اٰثِمٌ.

ترجمه: او حاصلول د تجويد ضروري او لازم دي، ځوک چه په تجويد سره قرآن نه وائي نو گنهگار دے.

ملَّا جِيوَنْ تفسير احمدي کښي فرمائي چه الله تعالي قرآن مجيد د ترتيل سره د وئيلو حکم فرمائيلے دے او په خلقو باندے ئے فرض کړے دے.

امام جُوزي رحمه الله فتوٰی ده که چرته يو د تجويد معلم وي او د تجويد نه خلاف قرآن ښائي او اجرت پرے واخلي او قرآن مجيد غلط ختم کړي نو دا معلم د اُجرت اخستلو مستحق نه دي.

دا امام جُوزي رحمه الله دويمه فتوٰی ده که چرته ځوک د تجويد نه خلاف قرآن مجيد لولي او ځوک ورسره اوريدونکے دغه وخت کښي قسم اُکړي چه دا قرآن نه دے نو دغه کس په قسم کښي دروغ کيدلے نه شي.

شاه عبد العزيز دهلوي رحمه الله د ترتيل په تفسير کښي فرمائي چه دَ لغت په اعتبار سره د اوو (۷) ځيزونو خيال ساتل ترتيل دے

- هر يو حرف د خپل مخرج اصلي نه اداکول
- د وقف او ابتدا لحاظ ساتل
- آواز عمده کول او ښکلے کول
- آواز د ځائے مطابق اوچتول
- د دے حرکات صفا صفا اداکول

- شد او مد خیال ساتل
- د عذاب په آیتونو باندے دعا کول استغفار وئیل او د ثواب په آیتونو باندے د جنت سوال کول. د علماؤ د اقوالو نه معلومه شوه چه د تجوید سره قرآن مجید وئیل څومره ضروري دي.

مقدمه دکتاب

د دے کتاب په مقدمه کښې څلور خبرے دي.

تعارف رساله، وجه تالیف، ماخذ، مفید مشوره.

تعارف رساله: دے کتاب ته ئے نوم کیښودو جمال القرآن یعنی خائست د قرآن او په دے کتاب حاشیه لیکلے ده قاری اظهار احمد تهانوي رحمه الله یا قاري محمدشریف صاحب او د دے کتاب دمصنف نوم اشرف علي تهانوي رحمه الله دے.

وجه تالیف: یعنی د لیکلو وجه ئے دا ده چه زما محبوب و مکرم مولوي حکیم محمد یوسف صاحب مهتمم مدرسه قدوسیه ګنګوه د دے د لیکلو فرمائیل کړے وو د دے کتاب عنواناتو ته ئے لفظ د لمعے ورکړو نه د فصل او نه دٔ باب ځکه چه فصل وائي جداوالي ته، اوباب وائي دروازے ته او لمعه وائي رنړا ته او دا کتاب هم د قرآن شریف د پاره یوه رنړا ده او بل دا چه په دي کتاب کښي څوارلس لمعے مقرر کړے ځکه چه د دے تشبیه ئے د څوارلسمے شپے د سپوږمۍ سره ورکړه ځکه چه د څوارلسمے شپے سپوږمۍ مکمل رنړا کوي نو دغه شان که دا څوارلس لمعے څوک یادے کړي نو دا هم د قرآن شریف د پاره مکمل رنړه ده.

ماخذ: ماخذ د جمال القرآن د څلورو کتابونو نه رانقل شوے دے.

- حقیقة التجوید د دے کتاب د مصنف نوم دے مولانا قاري محمد صدیق خراساني رحمه الله.
- جهد المقل د دے کتاب د مصنف نوم دے علامه شیخ مرعشي رحمه الله.

✿ درة الفرید د دے کتاب د مصنف نوم دے شیخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله

✿ تعلیم الوقف د دے کتاب د مصنف نوم دے مولانا قاري عبد الله مکي رحمه الله دے د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په علم قراء ت کښی استاد وو د دهٔ خپل پلار بشیر خان صاحب سره د خپل وطن قائم ګنج نه مکے معظمے ته تشریف یوړلو او هلته ئے شیخ القراء ابراهیم سعد رحمه الله نه علم قراء ت زده کړو. او بیا هلته په مدرسه صولتیه کښي د ډیر وخت پورے صدر مدرس وو د ده په شاګردانو کښې مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله او قاري عبد الرحمن مکي رحمه الله او مولانا قاري عبد الوحید خان صاحبان دي او بیا په مکه معظمه کښي وفات شو.

مفید مشوره: هغه مشوره دا ده چه پدے کتاب باندے ځان خه پوهه کول پکار دي او د هر خیز تعریف مخارج او صفات خه طریقے سره یادول پکار دي.

اوله لمعه په بیان د تعریف د تجوید کښي ده

لغوي معني: د تجويد لغوي معني ده. **تَحْسِيْنُ الشَّيْءِ.** (خائسته کول د يو څيز)

اصطلاحي معنی: **هُوَ أَدَاءُ الْحُرُوْفِ مِنْ مَخَارِجِهَا الْخَاصَّةِ لَهَا مَعَ جَمِيْعِ صِفَاتِهَا اللَّازِمَةِ وَالْعَارِضَةِ بِسَهُوْلَةٍ وَ بِغَيْرِ كُلْفَةٍ حَتّٰى يَصِيْرُ ذٰلِكَ سَجِيَّةٍ بِهِ لَهُ.**

ترجمه: دا تجويد چه دے نو دا اداکول د حروفو دي د هغه خپلو خاصو مخارجو نه کوم چه د دے حروفو د پاره دي. سره د لحاظ ساتلو د ټولو صفات لازمؤ اود ټولو صفات عارضؤ نه په آسانتيا سره او بغير د تکلف نه يعني دومره چه محنت او کوشش وي چه صحيح قراءت او ادا د قاري عادت او فطرت او ملکه جوړه شي.

علامه جزري رحمه الله د تجويد تعريف داسے کړے دے. **وَهُوَ إِعْطَاءُ الْحُرُوْفِ حَقَّهَا مِنْ صِفَةٍ لَّهَا وَ مُسْتَحِقِّهَا.**

ترجمه: يعني دا تجويد چه دے دا ورکوي حروفو ته حق خپل د صفات لازمه او عارضه نه.

علامه شيخ مرعشي رحمه الله فرمائي. **هُوَ عِلْمٌ يُبْحَثُ فِيْهِ عَنْ مَخَارِجِ الْحُرُوْفِ وَ صِفَاتِهَا.** (جهد المقل صـ١٨)

ترجمه: دا يو داسے علم دے چه په دے کښي بحث کيږي د مخارجو د حروفو او د صفاتو د هغے نه.

نوټ: د تجويد او علم التجويد ترمينځه فرق ؟

❁ تجوید نوم دے د هغه عمل چه د هغے په کولو سره د قران مجید حروف او کلمات په صحیح تلفظ او عمدګئ سره ادا شي.

❁ علم التجوید هغه علم دے چه په هغے کښي د عمل د پاره څه اصول او قواعد بیانیږي یعني تجوید د عمل نوم شو او علم التجوید د علم نوم شو.

دویمه لمعه د لحن په بیان کښي ده

پدے لمعه کښی د تجوید ضد ذکر کیږي او د تجوید ضد لحن دے ځکه منطقیان وائي چه څیز په خپل ضد پیژندلے کیږي یعني د لحن معني او اقسام، صورتونه، مثالونه او د هغے حکم بیانیږي.

لحن په لغت کښي غلطئ خوش آوازئ، لب او لهجے ته وائي او په اصطلاح کښی قران کریم دتجوید نه خلاف لوستل، غلط لوستل او بے قاعدے لوستلو ته لحن وئیلے شي د لحن اطلاق په هر قسم غلطئ باندے کیږي خواه هغه غلطي که غټه وي او که وړه وي دا لحن بیا په دوه قسمه دے.

لحن جلي: لحن جلي ښکاره او غټے غلطئ ته وائي دے باندے هر څوک پوهیږي بیا لحن جلي په څلور قسمه ده.

❁ د یو حرف په ځائے بل حرف وئیل لکه **اَلْحَمْدُ** په ځائے **اَلْهَمْدُ** وئیل.

❁ د یو حرف زیاتول لکه **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ** په ځائے **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِي** وئیل.

❁ یو حرف کمول لکه **لَمْ يُوْلَدْ** په ځائے **لَمْ يُلَدْ** وئیل.

۞ حرکاتو سکناتو کښې غلطي کول لکه اِيَّاكَ (په زبر د كاف سره) په ځائے باندے اِيَّاكِ (په زير د کاف سره) وئيل، د اِهْدِنَا (په زير د همزے سره) په ځائے اَهْدَنَا (په زبر د همزے سره) وئيل، اَنْعَمْتَ (په سکون د ميم سره) په ځائے اَنْعَمَتَ (په زبر د ميم سره) وئيل وغيره.

داسے قسمه غلطو ته لحن جلي وائي.

حکم د لحن جلي: حرام دے ځکه چه پدے سره په کلام الله کښې تحريف راځي او په بعض ځايونو کښې ورسره معنى بدله شي چه مونځ هم ورسره فاسد شي د لحن جلي نه بچ کيدل ضروري دي.

لحن خفي: ديته وائي چه د حروفو ښائسته والي د پاره چه کومے قاعدے مقرر شوے دي د هغے دۀ قواعدو لحاظ او نه ساتلے شي هغه پکښې ادا نه شي. مثال (ر) د پاسه چه زبر يا پيش وي هغه به پُر (ډک) وئيلے شي او ته ئے باريک اوائے لکه صِرَاطَ اخفاء په ځائے کښې اخفاء او د مد غنے په ځائے کښې مد او غُنه اونه کړے شي وغيره داسے قسمه غلطو ته لحن خفي وائي د لحن خفي نه بچ کيدل هم ضروري دي.

حکم د لحن خفي: حکم د دے دادے چه دا قسمه غلطي کول مکروه دي او مونځ ورسره نه فاسديږي معنى ورسره نه بدليږي بلکه د حروفو حُسن ضائع کيږي شرعاً د دے غلطئ نه ځان ساتل مستحب دي فرض نه دي البته د قراؤ په اصطلاح کښې د دينه ځان ساتل ضروري دي د دے د پاره چه په تلاوت کښې عيب پيدا نشي.

دريمه لمعه د تلاوت د شروع کولو په بيان کښي ده

د قران مجيد شروع کولو نه مخکښي. أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ وئيل ضروري دي ځکه چه په قران مجيد کښي راځي. فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم

د استعاذے حکم: دا دے چه د اکثرو جمهورو علماؤ په نزد استعاذه سنت او مستحب ده ليکن په عرف او عادت د قراؤ کښي ضروري ده.

الفاظ د استعاذے: په دے باره کښی ډير اقوال دي.

..۱. أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ٥.

..۲. أَعُوْذُ بِاللّٰهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم دا دواړه الفاظ صحيح دي مګر قرآؤ اول له ترجيح ورکړے ده د دے نه علاوه په حديثو کښي نور کلمات د تعوذ هم ثابت دي.

تسميه ضروري ده اوکه په لوستو کښي سورت التوبة مخے له درشي بيا به تسميه نه وائے هلته درے وجهے دي (وقف، وصل، سکته) وقف په کښي بهتر دے اوکه چرے اول تلاوت د سورت براءت نه شروع کوے نو بيا استعاذه وئيل ضروري دي او بِسْمِ اللّٰهِ وئيلو کښي اختلاف دے.

د اکثر علماؤ په نزد بِسْمِ اللّٰهِ نه وئيل لکه ابن علبون ابن مخام، ابو محمد مکي په دے باندے اجماع هم نقل کړيده.

د بعضو حضراتو لکه علامه سخاوي صاحب او ابو الفتح بن شيطا په قول د تبرک د پاره لوستلے شي مګر د ابتداء سورت په حيثيت سره نشي لوستلے.

د اکثرو علماؤ دلائل د سورت براءت په شروع کښې د بِسۡمِ اللّٰهِ نه وئیلو وجه دا ده چه ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم اتفاق سره د دے اول کښې بِسۡمِ اللّٰهِ نه ده لیکلے شوے ځکه چه د نورو سورتونو په شان د سورت براءت شروع کښې بِسۡمِ اللّٰهِ نده نازله شوے.

حضرت علي رضي الله عنه نه منقول دي چه بِسۡمِ اللّٰهِ کښې امان دے او دا سورت د تورے په ذریعه دامان د پاره نازل شوے دے دغه رنګ بِسۡمِ اللّٰهِ ذریعه د امان کښی رحمت دے او سورت براء ت کښې عذاب او غصه ده نو رحمت او عذاب او غصه جمع کیدل مناسب نه وؤ نو ځکه ئے بِسۡمِ اللّٰهِ نه ده لیکلے دغه رنګے بله وجه دا هم ده چه د سورت براءت او سورت انفال مضمون یو دے چه جهاد في سبیل الله دے پدے وجه بِسۡمِ اللّٰهِ نده لیکلے.

حضرت مولانا قاري اظهار احمد تهانوي رحمه الله په جواهر النقیه کښی فرمائي چه پدے مسئله باندے قریب قریب د سلفو او د خلفو اجماع ده چه په ابتداء براء ت کښې بِسۡمِ اللّٰهِ نه دي وئیل پکار.

د تلاوت د شروع کولو د پاره درې طریقې دي

- ابتداء تلاوت ابتداء سورت.
- ابتداء تلاوت درمیان سورت.
- ابتداء سورت درمیان تلاوت.

ابتداء تلاوت ابتداء سورت: د یته وائي چه مخکښې دے تلاوت نه وي کړے او د سورت د سر نه شروع کړے لکه الٓمٓ دے کښې څلور وجهے

جوړېږي.

فصل کُل، وصل کُل، فصل اول وصل ثاني، وصل اول فصل ثاني.

فصل کُل: فصل کُل دیته وائي چه تعوذ، او تسمیه، او سورت په جداجدا ساه سره اوائي.

وصل کُل: وصل کُل دیته وائي چه تعوذ او تسمیه او سورت دا ټول په یوه ساه اوائي.

فصل اول وصل ثاني: فصل اول وصل ثاني دیته وائي چه تعوذ په یوه ساه باندے اوائي او تسمیه او سورت په بله ساه باندے اوائي.

وصل اول فصل ثاني: وصل اول فصل ثاني دیته وائي چه تعوذ او تسمیه په یوه ساه باندے اوائي او سورت په جدا ساه اوائي. دا څلور وجهے پد یکښي جائز دي خو بهتر په کښي فصل اول وصل ثاني ده دا ځکه چه تعوذ د قران جز معلومیږي او تسمیه د سورت جز معلومیږي.

ابتداء تلاوت درمیان سورت: دیته وائي چه مخکښي دے تلاوت نه وي کړے او د سورت د مینځ نه شروع اوکړے لکه **أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى** نه شروع کړے نو پدے کښي تعوذ او تسمیه اوائے نو په دے کښي هم څلور وجهے جوړیږي.

۞ فصل کُل ۞ وصل کُل ۞ فصل اول وصل ثاني ۞ وصل اول فصل ثاني.

په دے کښي دوه وجهے جائز دي او دوه ناجائز دي او جائز پکښي دا دي.

فصل کُل. وصل اول فصل ثاني.

ناجائز پکښي دا دي وصل کُل. فصل اول وصل ثاني.

دا ځکه ناجائز دي چه تسمیه د سورت جز دے او تا دلته آیت سره اولګوله

او كه تسميه پكښي نه وائے نو بيا يا وصل دے يا فصل دے فصل په كښې بهتر دے وصل د پاره شرطونه دي هغه دا چه داسے آيت نه به شروع نه وي چه هلته د الله ذاتي نوم راغلي وي لكه الله يا صفتي نوم وي لكه اَلرَّحْمٰنُ يا داسے ضمير وي چه الله طرف ته راجع وي لكه اِلَيْهِ يُرَدُّ يا د نبي نوم راغلے وي لكه مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ داسے ځايونو كښې تعوذ سره وصل ناجائز دے اوكه د شيطان يا د فرعون نوم په سر كښې راغلے وي نو هلته كښې تعوذ سره وصل جائزبلكه بهتر دے لكه اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ. وَقَالَ فِرْعَوْنُ.

ابتداء سورت درميان تلاوت: ديته وائي چه تلاوت دے شروع كړې وي او مخے ته درله بل سورت راشي لكه وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ. دے كښي هم دغه څلور وجهے جوړيږي درے پكښي جائز دي يوه پكښې ناجائزه ده.

۞ فصل كُل ۞ وصل كُل ۞فصل اول وصل ثاني دا جائز دي او ناجائز وجه دا ده وصل اول فصل ثاني دا ځكه ناجائزه ده چه بِسْمِ اللهِ د دويم سورت جز دے او تا اول سورت سره اولګوله.

خلورمه لمعه د مخارجو په بيان کښي ده

د تجويد ړومبے جز مخارج دي مخارج جمع د مخرج ده او مخرج وائي د حرف د راوتلو ځائے ته، د حرف لغوي معنی ده کناره او په اصطلاح د قرآؤ کښي

هُوَ صَوْتٌ يَعْتَمِدُ عَلٰى مَخْرَجٍ مُحَقَّقٍ أَوْ مُقَدَّرٍ

ترجمه: دا حرف يو آواز دے چه تکيه يے لګولے ده په مخرج معلوم يا نا معلوم باندے د حروف هجاء اصليه تعداد فصيح عربي زبان کښي بقول مشهور يو کم ديرش دي.

د حروفو اقسام: حروف اولاً په دوه قسمه دي.

+ حروف مباني + حروف معاني.

حروف مباني: هغه حروف دی چه د هغے نه کلمات قرآني جوړيږي يعني د الف نه تر (ی) پورے ټول حروف دي او ديته حروف مفردات او حروف تهجي هم وائي.

حروف معاني: يعني هغه حروف چه په جمله کښي استعمال شي نو معني هم ورکوي لکه **اِنَّ اَنَّ اِذْ مَنْ فِيْ** وغيره. ديته حروف المعاني او حروف کلمي هم وائي ليکن دلته زمونږه مقصد حروف مباني بيانول دي.

حروف مباني په دوه قسمه دي. حروف اصليه او حروف فرعيه.

حروف اصليه: هغه حروفو ته وائي چه د خپل مخرج اصلي نه اداکيږي لکه حروف حلقيه، حروف لهاتيه، حروف شجريه، حافيه، طرفيه، نطعيه، لثويه، صفيريه، شفويه، وغيره.

حروف فرعيه: يعنی هغه حروف **مَا يَتَرَدَّدُ بَيْنَ الْمَخْرَجَيْنِ**

چه د دوه مخارجو په مينځ مينځ کښي وي يعني د دوؤ حروفو اصليو په مينځ کښي ادا کيږي يا داسے حروف چه خپل مخرج اصلي او صفات لازمه پکښي پريږدي هغے ته حروف فرعيه وائي.

حروف فرعيه دا دي.

- همزه مسهله: ءَاَعْجَمِيٌّ
- الف مماله: مَجْرٖىهَا
- الف مفخمه: قَالَ
- لام مفخمه: مِنَ اللّٰهِ
- نون مخفاة: اَنْفُسَكُمْ
- ميم مخفاة: يَعْتَصِمْ بِاللّٰهِ
- صاد مشممه: اَلصِّرَاطَ
- ياء مشممه: قِيْلَ لَهُمْ (المرشد)

د حروفو د ترتيب بيان: د حروفو د ترتيب بيان په درے قسمه دے.

❀ اهل لغت ❀ اهل حساب ❀ اهل مخارج.

اهل لغت: ا ب ت ث ج وغيره يعنى د الف نه تر يا پورے دا ترتيب د لغت او عربيت په اعتبار سره دے.

اهل حساب: يعني دا ترتيب عرب د خپل تعداد او شمار د پاره استعمالوي او د هر يو حرف د پاره ئے خپله هنسه مقرر کړے ده لکه **اَبْجَدْ هَوَّزْ، حُطِّيْ، کَلِمَنْ، سَعْفَصْ، قَرْشَتْ، ثَخَّذْ، ضَظَّغْ،**

ترتيب اهل مخارج: يعني كوم ترتيب چه علماء تجويد عموماً د مخارجو په لحاظ سره بیانوي لکه اول حروف جوفیه بیا حلقیه بیا لسانیه او شفویه بیا حروف غنّه دیته ترتیب مخارج وائي.

د مخارجو دوه قسمه دي

مخرج محقَّق: د مخرج محقق تعریف دا دے. **هُوَ جُزْءٌ مُّعَيَّنٌ مِنْ أَجْزَآءِ الْحَلْقِ أَوِ اللِّسَانِ أَوِ الشَّفَتِ.**

یعني مخرج محقق هغے ته وائي چه د هغے د پاره په حلق لسان شفت کښې یو معیَّن خاص حصه وي د دے تعداد پنځلس دے چه حلق لسان شفت کښې موجود دي.

مخرج مقدر: تعریف ئے دا دے. **هُوَ مَا لَيْسَ لَهُ جُزْءٌ مُّعَيَّنٌ مِنْ أَجْزَاءِ الْحَلْقِ أَوِ اللِّسَانِ أَوِ الشَّفَتِ.**

مخرَج مقدر هغے ته وائي چه دا حلق، لسان او شفت کښې نه وي لکه خیشوم چه دے اوکه حلق، لسان او شفت کښې وي خو جزء معین به نه وي لکه جوف د هن چه دے د دے مخرج مقدر تعداد دوه دي- (خیشوم، جوف دهن)

دا درے ځایونه حلق، لسان او شفت ئے ځکه خاص کړل چه دا اصول مخارج دي او اصول مخارج هغے ته وائي چه په هغے کښې د یو نه زیات مخارج وي لکه په حلق کښې درے مخارج دي حروف ترے شپږ ادا کیږي دغه شان په لسان کښې لس مخارج دي او حروف ترے اتلس ادا کیږي او په شونډو کښې دوه مخارج دي حروف ترے څلور ادا کیږي او د پوزے نلکے

نه اخفاء والا نون ادا کیږي او د خولې خالي حصې نه حروف مده ادا کیږي.

مخارجو کښې درې مذهبونه دي

- خلیل بن احمد فراهیدي صاحب د ده په مذهب باندې ټول مخارج اوولس دي.
- امام سیبویه صاحب د ده په مذهب باندې ټول مخارج شپاړس دي.
- امام فراء صاحب د ده په مذهب باندې ټول مخارج څوارلس دي.

لیکن مشهور مذهب په کښې امام خلیل رحمه الله دے علامه جزري رحمه الله فرمائي: مَخَارِجُ الْحُرُوْفِ سَبْعَةَ عَشَرَ. "عَلَى الَّذِيْ يَخْتَارُهُ مَنِ اخْتَبَرَ"

ترجمه: مخارج د حروفو اوولس (۱۷) دي په قول د هغه کس چه عوره کړے شوے دے او اختیار کړے شوے دے.

وجه د اختلاف په کښې دا ده چه خلیل صاحب رحمه الله په حروف مده کښې د ضعف اعتماد لحاظ کړے دے او د حروف مده د پاره ئے جدا مخرج جوف دهن بیان کړے دے.

بیا امام سیبویه او امام فراء صاحب د حروف مده د ضعف اعتماد لحاظ نه دے کړے او د دے د پاره ئے یو مخرج بیان کړے دے. الف ئے د همزے سره ملاؤ کړے دے او ي ئے د شجریه سره ملاؤ کړے ده او واؤ ئے د شفویه سره ملاؤ کړے دے.

بیا خلیل صاحب او سیبویه صاحب د (ل ن ر) د قرب لحاظ ندے کړے او دے د پاره ئے جدا مخرج بیان کړے دے او امام فراء صاحب د (ل ن ر) د قرب لحاظ کړے دے او د دے د پاره ئے یو مخرج بیان کړے دے.

مخرج ۱: جوف دهن د خولے خالي حصه ده د دے نه درے حروف ادا کيږي (الف مده، واؤ مده، يائے مده) الف مده هغے ته وائي چه الف ساکن وي او مخکښي ترے حرف باندے زبر وي مثال قَالَ واؤ مده هغے ته وائي چه واؤ ساکن وي او مخکښے ترے حرف باندے پيش وي مثال الْمَغْضُوْبِ، يَقُوْلُ.

يائے مده هغے ته وائي چه يا ساکن وي او مخکښے ترے حرف لاندے زير وي مثال فِيْهِ الف به ساکن بے جهټکے وي لکه صِرَاطَ او ساکن جهټکے والا ته همزه وائي دے درے واړه حروفو ته يعني (الف مده، واؤ مده، يائے مده) ته هوائيه، جوفيه، جويه خفيه، ضعيفيه وائي.

وجه تسميه: مده ځکه ورته وائي چه پدے باندے مد کيږي هوائيه ورته ځکه وائي چه په هوا کښي ادا کيږي. جوفيه جويه ورته ځکه وائي چه دا د خولے خالي حصے نه ادا کيږي. خفيه ورته ځکه وائي چه دا په پټه ادا کيږي ضعيفيه ورته ځکه وائي چه دا په کمزورئ سره ادا کيږي او واؤ چه ساکن وي مخکښی ترے زبر وي ديته واؤ لين وائي مثال خَوْفٍ چه ي ساکن وي او مخکښی ترے زبر وي نو ديته يائے لين وائي مثال ضَيْفٍ.

د الف او د همزه په مينځ کښي شپږ فرقونه دي

- الف باندے حرکات نه شي راتلے او په همزه باندے ټول حرکات راتلے شي.
- الف باندے جزم نه شي ليکلے همزه باندے ليکلے شي.
- الف اکثر د کلمے په آخر کښي رازي او کله کله په مينځ کښي راځي

مثال قَالَ، فِيْهَا، عَلَيْهَا، حَالَ وغيره او همزه په درے وارو ځايونو کښې راځي مثال اَمَرَ، قَرَأَ سَاَلَ.

۞ د الف آواز په هوا کښې خوريږي د همزه آواز به کلک او ګران وي کله چه وائي په دغه وخت سينه زور اخلي او مخرج کښې اواز بنديږي.

۞ الف هميشه ساکن بے جهټکے وي لکه قَالَ او همزه ساکن جهټکے والا به وي لکه بَأْسَ.

۞ الف د خپل ضعف د وجے نه حرکات او سکون نشي برداشت کولے او همزه ئے برداشت کولے شي.

مخرج ۲: اقصائے حلق يعنی د حلق آخری حصه کومه چه سينے طرفته نزدے ده د دينه (ء ه) ادا کيږي.

مخرج ۳: وسط حلق يعني د حلق مينځ د دينه (ع ح) ادا کيږي.

مخرج ۴: ادنائے حلق يعني د حلق هغه حصه کومه چه خلے طرف ته نزدے ددی نه (غ خ) ادا کيږي دے شپږو حروفو ته حروف حلقي وائي حلقي ورته ځکه وائي چه د حلق نه ادا کيږي حروف حلقي شپږ دي (ء ه ع ح غ خ) لکه د فارسئ يو شاعر پدے شعر کښې جمع کړي دي. حروف حلقي شش بود اے نورعين همزه ها و حا خا و عين غين

د دے نه پس لساني مخارج شروع کيږي نو پکار دا دي چه مونږ د ژبے حصے او پيژنو. ژبه تقريباً په لسو حصو کښې تقسيم شويده.

ظهر السان: د ژبے د سر نه واخله تر آخره پورے دغه د پاسه حصه کومه چه د تالو مقابل ده ديته عربئ کښې ظهر اللسان يا اردو کښې پشت زبان وائي.

بطن اللسان: يعني د ژبے خيتے ته وائي.

طرف اللسان: د ژبې هغه حصه کومه چه د یو ضواحک نه تر بل ضواحک پورې ده او د درې غاښونو مقابل ده.

راس اللسان: د ژبې سوکې والا حصه کومه چه د ثنایا علیا غاښونو مقابل ده او کومه چه د ثنایا سفلی مقابل ده هغې ته اسلة اللسان هم وائي.

ناحیة اللسان: د ژبې سر کښې هغه تیره ځائ یا غاړه کومه چه د ثنایا رباعي مقابل ده.

حافه لسان: د ژبه هغه ډډه کومه چه ضواحک طواحن نواجذ مقابل ده.

اقصائے حافه: کومه حصه چه حافې کښې حلق ته نزدې ده او دنواجذ مقابل ده.

وسط حافه: د حافه لسان هغه حصه کومه چه د طواحن غاښونو مقابل ده.

ادنائے حافه: د حافه لسان هغه حصه کومه چه ده ضواحک مقابل ده.

اقصائي لسان: د ژبې د پاسه طرف والا حصه کومه چه د لهات مقابل ده.

نوټ: حافه لسان کښې ښئ طرف والا حافې ته حافه یمنٰی ګس طرف. والا حافې ته حافه یسرٰي وائي (توضیحات سیفیه)

مخرج ۵: هر کله چه د ژبې ویخ بره تالو سره اولږي د هغې نه (ق) ادا کیږي.

مخرج ۶: شپږم مخرج د "ک" دے د "ق" مخرج سره نزدې هر کله چه د ژبې ویخ بره تالو سره اولږي لږ خولې طرفته ته د هغې نه "ک" ادا کیږي دے دواړو "ق" او "ک" ته لهویه یا لهاتیه وائي ځکه چه لهات په عربئ کښې هغې وړې ژبې ته وائي کومه چه بره تالو سره ده دا حروف د هغې ځائے نه ادا کیږي دیته لهویه وائي.

مخرج ۷: هر کله چه ده ژبې مینځ مقابل بره تالو سره اولګي د هغې نه

درے حروف ادا کیږي (ج ش ی) غیر مده د غیر مده قید سره یائے مده خارج شوه ځکه هغه د خولے خالي حصے نه ادا کیږي یعني یائے متحرکه یائے لین ترے مراد دے، دے حروفو ته شجریه وائي شجر اونے ته وائي د اونے مینځ هم لوند وي دغه شان د ژبے مینځ هم لوند وي.

یا ورته شجریه ځکه وائي چه دا حروف د **شجر الفم** نه ادا کیږي شجر الفم د دواړو ژامو لګیدو په وخت کښي هغے کهلاؤ ځائے ته وائي دا حروف هم د هغے ځائے نه ادا کیږي.

فائده: مخکښي چه کوم مخارج راروان دي په هغے کښي بعض دغاښونو سره تعلق ساتي نو اول د غاښونو نومونه یادول ضروري دي عام طور باندے د انسان په خولے کښي دوه دیرش غاښونه دي مخامخ بره دوو غاښونو ته ثنایا علیا وائي لاندے دوو ته ثنایا سفلي وائي بیا ثنایا سره خوا کښي هر طرف ته یویو غاښ یعني څلورو غاښونو ته رباعیات وائي رباعیات څلورو ته وائي دا هم څلور دي د رباعیات معنی دا اودریدل پدے کښي هم څیزونه او دریګي قواطع ورته هم وائي او د قواطع معنی ده کټ کیدل پدے سره هم څیزونه کټ کیږي بیا رباعیات سره خوا کښي هر طرف ته یویو غاښ یعني څلورو غاښونو ته انیاب وائي انیاب معنی ده ماتیدل پدے سره هم څیزونه ماتیږي.

بیا انیاب سره خواکښي هر طرف ته یویوغاښ یعني څلورو غاښونو ته ضواحک وائي ضواحک جمع د ضحک ده په معنی د خندا سره او دا هم د خندا په وخت کښي ښکاره کیږي.

بیا ضواحک سره خوا کښي هر طرف ته درے درے غاښونو ته یعني دولس غاښونو ته طواحن وائي د طواحن معنی میده کیدل په دے سره هم څیزونه

ميده كيږي بيا طواحن سره خوا كښي بالكل په آخر كښي يويو غاښ يعني ځلورو غاښونو ته نواجذ وائي د دے معنى ده عقل كامل كيدل پدے سره هم عقل كامل كيږي يعني عام طور سره چه دا غاښونه د چا راؤخيژي نو بيا عمر داسے حد ته او رسيږي چه عقل كامل شي.

ضواحک، طواحن، نواجذ ته اضراس هم وائي.

مخرج ۸: حافه لسان (د ژبے ډډه) كله چه د اضراس عليا د ويخونو سره اولګي نو د دينه "ض" ادا كيږي.

ښي طرف او د ګس طرف هر يو نه هم ادا كيږي او دواړو نه په يو ځل هم ادا كيږي خو ډير مشكل دے البته ګس طرف نه ادا كول آسان دي او دواړو طرفونو نه په يو ځل ادا كول هم صحيح دي ليكن ډير مشكل دي او ديته حافيه، ضرسيه، مستطيله، اصعف الحرف وائي.

وجه تسميه

- حافيه ورته ځكه وائي چه دا د ژبے د حافے نه ادا كيږي.
- ضرسيه ورته ځكه وائي چه دا د اضراس نه ادا كيږي.
- مستطيله ورته ځكه وائي چه د دے مخرج ټولو كښي طويل دے.
- اصعف الحرف ورته ځكه وائي چه په ټولو حروفو كښي مشكل حرف دے مخرجي لحاظ سره هم صفتي لحاظ سره هم.

مخرج ۹: هر كله چه د ژبے غاړه سره د لږے حصے د حافه نه ثنايا عليا رباعي انياب ضواحک د اورو سره اولږي لږ مائيل تالو طرف ته نو د هغے نه "ل" ادا كيږي كه ښي طرف نه وي كه ګس طرف نه وي خو د ښي طرف نه ادا كول آسان دي دواړو طرفونو نه ادا كول هم صحيح دي خو مشكل دي.

مخرج ۱۰: د لام د مخرج سره نزدے هر کله چه د ژبے غاړه ثنايا عليا رباعي انياب د اورو سره اولږي هغے نه "ن" ادا کيږي پدے کښي حافه او ضواحک داخل نه دي.

مخرج ۱۱: دا هم د "ن" د مخرج سره نزدے هر کله چه د ژبے غاړه ثنايا عليا رباعي د اورو سره اولګي هغے نه "ر" ادا کيږي په را کښې پښت زبان هم داخل دے "ل ن ر" ته طرفيه او ذلقيه وائي.

نوټ: ليکن راء مفخم کښي زيات اعتماد د ژبے سر والا پښت باندے او راء مرقق يا مرقق کښي د ژبے په نوک باندے وي او صحيح ادا په دے باندے شاهد عدل دے پس د نون او د راء په مخرج کښي فرق دے. لهذا دا چه نون کښي د دريو غاښونو دخل دے او په راء کښي د دوؤ غاښونو دخل دے (کمال الفرقان).

مخرج ۱۲: هر کله چه د ژبے سر د ثنايا عليا د ويخونو سره اولګي د هغے نه (ط د ت) ادا کيږي دے درے حروفو ته نطعيه وائي ځکه چه نطع د ثنايا عليا ويخونو کښي بره کرخو ته وائي دا حروف هم دهغه ځائے نه ادا کيږي.

مخرج ۱۳: هر کله چه د ژبے سر د ثنايا عليا د سرونو سره اولږي هغے نه (ظ ذ ث) ادا کيږي دے درے حروفو ته لثويه وائي لثه يا لِثويه د ثنايا عليا په سرونو کښي کندو ته وائي دا حروف هم د هغه ځائے نه ادا کيږي.

مخرج ۱۴: هر کله چه د ژبے سر د ثنايا سفلیٰ د غاړو سره اولګي سره د لږ اتصال د ثنايا عليا نه د هغے نه (ص ز س) ادا کيږي دے درے حروفو ته صفيريه وائي صفير معنی ده تيز آواز د شپيلي په شان د مرغۍ دے دے کښي هم دغه شان آواز اوځي.

مخرج ۱۵: هر کله چه دلاندے شونډے خیته د ثنایا علیا سرونو سره اولږي د هغے نه (ف) ادا کیږي.

مخرج ۱۶: دواړو شونډو نه (ب م و) ادا کیږي غیر مده یعني واؤ لین او واؤ متحرک ترے مراد دے خو پدے درے حروفو کښ فرق دے. (ب) د دواړو شونډو د لوندے حصے نه ادا کیږي دیته بحري وائي م د دواړو شونډو د اوچے حصے نه ادا کیږي ددے وجے نه (م) ته برّي وائي.

(و) د دواړو شونډو د نا تمام ګول کیدو نه ادا کیږي دے ځلورو حروفو ته یعني (ب م و ف) ته شفویه وائي شفتین شونډو ته وائي دا هم د شونډو نه ادا کیږي.

مخرج ۱۷: خیشوم د پوزے نلکے ته وائی د دے نه غنّه ادا کیږي.

سوال ۱: مصنف رحمه الله د غُنے د پاره خیشوم مخرج مقرر کړے دے حالانکه غنه صفت دے او مخارج خو حروفو د پاره دي ؟

جواب: دلته د سوال دوه جزونه دي د غنے نه مراد دلته یا حرف دے یا صفت دے

(۱) که دلته د غنے نه مراد حرف وي نو حروف خو ټول پوره شول بیا ولے زیاتي مخرج بیان شو نو جواب ورکوي چه دلته د حرف نه مراد حرف فرعي دے چه هغه نون او میم مخفاة دے.

ځکه چه د نون مخفاة او میم مخفاة بیا د خپل مخرج اصلي نه نه ادا کیږي یعني نون بیا د خپل مخرج طرف لسان باندے اعتماد ډیر قلیل وي بلکه د نون اکثر ذات خیشوم ته منتقل شي دغه شان میم بیا د خپل مخرج اصلي نه کامل نه ادا کیږي بلکه اعتماد ئے په مخرج یعني شفت باندے قلیل شي او خیشوم ته منتقل شي نو دلته د غنے نه مراد زماني بطور ذات یعني غنه

حرفي ده.

(۲) دويم دا كه دلته دغنے نه مراد صفت وي نو صفات خو هم د خپل صفت سره په مخرج کښي ادا کيږي.

جواب دا ورکوي چه صفات په دوه قسمه دي يو صفات اصليه دي چه هغه د خپل موصوف سره په خپل مخرج کښي ادا کيږي.

لکه همس، جهر، شدت، رخوت، وغيره او بل صفات فرعيه دي چه هغه د خپل موصوف سره په خپل مخرج کښي نه ادا کيږي لکه صفت استعلاء، اطباق، غنه وغيره نو که دلته د غنے نه مطلب حرف واخلے نو هغه به حرف اصلي نه وي بلکه حرف فرعي به وي لکه نون مخفاة او ميم مخفاة او که د غنےنه مطلب صفت واخلے نو هغه به صفت اصليه نه وي بلکه صفات فرعيه به وي يعني دلته غنه صفتي غنه حرفي ده چه د خپل موصوف سره مخرج اصلي کښي نه ده ادا شوے بلکه خيشوم نه ادا شو (والله اعلم)

د مخرج معلومولو او د حرف صحيح ادا کولوطريقه دا ده چه هغه حرف به ساکن کړے او مخکښې به ترے همزه متحرکه راوړے او اداء به ئے کړے چه کوم ځائے کښي آواز ختم شي نو دغه د دے حرف صحيح مخرج دے لکه. اَقْ د حروفو صحيح کولو طريقه "بَبِبُبَالَکَ مِنَ الْمُبُبِ مُبَاباً وَّمُبَاباً بَبُبَانِ فَقَدْ يَبُباً وَّاغْفِرْ يَبُباً".

دغه شان په دے طريقه باندے هر مشکل حرف صحيح کيږي.

پنځمه لمعه د صفاتو په بيان کښي

پنځمه لمعه د صفات لازمه په بيان کښي ده چه دا د تجويد دويم جز دے د مخارجو د بيان نه پس مصنف رحمه الله په صفاتو کښي شروع اوکړه د مخارجو بحث ئې ځکه په صفاتو باندے مقدم کړو چه مخارج د حروفو د پاره په منزله د ذات دي او ذات مقدم وي په صفت باندے د صفاتو لفظي او معنوي بحث شروع کولو نه مخکښي پنځه خبرے پيژندل ضروري دي.

١ د صفت لغوي او اصطلاحي تعريف.

٢ د صفاتو اقسام.

٣ د صفات لازمه تعداد.

۴ د صفات لازمه دوه اقسام.

۵ په هر حرف کښي د صفاتو معلومولو طريقه.

د صفت لغوي تعريف: مَا قَامَ بِشَيْءٍ مِّنَ الْمَعَانِيْ كَالْعِلْمِ وَالسَّوَادِ وَالْبِيَاضِ

ترجمه:هغه دے چه قائم وي په شي پورے د معانيو نه لکه د علم تور والے سپينوالے.

د صفت اصطلاحي تعريف: اَلصِّفَةُ هِيَ كَيْفِيَّةٌ لَّاحِقَةٌ لِلْحُرُوْفِ عِنْدَ حُصُوْلِهٖ فِي الْمَخْرَجِ مِنَ الْهَمْسِ وَالْجَهْرِ وَالْغُنَّةِ وَالْاِدْغَامِ وَالْاِخْفَاءِ وَ نَحْوِهَا.

ترجمه: دا صفت يو طريقه ده چه لګيدلے وي حروفو پورے په وخت د ادا کولو په مخرج کښي لکه همس، جهر، ادغام، اخفاء غنّه مد وغيره.

صفات اصلیه یعني دا هغه صفات دي چه د خپل موصوف حرف سره خپل مخرج اصلیه کښې ادا کیږي. لکه همس جهر شدت رخوت.

صفات فرعيه د دے دوه تعريفونه دي.

۱ یعني هغه صفات چه د خپل موصوف حرف سره په خپل مخرج اصلي کښې نه ادا کیږي بلکه یل ځائے نه ادا شي لکه اطباق استعلاء، تفشي، غنه وغیره.

۲ هغه صفات چه د دوو(۲) صفات کامله اصليه په مينځ کښې واقع شي لکه (توسط) یا صفات په دوه قسمه دي (صفات لازمه، صفات عارضه).

صفات لازمه: هِيَ كَيْفِيَّةٌ لَازِمَةٌ لِلْحُرُوْفِ عِنْدَ حُصُوْلِهِ فِي الْمَخْرَجِ فِي جَمِيْعِ أَحْوَالِهِ سَوَآءٌ كَانَ سَاكِنًا أَوْ مُتَحَرِّكًا مِنَ الْهَمْسِ وَالشِّدَّةِ وَالْجَهْرِ وَنَحْوِهَا.

ترجمه: دا هغه طريقه ده چه لازمه وي د حروفو سره په وخت د ادا کولو په مخرج کښې په هر حالت کښې برابره خبره ده که دغه حرف ساکن وي که متحرک وي لکه همس جهر شدت رخوت استعلاء، اطباق قلقله وغیره.

دا صفات لازمه هر حرف کښې په هر حالت کښې به خامخا موجود وي د صفات لازمه په نه ادا کولو باندے د حرف ذات ختميږي يا حرف ناقص ادا کیږي لکه په حرف صاد کښې استعلاء اطباق نه ادا کولو سره د صاد نه سين جوړيږي او په حرف باء کښې قلقله نه کولو سره يو عجمي حرف د درے نقطو والا "پ" ادا کیږي په دے وجه دے صفاتو ته صفات لازمه، ذاتيه، مميزه،

مقومه او ضروريه وائي يعني هرحالت کښي د حروفو په ذات کښي داخل وي او د يو مخرج نه دوه يو شان حروف ادا کولو کښي تميز فرق راوستونکي او حروف برابرونکي او سيده کولو والا ضروري لازمي صفات وي.

صفات عارضه: هِيَ كَيْفِيَّةٌ عَارِضَةٌ لِلْحُرُوْفِ عِنْدَ حُصُوْلِهِ فِي الْمَخْرَجِ فِي بَعْضِ الْحُرُوْفِ فِي بَعْضِ أَحْوَالِهِ مِنَ الْغُنَّةِ وَالْإِدْغَامِ وَالْإِظْهَارِ وَالْإِخْفَاءِ.

ترجمه: دا يو ه طريقه عارضه ده په مخرج کښي حروفو سره يو ځائے کيږي په بعض حروفو کښي په بعض حالاتو کښي وي لکه غنه زماني ادغام، اظهار، اخفاء، وغيره دا صفات عارضه کچرته په يو حرف کښي ادانشي نو د حرف په ذات کښي کمے زياتے خو نه رازي ليکن د حرف رونق او ښائسته والے او زينت ختميږي لکه غنه زماني، ادغام، اخفاء، مد فرعي، لام کښي ترقيق، تفخيم ادا نشي.

دے صفات عارضه ته محسنه محليه مزينه وائي.

محسنه مزينه ورته ځکه وائي چه حروفو کښي ښائست پيدا کوي. عارضه ورته ځکه وائي چه په بعض وخت کښي بعض حروفو کښي وي.

محليه ورته ځکه وائي چه دا صفات په خپل محل او مقام کښي ادا کيږي يا ورته محليه ځکه وائي چه دا د حلية السيف نه ماخوذ دے او حلية السيف د تورے نقش و نګار ته وائي او دے سره هم د الفاظو نقش و نګار جوړيږي. (طاهر غني)

✪ صفات لازمه تعداد امام جزري رحمه الله په نزد او په اکثر کتابونو کښي صفات لازمه اولس دي او مصنف رحمه الله هم دا قول غوره کړے دے په کتاب فوائد المکيه کښي عبد الرحمن مکي رحمه الله صاحب مخوارلس

بيان کړي دي هغوي اذلاق، اصمات لين انحراف کم کړي دي.

❀ صفات لازمه دوه اقسام (صفات لازمه متضاده، صفات لازمه غير متضاده) دي.

صفات لازمه متضاده: يعني هغه صفات چه يوازے نه وي بلکه ذوات الاضداد وي يعني د هغه ضد او مقابل عقلاً اصطلاحاً او حقيقتاً موجود وي او د دے هر صفت چه د خپل ضد سره يو ځائے شي نو بيا د هغے نه يوه جوړه جوړيږي د دے اولس صفات لازمه نه لس متضاده دي يعني پنځه د پنځو ضد دي او د دے نه پنځه جوړے جوړيږي لکه

١ همس او جهر

٢ شدت، توسط، رخوت

٣ استعلاء، استفال

٣ اطباق، انفتاح

٥ اذلاق، اصمات

د دے متضاده صفاتو نه به هميشه په يو حرف کښې په هر حالت کښې په يو وخت خامخا پنځه صفات موجود وي.

ده يو کم ديرش حروفو کښې به په يو وخت د يوے جوړے دواړه صفات په يو حرف کښې نه جمع کيږي بلکه د متضاده جوړے نه به يو حرف کښې صرف يو صفت وي.

صفات لازمه غير متضاده: دا هغه صفات وي چه د ضد نوم ئے حقيقتاً او اصطلاحاً نه وي دا صفات به په بعض حروفو کښې نه وي دا صفات په صفات لازمه اولس (١٧) کښې آخري اوه (٧) دي لکه

۱ صفیر

۲ قلقله

۳ لین

۴ انحراف

۵ تکریر

٦ تفشی

۷ استطالت

په هر حرف کښي د صفاتو معلومولو طریقه: هغه داسې چه د متضاده په جوړه کښي د یو صفت په مجموعه کښي به دهغې حرف نوم او ګورئي که په مجموعه کښي وي نو خه ده که نه وي نو د جوړې دویم صفت کښي به خامخا وي نو پوهه شه چه دغه حرف کښي دغه صفات دي.

د صفاتو لفظي او معنوي بحث: دلته د صفاتو په خپلو حروفو باندې د اثر کولو او د معنو بحث شروع کیږي ځان پرې خه پوهه کړه.

صفات متضاده

❀ **همس:** لغوي معنی ده پستي او ښکته والې دلته ترې د آواز ښکته والې مراد دې دا صفت چه په کومو حروفو کښي موجود شي هغې حروفو ته مهموسه وائي مطلب د دې صفت دا دې چه ددې حروفو د ادا کولو په وخت کښي آواز په مخرج کښي داسې په کمزورئ سره اودریږي چه ساه جاري وي او آواز کښي یو قسم ښکته والې وي داسې حروف لس دي د هغې مجموعه ده. "فَحَثَّهُ شَخْصٌ سَكَتَ".

❀ **جهر:** معنیٰ اوچتوالې دلته ترې د آواز اوچتوالې مراد دې دا صفت

چه په کومو حروفو کښي موجود شي هغې ته مجهوره وائي مطلب د دے صفت دا دے چه د دے حروفو د ادا کولو په وخت آواز په مخرج کښي داسے په قوت سره اودریګي چه ساه جاري کيدل بندشي او په آواز کښي يو قسم اوچتوالے وي لکه مُحِيْطٌ شو مهموسه نه علاوه نور ټول حروف مجهوره دي همس او جهر د يو بل ضد او مقابل صفتونه دي چه مجموعه ئې ده " عَظُمَ وَزْنُ قَارِئٍ ذِيْ غَضٍّ جَدَّ طَلَبْ"

١ **شدت:** معنى سختي دا صفت چه په کومو حروفو کښي موجود شي هغې ته شديده وائي مطلب د دے صفت داد ے چه د دے حروفو د ادا کولو په وخت کښي آواز په مخرج کښي داسے په قوت سره اودريږي چه آواز جاري کيدل بند شي او په آواز کښي يو قسم سختي وي لکه حَرِيْقٍ شو داسے حروف اته دي د هغے مجموعه ده "اَجِدُكَ قَطَبْتَ".

٢ **رخوت:** معنى نرمي ده دا صفت چه په کومو حروفو کښي موجود شي هغے حروفو ته رخوه وائي مطلب د دے صفت دا دے چه د دے حروفو د ادا کولو په وخت کښي آواز په مخرج کښي داسے په کمزورئي سره او دريږي چه آواز جاري وي او په آواز کښي يو قسم نرمي وي لکه "مَنْفُوْشِ" شديده او متوسط نه علاوه نور ټول حروف رخوه دي شدت او رخوت هم د يو بل ضد دي چه د رخوت مجموعه ده "خُسْ حَظٌّ شَصْ هَزٌ وَضِغْثٍ يَاْفُذْ" شدت او رخوت په مينځ کښې يو بل صفت چه هغے ته صفت توسط وائي:

توسط: توسط معنى ده درميان دا صفت چه په کومو حروفو کښي موجود

شي هغې حروفو ته متوسطه وائي مطلب د دې صفت دا دې چه د دې حروفو د اداکولو په وخت کښې آواز نه پوره بند وي او نه پوره جاري وي داسې حروف پنځه دي چه د هغې مجموعه ده "لِنْ عُمَرْ"

سوال: دا دې چه تاسو د صفات لازمه تعداد خو تول اولس خودلې دې او د صفت توسط راوړلو سره خو ګُل تعداد اتلس جوړيږي نو دا فرق په څه بناء باندې دې ؟

جواب: دا دې چه صفت توسط څه کامل صفت ندې چه شدت ورته اوئيلې شي او يا ورته رخوت وئيلې شي بلکه د دې په مينځ مينځ کښې دې يعني نه خو کامل شدت دې او نه کامل رخوت دې بلکه څه پکښې شدت دې او څه پکښې رخوت دې نو ځکه دا په شمار کښې ندې حساب کړې شوې. نو صفات لازمه اولس دي اتلس نه دي ځکه چه دې صفت ته صفت فرعيه هم وائي.

بيا دويم اعتراض وارديږي چه هر کله شدت او رخوت خپل مينځ کښې متضاد او مقابل دي نو بيا حروف متوسطو کښې څنګه جمع کيدې شي.

جواب: دا دې چه حقيقت کښې اصل تضاد او په تقابل شدت کامله او په رخوت کامله په کښې دې يعني چه کوم حرف کښې شدت کامله وي هغه کښې به رخوت کامله بالکل نه وي او کوم کښې چه رخوت کامله وي هغه کښې به شدت کامله بالکل نه وي پاتې شو شدت ناقصه او رخوت ناقصه دا خو متضاد او مقابل نه دي چه په يو حرف کښې جمع نشي بلکه دواړه جمع کيدې شي او حروف متوسطو کښې همدغه صورت دې ښه پوهه شه (نهاية القول المفيد صـ٦٢)

اعتراض: کاف او ت په مهموسه کښې هم شمار کړې شوي دي حالانکه

دیکښي خو آواز بندیږي د دے وجے نه په شدیده کښي هم شمار کړې شوي دي یعني د شدت په وجه په کښي آواز بندیږي نو د همس په وجه پکښي ساه ولے جاري ده ساه هم بندیدل پکار دي ځکه چه ساه او آواز خو د یو بل سره لازم او ملزوم دي.

۱ **جواب:** دیکښي همس ضعیف دے او شدت پکښي قوي دے.

۲ **جواب:** دیکښي شدت د ابتدائي حالت په اعتبار سره دے او همس په کښي انتهائي حالت په اعتبار سره دے یعني د شدت د قوی والي په وجه په کښې آواز یکدم بند شي بیا د همس د ضعیف والي په وجه پکښي ساه لږه شان جاري وي خو ساه جاري کیدلو کښي دا خیال ساتل پکار دي چه آواز ورسره جاري نشي که آواز جاري شو نو دا حروف به بیا رخوه شي (کمال الفرقان).

❁ استعلاء معنی ده اوچتوالے خو دلته ترے د ژبے اوچت والے مراد دے دا صفت چه په کومو حروفو کښی موجود شي نو هغے ته مستعلیه وائي مطلب د دے صفت دا دے چه د دے حروفو د ادا کولو په وخت کښي همیشه د ژبے ویخ بره تالو طرف ته اوچتیږي. د هغے په وجه دا حروف غټ ادا کیږي لکه **مِرْصَادِ** شو داسے حروف اوه دي چه د هغے مجموعه ده **خُصَّ ضَغْطٍ قِظْ**.

اعتراض: په "ک" کښي هم د ژبے ویخ بره تالو طرف ته اوچتیږي نو دا هم په مستعلیه کښي شماریدل پکار دے.

جواب: په "ک" کښی د ژبے ویخ بره تالو طرف ته د مخرج په وجه اوچتیکي د صفت په وجه نه بل دا چه په "ک" کښې د ژبے ویخ او مینځ والا حصه

او چنيرې د دے وجه نه ئے په مستعليه كښي شمار نه كړل.

شبه مستعليه: هغه حروف چه حروف مستعليه سره په تفخيم كښي مشابه دي هغه درے دي.

۞ لفظ الله والا لام چه كله د هغے نه مخكښي حرف باندے زبر يا پيش وي نو هغه مفخم به وي.

۞ حرف "ر" چه كومو دولس (۱۲) حالتو كښي مفخم وي.

۞ الف چه د دے نه ماقبل كله حرف مفخم وي.

الف د ماقبل حرف تابع دے كه ماقبل حرف مفخم وي نو الف به هم مفخم وي كه ماقبل حرف مرقق وي الف به هم مرقق وي نو د تفخيم په حالت كښي دا درے شبه مستعليه دي.

يعني ديكښي هم استعلاء عارضي كيږي.

په حروفو مستعليه كښي د استعلاء پنځه درجات

(۱) چه حروف مستعليه مفتوح وي او مابعد ترينه الف وي لكه "**قَالَ، طَالَ**".

(۲) چه حروف مستعليه مفتوح وي ما بعد ترے الف نه وي لكه "**وَقَدْ خَلَقَكُمْ**".

(۳) چه حروف مستعليه مضموم وي لكه "**قُتِلُوا، مَغْضُوبِ، قُولُوا**".

(۴) چه حروف مستعليه مكسور وي لكه "**قِيلَ، صِرَاطَ، فِرْقٍ**".

(۵) چه حروف مستعليه ساكن وي لكه "**إِقْرَأْ، يَقْطَعُونَ، تُقْبَلُ**".

۞ **استفال:** د استفال معنى ده ښكته والے خو دلته ترے د ژبے ښكته

والې مراد دے دا صفت چه په کومو حروفو کښې موجود شي هغې حروفو ته مستفله وائي مطلب د دے صفت دا دے چه د دے حروفو ادا کولو په وخت کښې به د ژبے ویخ بره تالو طرف ته نه اوچتیږي بلکه لاندے به پاتے کیږي د هغې په وجه دا حروف باریک ادا کیږي لکه غَیْثٍ، مستعلیه نه علاوه نور ټول حروف مستفله دي دا دواړه صفتونه یعني استعلاء او استفال د یو بل ضد او مقابل صفتونه دي چه مجموعه ئے ده. اَنْشَرُ حَدِيْثٍ عِلْمَكَ سَوْفَ تَجْهَرُ بِذَا.

(۸) **اطباق:** د اطباق معنی ده انختل دا صفت چه په کومو حروفو کښې موجود شي هغې حروفو ته مطبقه وائي مطلب د دے صفت دا دے.

چه د دے حروفو د ادا کولو په وخت کښې به د ژبے مینځ بره تالو پورے انخلي لکه طَارِقٍ والا ط داسے حروف څلور دي. ص، ض، ط، ظ. دے حروفو کښې دوه درجے غټ والے دے یو د استعلا په وجه بل د اطباق په وجه د استعلاء په وجه په کښې د ژبے ویخ بره تالو طرف ته اوچتیږي د اطباق په وجه په کښې د ژبے مینځ بره تالو طرف ته اوچتیږي.

اعتراض: په "ج ش ی" کښې هم د ژبے مینځ بره تالو طرف ته اوچتیږي نو دا هم په مطبقه کښې شماریدل پکار دي.

۱ جواب: په "ج ش ی" کښې د مخرج په وجه د ژبے **مینځ بره تالو طرفته اوچتیږي** او اکثر حصه نه اوچتیږي.

۲ جواب: په حروف مطبقه کښې د ژبے ویخ او **مینځ دواړه بره تالو طرف ته اوچتیږي** او په "ج ش ی" کښې دواړه نه اوچتیږي.

﴾ **انفتاح:** د انفتاح معنی ده جدا والی دا صفت چه په کومو حروفو کښې موجود شي نو هغې حروفو ته منفتحه وائي مطلب د دے صفت دا دے چه د دے حروفو ادا کولو په وخت کښې به د ژبے مینځ د بره تالو نه جدا وي لکه "تَابُوتَ" خواه که د ژبے ویخ بره تالو سره لګي او که نه لکه چه په "ق" کښې لګي مطبقه نه علاوه نور ټول حروف منفتحه دي چه مجموعه ئے ده "مَنْ اَخَذَ وَجَدَ سَعَةً فَزَكَا حَقٌّ لَهُ شُرْبُ غَيْثٍ"

فائده: د ژبے ویخ بره تالو طرف ته د اوچتیدلو او نه اوچتیدلو انختلو او نه انختلو په اعتبار سره د حروفو درے قسمونه دي.

(۱) مستعلیه، مطبقه: داسے حروف څلور دي "ص ض ط ظ"

(۲) مستعلیه منفتحه: داسے حروف درے دي "خ غ ق"

(۳) مستفله منفتحه: داسے حروف دوه ویشت(۲۲) دي "ا ب ت ث ج ح د ذ ر ز س ش ع ف ک ل م ن و ه ء ی"

﴾ **اذلاق:** د اذلاق معنی ده خویدل او زر ادا کیدل دا صفت چه کومو حروفو کښې موجود شي هغې حروفو ته مذلقه وائي مطلب د دے صفت دا دے چه دا حروف د شونډو او د ژبے د غاړے نه ډیر زر او په آسانتیا سره ادا کیږي لکه "قُلْ" والا ل او "يَعْلَمُ" والا م داسے حروف شپږ دي چه مجموعه ئے ده "فَرَّ مِنْ لُبٍّ" دے حروفو کښې چه کوم حروف شفوي دي هغه د شونډو د غاړے نه ادا کیږي چه کوم شفوي نه دي هغه د ژبے د غاړے نه ادا کیږي.

اعتراض: "ط د ت او ظ ذ ث" هم د ژبے د غاړے نه ادا کیږي دا هم په مذلقه کښې شماریدل پکار دي.

جواب: په حروف مذلقه کښې په تلوار سره وئیل شرط دي او دا حروف په تلوار سره نه ادا کیږي د دے وجے نه ئے په مذلقه کښې شمار نه کړل.

(۴) **اصمات** د اصمات معنی ده منع کیدل زرنهٔ ادا کیږي دا صفت چه په کومو حروفو کښې موجود شي هغے حروفو ته مصمته وائي مطلب د دے صفت دا دے چه دا حروف د خپل مخرج نه په مضبوطئ سره ادا کیږي زر او په اسانتیا سره نه ادا کیږي لکه "کَوْرَتْ" والا "وَ" مذلقه نه بغیر نور تول حروف مصمته دي اذلاق او اصمات هم د یو بل مقابل صفتونه دي دا کوم صفات چه تیر شول نو دا صفات متضاد دي د دینه به هم یو حرف بچ نه وي بلکه خومره حروف چه دي نو ضرور به په مقابل صفتونو کښې موجود وي د مصمته مجموعه دا ده "جَزْ عَشْ سَاخِطْ صِدْ ثِقَةٍ اِذْ وَعِظَهُ يَحُضُّكَ"

صفات لازمه غیر متضاده: دا به ټولو حروفو کښې نه وي.

(۱) **صفیر:** معنی ده تیز آواز په شان د شپیلي یا په شان د مرغۍ دا صفات چه په کومو حروفو کښې موجود شي هغے حروفو ته صفیریه وائي مطلب د دے صفت دا دے چه د دے حروفو د ادا کولو په وخت کښې یو تیز آواز په شان د شپیلي یا په شان د مرغۍ او ځي داسے حروف درے دي " ص، ز، س " په س کښې د صفت همس په وجه د ټولو نه زیات آواز اوځي لکه سَسْ په ز کښې د صفت جهر په وجه د س نه کم آواز اوځي لکه عَزِيْزٌ په ص کښې دَ صفت استعلاء او اطباق په وجه د ټولو نه کم آواز اوځي لکه مَرْصُوْصٌ قرآء حضراتو لیکلي دي چه پدے درے حروفو کښې د "س" آواز د ملخ د آواز په شان دے او د "ز" آواز د شاتو د مچۍ د آواز پشان دے او د "ص" آواز د

مرغابۍ د آواز پشان دے.

(۲) **قلقله** معنی ده جنبش او راتمبول دا صفت چه په کومو حروفو کښې موجود شي هغے حروفو ته حروف قلقله وائي مطلب د دے صفت دا دے چه د دے حروفو ادا کولو په وخت کښی به په حالت سکون کښې په مخرج کښې یو حرکت شان وي داسے حروف پنځه دي چه مجموعه ئے ده "**قُطُبُ جَدٍّ**" پدے پنځو حروفو کښې په "ق" کښې قلقله اصل قوي او کاملے درجے والا ده د دے وجے نه په "ق" کښں استعلاء مضبوطه ده د "ق" قلقله اتفاقي ده. په خلاف د دے نورو حروفو ځکه دا نور حروف په قلقله کښې د "ق" تابع دي د دے وجهے نه د دے نورو حروفو قلقله اختلافي ده.

اعتراض: تا اووئیل چه پدے حروفو کښې به په حالت سکون کښې قلقله کیږي حالانکه قلقله صفت لازمه ده دا خو په هر حالت کښې کول پکار ده.

جواب: په حالت سکون کښې د حالت حرکت نه قلقله زیاته وي او په حالت وقف کښې د ټولو نه زیاته وي د حرکت په حالت کښې هم قلقله کیږي خو په شان د نشتوالي وي.

بیا د قلقلي پنځه درجې دي

(۱) د ټولو نه زیاته قلقله به پدے حروفو کښې **هغه وخت کیږي چه دا** حروف مشدد او موقوف وي لکه "**اَلْحَقُّ**"

(۲) د دے نه کمه قلقله به پدے حروفو کښې **په هغه وخت کیکي چه** دا حروف ساکن وي او موقوف وي "**يَسْرِقُ**"

(۳) د دینه کمه قلقله به پدے حروفو کښې **په هغه وخت کیږي چه دا**

حروف مشدد غیر موقوف وي لکه "اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّکَ"

(۴) چه کله ساکن غیر موقوف وي لکه "خَلَقْنَا"

(۵) چه متحرک وي لکه "قَالَ" خو د حرکت په دوران کښې معمولي وي په شان د نښتوالي.

سوال: باقي ځلورویشت(۲۴) حروفو کښې قلقله ولې نه کیږي ؟

جواب: د قلقلې کولو د پاره دوه صفات ضروري لازمي وي (۱) جهر (۲) شدت یعني د جهر په وجه پکښې تقار کیږي او د شدت په وجه پکښې آواز بند شي نو قلقله جوړه شي او باقي ځلورویشت(۲٤) حروفو کښې دا دوه صفات په یو ځائې نه جمع کیږي د دې وجې نه هغې حروفو کښې قلقله نه کیږي.

سوال: په همزه کښې خو صفت شدت او جهر دواړه په یو ځائې جمع شوي دي او قلقله پکښې بیا هم نه کیږي ؟

جواب: همزه اګر چه مجهوره شدیده حرف دې لیکن د نورو حروفو پشان په خپل حالت اصلي باندې همیشه نه پاتې کیږي بلکه متحرک حالت کښې ثقیل وي حالت سکون کښې ضعیف وي بعض وخت پکښې ډیر تغیرات راځي لکه "یُؤْمِنُوْنَ، اٰمَنَ، اِیْمَانًا، مِنَ اللّٰهِ. او قلقله صفت لازمه ده چه په هر حالت کښې ضروري لازمي وي لیکن همزه " په هر حالت کښې ثابت نه پاتې کیږي بلکه کله ابدال کله تسهیل کله حذف شي د دې وجېنه دا په حروف قلقله کښې شمار نه شوه.

لین ۳: معنی ده نرمي دا صفت چه په کومو حروفو کښې موجود شي نو هغې حروفو ته حروف لین وائي مطلب د دې صفت دا دې چه دا حروف د خپل

مخرج نه داسے په نرمي سره ادا کيږي که څوک پدے کښې مد کول غواړي نو کولے شي داسے حروف دوه دي 'واو' چه ساکن وي مخکښې ترے زبر وي لکه 'خَوْفٍ' .2 'ی' چه ساکن وي او مخکښې ترے زبر وي لکه 'ضَيْفٍ'

انحراف ۴: معنی ده اوړيدل دا صفت چه په کومو حروفو کښې موجود شي هغے ته منحرفه وائي مطلب د دے صفت دا دے چه دا حروف د ادا کولو په وخت کښې به په لام کښې د ژبے غاړے طرف ته او په را کښې به د ژبے لاندے طرف ته او څه د لام خائے طرف ته اوړيدل وي دا اکثر د ماشومانو نه کيږي څکه چه هغوي د را په ځائے لا وائي د دينه بچ کيدل پکار دي دا حروف دوه دي "ل، ر".

تکرير ۵: معني ده بار بار وئيل دا صفت صرف په را کښې دے مطلب د دے صفت دا دے چه د "را" د ادا کولو په وخت کښې به په ژبه کښې يو لرزه شان وي يعني رپيدل شان به وي نو په دغه وخت کښې به آواز د تکرير مشابه شي مطلب د دے صفت دا ندے چه ديکښې دے تکرير ښکاره شي بلکه د دے نه بچ کيدل پکار دي اګر که دا رامشدد هم وي څکه بيا هم دا يو حرف دے ډير حروف ندي اګر چه بعض کتابونو کښې ليکلي دي چه په "را" کښې دے صفت تکرير ادا کړے شي خو دهغے نه مشابهت تکرير مراد دے.

تفشي ۶: معنی ده خوريدل دا صفت صرف په "ش" کښې دے مطلب د دے صفت دا دے چه د "ش" د ادا کولو په وخت کښې په خولهٔ کښې دننه آواز

خوریږي لکه "مَنۡفُوۡشِ"

د تفشي درې درجات دي

(۱) د ټولو نه اعلیٰ درجه دا ده چه "ش" مشدد وي لکه "فَبَشِّرۡنٰهُ".

(۲) درجه دا دهٔ چه "ش" ساکن وي "تَشۡكُرُوۡنَ"

(۳) درجه دا دهٔ چه "ش" متحرک وي لکه "شَجَرَةً"

استطالت ۷: معنیٰ ده اوږد والے دا صفت صرف په " ض" کښې دے مطلب د دے صفت دا دے چه د "ض" د ادا کولو په وخت کښې آوز د حافے د اول نه د حافے تر اخره پورے یعني د مخرج د اول نه د مخرج آخره پورے اوږدیږي یعني خومره چه مخرج د دے اوږد دے نو پوره مخرج کښې آواز جاري کیدو سره آواز هم اوږدیږي.

سوال: استطالت او مد کښې څه فرق دے ؟

جواب: دواړو کښې فرق دا دے چه استطالت کښې د ضاد اوږد والے د مخرج په لحاظ سره دے او په مد کښې د حروف مده اوږد والے صفتي او د آواز په لحاظ سره دے د دے وجے نه د مده آواز زیاتے کمے قبلوي او ضاد د مخرج په لحاظ سره کمے او زیاتے نه قبلوي.

سوال: په حرف ضاد کښې استطالت دي او په "ش" کښې صفت تفشي دے او په نورو حروفو کښې عدم استطالت عدم تفشي دے نو دیته هم متضاده وئیل پکار دي ؟

جواب: په صفات متضاده کښې د ضد نوم حقیقتاً اصطلاحاً عقلاً موجود

وي او دلته غیر متضاده کښې د ضد نوم اصطلاحاً حقیقتاً موجود نشته دے
او واضع نه دي وضع کړے.

د قوي او ضعیف صفاتو بحث

په دے صفات لازمه کښې دولس (۱۲) صفات قوي دي.
(۱) جهر،(۲) شدت،(۳) استعلاء،(٤) اطباق،(٥) اصمات،(٦) صفیر،(۷) قلقله.
(۸) انحراف،(۹) تکریر،(۱۰) تفشي،(۱۱) استطالت. (۱۲) غنه.
شپږ صفات ضعیف دي،(۱) همس،(۲) رخوت،(۳) استفال،(٤) انفتاح،(٥) اذلاق،(٦) لین او توسط درمیاني صفت دے په قوي صفاتو کښې اوله درجه د قلقلے ده بیا د شدت ده بیا د جهر ده بیا د باقي نورو صفاتو ده.

(۱) اقوی حروف: څلور دي. ط، ظ، ق، ض.

(۲) قوي حروف: پنځه دي. ج، ص، د، غ، ء.

(۳) متوسط حروف: څلور دي. ب، ر، ز، ع.

(٤) ضعیف حروف: دولس دي، ا، ت، خ، ک، س، ش، ل، و، ی، م، ن، ذ

(٥) اضعف حروف: څلور دي. ح، ث، ف، ه. (المرشد)

د یو حرف قوي والي ضعیف والي معلومولو طریقه د دے پنځه اقسام دي.

(۱) اقوی: که په یو حرف کښې ټول صفات قوي وي یا یو صفت پکښې ضعیف وي او نور ټول پکښې قوي وي نو دغه به اقوی وي.

(۲) قوي که په یو حرف کښې د ضعیف صفاتو په مقابله کښې قوي صفات زیات وي نو دغه حرف به قوي وي.

(۳) متوسط که په یو حرف کښې قوي او ضعیف صفات تقریباً یا

حقیقتاً دواړه برابر وي نو دغه حرف به متوسط وي.

(٤) ضعیف که په یو حرف کښې د قوي صفاتو په مقابله کښې ضعیف صفات زیات وي نو دغه حرف ضعیف دے.

(٥) اضعف که په یو حرف کښې ټول صفات ضعیف وي یا یو پکښې قوي وي نور ټول پکښې ضعیف وي نو دغه حرف اضعف دے.

د مخارجو او صفات لازمه د اتحاد او اختلاف د قرب او بعد په اعتبار سره د حروفو اته اقسام دي.

متحد الصفات مختلف المخارج: (١) ء ذ.(٢) ک ت.(٣) ث ح.(٤) ج د.(٥) ن م.(٦) و ی.

متحد المخارج مختلف الصفات. (١) مدَه.(٢) ء ه.(٣) ع ح.(٤) غ خ.(٥) ج ش ی.(٦) ط ت د.(٧) ظ ذ ث.(٨) ص ز س.(٩) ب م و غیر مده.

متحد المخارج متحد الصفات: داسے حروف چه مخرج کښې هم یو وي صفات کښې هم یو وي. ب ب، م م، ث ث. وغیره داسے ټول حروف.

مختلف المخارج مختلف الصفات: چه مخارج صفات دواړو کښې جدا وي. (١) ب ط.(٢) ث ر.(٣) ا ب.(٤) ق ک.

قریب المخارج قریب الصفات. ل ر.

قریب المخارج بعید الصفات (١) رز.(٢) ء ع.(٣) ه ح.(٣) ع خ.(٥) غ ه

بعید المخارج قریب الصفات. س ش، ض ظ.

بعید المخارج بعید الصفات.. ث ر.

مشابه الصوت. بعض حروف په آواز کښې **مشابه وي.(١) ت ط.(٢) ث ص س.** (٣) ح ه.(٤) ذ ز.(٥) ض ظ.(٦) ق ک.(٧) ق غ.

نقشه صفات لازمه

حروف		صـــفات لازمــه							
١		جهر	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات			٥
٢	ب	جهر	شدت	استفال	انفتاح	اذلاق	قلقله		٦
٣	ت	همس	شدت	استفال	انفتاح	اصمات			٥
٤	ث	همس	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات			٥
٥	ج	جهر	شدت	استفال	انفتاح	اصمات	قلقله		٦
٦	ح	همس	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات			٥
٧	خ	همس	رخوت	استعلا	انفتاح	اصمات			٥
٨	د	جهر	شدت	استفال	انفتاح	اصمات	قلقله		٦
٩	ذ	جهر	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات			٥
١٠	ر	جهر	توسط	استفال	انفتاح	اذلاق	انحراف	تکریر	٧
١١	ز	جهر	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	صفير		٦
١٢	س	همس	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	صفير		٦
١٣	ش	همس	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	تفشي		٦
١٤	ص	همس	رخوت	استعلا	اطباق	اصمات	صفير		٦
١٥	ض	جهر	رخوت	استعلا	اطباق	اصمات	استطالت		٦
١٦	ط	جهر	شدت	استعلا	اطباق	اصمات	قلقله		٦
١٧	ظ	جهر	رخوت	استعلا	اطباق	اصمات			٥
١٨	ع	جهر	توسط	استفال	انفتاح	اصمات			٥
١٩	غ	جهر	رخوت	استعلا	انفتاح	اصمات			٥
٢٠	ف	همس	رخوت	استفال	انفتاح	اذلاق			٦
٢١	ق	جهر	شدت	استعلا	انفتاح	اصمات	قلقله		٦
٢٢	ک	همس	شدت	استفال	انفتاح	اصمات			٥
٢٣	ل	جهر	توسط	استفال	انفتاح	اذلاق	انحراف		٦
٢٤	م	جهر	توسط	استفال	انفتاح	اذلاق			٥
٢٥	ن	جهر	توسط	استفال	انفتاح	اذلاق			٥
٢٦	و	جهر	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	لين		٦
٢٧	ه	همس	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات			٥
٢٨	ء	جهر	شدت	استفال	انفتاح	اصمات			٥
٢٩	ی	جهر	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	لين		٦

شپږمه لمعه د صفاتو عارضه محسنه محليه په بيان کښې ده

د مخارجو او صفات لازمه د بيان نه پس مصنف رحمه الله د دے ځائے نه اوس د صفات عارضه بيان شروع کوي چه دا ده اوومے لمعے نه تر دولسمے لمعے پورے مسلسل چليدلے دے مګر په دے شپږمه لمعه کښې مصنف رحمه الله صفات عارضه نه دے بيان کړي د هغے په ځائے صرف ترتيب د هغے تعداد اقسام او د حروفو تعداد او د هغے متعلق ئے يو څو خبرے بيان کړي دي بيا صفات عارضه په درے قسمه دي.

عارض بالصفات: دېته وائي چه هغه صفات عارضه چه د صفات لازمه مشابهت په کښې پيدا شي لکه لفظ الله په لام کښې تفخيم فرعاً مشابهتاً د استعلاء په مشابهت سره او ترقيق په کښې دا استفال په مشابهت سره عارضي دے او استعلاء او استفال صفات لازمه دي ليکن دلته په لام او را کښې دا صفات عارضي دي. د دے وجے نه دېته عارض بالصفات وائي.

عارض بالحرف: يعني هغه صفات عارضه چه په يو حرف کښې د ما بعد حرف په ملاويدو سره پيدا شي لکه په نون کښې ادغام د حروف يرملون په ملاويدو سره پيدا شي اخفاء پکښې د پنځلسو حروفو په ملاويدو سره پيدا شي او په مده حروف کښې مد فرعي د همزے او سکون په ملاويدو سره پيدا شي بيا عارض بالحرف په دوه قسمه دے.

عارض في الکلمة: يعني د مابعد حرف ملاويدل في الکلمة يعني يوه کلمه کښې وي لکه "مِنْكُمْ، جَآءَ، اَنْبِئْهُمْ" نو دېته عارض في الکلمة وائي

عارض في الوصل في الکلمتين: يعني د مابعد حرف ملاويدل په جدا کلمه کښې وي لکه " قَالُوٓا اٰمَنَّا، مَنْ كَانَ، مِنْ بَعْدِ" نو دېته عارض في

الكلمتين وائي.

عارض بالوقف: يعني هغه صفات عارضه چه په يو حرف كښې دوقف د وجے نه پيدا شي لكه وقف بالاسكان، وقف بالابدال، وقف بالاشمام، وقف بالاثبات، وقف بالاظهار، دغه شان مد عارض.

صفات عارضه اته حروف دي "لر منا ويٌ" او يرملان.

صفات عارضه مشهور اقسام پنځلس دي.(١) تفخيم.(٢) ترقيق.(٣) ادغام. (٤) اقلاب.(٥) اظهار.(٦) اخفاء.(٧) غنه زماني.(٨) هائے ضمير.(٩) تسهيل. (١٠) ابدال.(١١) حذف.(١٢) مد فرعي.(١٣) اجتماع ساكنين.(١٤) سكته.(١٥) وقف. (المرشد)

اوومه لمعه د لام په قاعدو کښې ده

قاعده ۱: هر کله چه د لفظ الله د لام نه مخکښې زبر يا پيش وي نو هغه لام به پر وئيلې شي لکه "أَرَادَ اللّٰهُ، رَفَعَهُ اللّٰهُ". دے پر وئيلو ته تفخيم وائي.

قاعده ۲: هر کله چه د لفظ الله د لام نه مخکښې زير وي نو هغه لام به باريک وئيلے شي لکه. "بِسْمِ اللّٰهِ، لِذِكْرِ اللّٰهِ" دے باريک وئيلو ته ترقيق وائي د لفظ الله د لام نه ما سوا چه څومره لامونه دي هغه به باريک وئيلے شي لکه "مَا وَلّٰهُمْ، كُلُّهُ"

تنبيه: د اَللّٰهُمَّ لام هم د لفظ په الله لام کښې داخل دے يعني که مخکښې زبر يا پيش وي نو بيا به دا پر وئيلے شي لکه "سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ، قَالُوا اللّٰهُمَّ" اوکه د دينه مخکښې زير وي نو بيا به دا باريک وئيلے شي لکه قُلِ اللّٰهُمَّ"

فائده: اَللّٰهُمَّ په اصل کښې يا الله وو نو يا حرف ندا مو حذف کړه د هغے په عوض کښې مو په آخر کښې ميم مشدد راوړو نو اَللّٰهُمَّ شو

فائده: ملا علي قاري رحمه الله فرمائيلي دي چه د الله د لام پر وئيلو وجه دا ده چه د اسم اعظم تعظيم ظاهر شي ليکن د دے پوره حق به هغه وخت ادا شي کله چه د الله وئيلو په وخت کښې په زړه کښې ددے نه سوا هيڅ نه وي (مصباح القرآن)

اتمه لمعه د را په قاعدو کښي ده

د را د پاره درے احکام دي.(۱) تفخيم.(۲) ترقيق.(۳) خلف.

د را د تفخيم دولس (۱۲) قواعد يا حالتونه دي

(۱) را مفتوحه غير مشدده يعني د را د پاسه زبر وي او شد پرے نه وي لکه رَحِيۡمِ ، قَمَرَ.

(۲) را مفتوحه مشدده يعني را باندے زبر وي او شد پرے هم وي لکه "اَلرَّحۡمٰنُ.

(۳) را مضموم غير مشدده يعني را باندے پيش وي شد پرے نه وي "بَشَرٌ".

(٤) را مضموم مشدده يعني را باندے پيش وي او شد دواړه وي لکه "فَرُّو، مُسۡتَطِرٌّ"

(٥) را ساکن ماقبل مضموم وي يعني چه را ساکن وي او مخکښي حرف باندے پيش وي يعني سکون اصلي وي لکه " اَلۡقُرۡاٰنُ، اَلۡفُرۡقَانُ" يا را ساکن عارضی وقفی وي نو که وقف بالاسکان وي يا اشمام لکه " اَلنُّذُرُ، اَلضُّرُّ"

(٦) را ساکن ماقبل مفتوح يعني را ساکن وي او مخکښي ترے نه زبر وي لکه " بَرۡقٌ" که د را سکون اصلي وي لکه " اَرۡسَلَ، خَرۡدَلَ" اوکه د را سکون عارضي وي نو که وقف بالاسکان وي يا وقف بالاشمام وي لکه " اَلۡقَمَرُ".

(۷) را ساکن ماقبل کسره عارضيه يعني را ساکن وي او مخکښي

ترے نه زير عارضي وي لکه "اِرْجِعِي، اِنِ ارْتَبْتُمْ، مَنِ ارْتَضٰى"

(۸) را ساکن ما قبل کسره منفصله يعني را ساکن مخکښي ترے زير عارضي وي جدا کلمه وي نو که ماقبل کسره منفصله اصليه وي لکه "رَبِّ ارْجِعُوْنَ، رَبِّ ارْحَمْهُمَا" او که ماقبل کسره منفصله عارضيه وي لکه "اَمِ ارْتَابُوا، مَنِ ارْتَضٰى"

(۹) را ساکن ما قبل کسره متصله اصليه مابعد حروف مستعليه متصله اصليه يعني را ساکن وي مخکښي ترے زير اصلي په يوه کلمه کښي وي خو روستو ترے نه يوه کلمه کښي حروف مستعليه وي لکه "مِرْصَادِ، اِرْصَادَ، قِرْطَاسِ، فِرْقَةٍ"

(۱۰) را ساکن موقوف ماقبل ساکن ماقبل مفتوح يعني را د وقف د وجےنه ساکن وي مخکښي د يا نه علاوه بل حرف ساکن وي مخکښي دريم حرف باندے زبر وي "اَلْقَدْرِ، اَلدَّارِ، وَالْفَجْرِ"

(۱۱) را ساکن موقوف ماقبل ساکن ماقبل مضموم يعني را په وقف ساکن شي ماقبل حرف يا نه علاوه بل حرف هم ساکن وي ماقبل دريم حرف باندے پيش وي لکه "اَلْعُسْرِ، تَفُوْرُ، اَلصُّدُوْرِ".

(۱۲) را مضموم مُرَمَّمَه يعنى را باندے پيش وي او وقف بالروم پرے اوکړے شي لکه "مُنْتَصِرٌ".

د را د ترقيق اووه (۷) حالات دي.

(۱) را مکسوره غير مشدده يعني هغه د هغې لاندې زير وی او شد پرې نه وي لکه په "رِزْقاً، رِجَالٌ".

(۲) را مکسوره مشدده يعنی چه د را لاندې زير وي او مشدد هم وي لکه "اَلرِّجَالُ، الرِّيَاحُ".

(۳) را ساکنه ما قبل مکسور يعني چه را ساکن وي مخکښي ترې زير وي لکه "فِرْعَوْنَ" خو د ے د پاره درې شرطونه دي..۱. ماقبل کسره اصليه وي..۲. ما قبل کسره متصله وي..۳. ما بعد حروف مستعليه متصله نه وي " شِرْعَةً، مُقْتَدِرٍ، فَاصْبِرْ صَبْرًا"

(٤) را ساکنه موقوفه ماقبل ساکن ما قبل مکسور يعني هغه را چه وقفاً ساکن شي او مخکښي ترې نه د ياء ساکن نه علاوه بل حرف ساکن وي مخکښي دريم حرف لاندې زير وي لکه "الذِّكْرِ، بِكْرٌ"

(٥) را ساکنه ماقبل ياء ساکنه يعني چه را وقفاً ساکن وي او مخکښي ترې يائې ساکنه وي لکه "قَدِيْرٌ، بَصِيْرٌ"

(٦) راء مماله هغه را چه اماله پکښي شوې وي لکه "مَجْرٖهَا".

(۷) را مکسوره مرمه يعني هغه را چه زير وي پرې او وقف بالروم پرې اوشي "وَالْفَجْرِ" (المرشد).

نوټ: د امالې تعريف چه زبر په طرف د کسرې او الف په طرف د ياء مائل کولوته اماله وائي

امالے: معنی مائل کیدل. دلته هم زبر زیر طرف ته مائل شوے دے او الف یاء طرف ته مائل شوے دے.

د خُلف بیان او قاعدے

(۱) د "كُلُّ فِرْقٍ" په را کښې دوه وجوه دي..۱. تفخیم..۲. ترقیق.

تفخیم خو د عامے قاعدے مطابق دے یعني را ساکن نه روستو یوه کلمه کښې مستعلیه حرف قاف دے او ترقیق ځکه دے چه اول خو دا را د دوو کسرو په مینځ کښې واقع ده بله دا چه د قاف د کسرے د وجے نه په دیکښې د استعلا صفت کمزورے شو نو په را باندے اثر انداز کیدے شي د جمهورو عمل هم په ترقیق باندے دے علامه داني رحمه الله فرمائي چه " وَالْوَجْهَانِ جَيِّدَانِ" یعني دواړه صحیح دي لیکن ترقیق اولیٰ دے جزري رحمه الله فرمائي " وَالْخُلْفُ فِي فِرْقٍ لِكَسْرٍ يُوْجَدُ" یعني د قاف د کسرے د وجے نه خلف واقع شوے دے دلته خلف في الحالین دے یعني وقف وصل کښې تفخیم ترقیق دے.

(۲) په "مِصْرَ" کښې هم وقف بالاسکان دوه وجهے دي تفخیم او ترقیق.

(۳) په لفظ " عَيْنَ الْقِطْرِ" کښی هم د وقف بالاسکان حالت کښې دوه وجهے دي...۱. تفخیم..۲. ترقیق پدے دواړو کښې خو د قاعدے مطابق ترقیق دے او د عام قاعدے مطابق تفخیم دے لیکن محقیقینو په نزد باندے دلته

د وصل اصل اعتبار شویدے نو "مِصْرَ" کښي تفخیم او "عَيْنَ الْقِطْرِ" کښي ترقیق اولی دے

په باقي پنځه کلماتو کښي وقف بالاسکان کښي دوه وجهے دي.

.۱. فَأَسْرِ .۲. أَنْ أَسْرِ .۳. وَالَّيْلِ إِذَا يَسْرِ .۴. وَنَذُرِ .۵. الْجَوَارِ.

(۱) د موجوده حالت په اعتبار سره پکښي د قاعدے مطابق تفخیم دے.

(۲) ترقیق د اصل په اعتبار سره پکښي ترقیق دے ځکه دا ټول کلمات په یائے محذوفے سره دے ځکه دا کلمات اصل کښي "فَأَسْرِيْ، أَنْ أَسْرِيْ، إِذَا يَسْرِيْ، وَنَذُرِيْ، الْجَوَارِيْ" وو د دے کلماتو آخر کښي یاء حذف شوے ده نو د هغے اعتبار سره دیکښي ترقیق هم جائز دے.

نهمه لمعه د میم ساکن او د میم مشدد په احکامو کښې ده

د میم ساکن او مشدد احکام څلور دي.(۱) غنه زماني.(۲) ادغام(۳) اخفاء.

(٤) اظهار.

قاعده ۱: هر کله چه میم مشدد وي نو په هغې کښې به غنه کیږي لکه

لَمَّا دیته غنه وائي او غنه وائي پوزې ته آواز بوتلوته د غنې مقدار یو الف

دې د الف مقدار یو گوته بندول یا کهلاوول بیا غنه په دوه قسمه ده.

(۱) غنه آني: دیته وائي چه دا په نون او میم کښې د مشدد حالت نه بغیر په هر حالت کښې وي دې غنې ته اصلي ذاتي لازمي وائي.

(۲) غنه زماني: دیته وائي چه دا به په میم او نون کښې د مشدد په حالت کښې وي دیته غنه زماني صفتي فرعي او عارضي وائي دلته د غنې نه مراد غنه زماني ده.

قاعده ۲: کله چه د میم ساکن نه روستو بل میم راشي نو هلته به ادغام مع الغنه کیږي لکه "إِلَيْكُم مُّرْسَلُونَ.

دیته ادغام صغیر مثلین شفوي مع الغنه وائي.د ادغام لغوي معني ده"

إِدْخَالُ الشَّيْءِ فِي الشَّيْءِ یو څیز په بل څیز کښې داخلول اصطلاحي معني

ئې ده "خَلْطُ حَرْفٍ سَاكِنٍ بِمُتَحَرِّكٍ بِحَيْثُ يَصِيْرَانِ حَرْفًا وَاحِدًا

مُشَدَّدًا أَدَاءُهُمَا تَحَرُّكًا وَاحِدًا".

ترجمه " یو حرف د بل حرف سره داسې یو ځائې کول چه دواړونه یو حرف مشدد جوړ شي او د دواړو ادا کولو کښې مخرج یو ځل استعمال شي (کمال الفرقان)

قاعده ۳: هر كله چه ميم ساكن نه روستو "ب" راشي هلته به اخفاء كيږي لكه "وَمَن يَعْتَصِمْ بِاللَّهِ" دېته اخفاء شفوي مع الغنه وائي.

قاعده ۴: هر كله چه ميم ساكن نه روستو د "ب" او "م" نه علاوه بل حرف راشي هلته به اظهار كيږي لكه "أَنْعَمْتَ، أَمْ لَمْ" دېته اظهار شفوي وائي د اظهار لغوي معنى ده "اَلْبَيَانُ" ښكاره كول او اصطلاحي معني ئې ده "إِخْرَاجُ كُلِّ حَرْفٍ مِنْ مَخْرَجِهِ مِنْ غَيْرِ غُنَّةٍ فِي الْمُظْهَرِ".

ترجمه: او ښكل د هر يو حرف دي د خپل مخرج نه بغير د غنے نه په ظاهر حرف كښې دا اظهار په ميم ساكن كښې هغه وخت كيږي چه كله د دے نه پس د با او ميم نه علاوه باقي حروف وي باقي حروف د تا نه تر لام پورے او نون نه تر ياء پورے دي او الف د ميم ساكن نه پس نه رازي چه الف هميشه ساكن وي د ځان نه مخكښې د فتحے تقاضا كوي نو د ميم ساكن نه روستو د باء او ميم نه علاوه باقي ۲۶ حروف پاتے شول بيا دا ۲۶ حروف په دوه حالاتو كښې راځي-۱. يو كلمه-۲. دوه كلمو كښې راتلل نو دا ټول ۵۲ مثالونه شول ليكن په قرآن مجيد كښې صرف آته ۸ حروف داسے دي چه هغه د ميم ساكن نه روستو يو كلمه كښې نه راځي. هغه دا دي "ج خ د ذ ض ظ ع ق" نو ۵۲ نه آته ۸ مثالونه كم شول ٤٤ پاتے شول.

د بوف قاعده او د هغے رد

بوف د باء واو فاء مجموعه ده اصلي قاعدے خودلته هغه دي كومے چه مخكښې قاعدو كښې تيرے شوے.

يعني هغه چه روستو د ميم ساكن نه حرف باء راشي نو اخفاء به كوي او چه

روستو ترے واو فاء راشي نو اظهار به كوي دا اصل قواعد دي ليكن بعض جهلاء او كم علم والا قرّاء د دے په ځائے اخفاء اظهار نشي كولے بلكه ددے درے حروفو يوه قاعده بيانوي او په هغے باندے دليل پيش كوي چه دا درے حروف باء واو فاء شفوي دي نو د دے وجهے نه د دے قاعده هم يوه پكار ده بيا دا خلق په درے ډلو كښي تقسيم شوے دي. اهل اخفاء، اهل اظهار، اهل تحريك.

اهل اخفاء: يعني بعض خلق دا وائي چه څنګه د ميم ساكن نه روستو حرف باء راشي نو اخفاء كيبري نو دغه شان چه واو فاء راشي نو هم به اخفاء كيږي ځكه چه ابن شريح رحمه الله د كسائي رحمه الله نه فاء په راتلو سره او نووي رحمه الله د ابو عمر رحمه الله نه د واو په راتلو سره په ميم ساكن كښي د اخفاء روايت فرمائيلے دي ليكن دا روايت شاذ دے غير مستعمل دے د دے مقابله ابن مجاهد رحمه الله كړے ده چه دے يو لوئے محقق دے د هغه رائے دا ده چه د واو او د فاء په راتلو سره په ميم ساكن كښي صرف اظهار كامل بغير غنه دے.

اهل اظهار: بعض خلق وائي چه څنګه د واو فاء په راتلو سره په ميم كښي اظهار كيږي دغه شان د حرف باء په راتلو سره هم اظهار كامل بغير غنه پكار دے لكه چه د ابو محمد مكي رحمه الله ابن منادي اياز محمد ثمرقندي رحمه الله مذهب دے دليل كښي دا پيش كوي.

اهل تحريك: بعض خلق وائي چه د ميم ساكن نه روستو دا درے واړه حروف راشي نو ميم ساكن ته به لږ د حركت او قلقلے بوئے وركړے او ادا به ئے كړے او دليل ئے د ځان د پاره دا كړ ځولے دے چه د دے نه مخكښي

خلقو به په واو کښې اخفاء کوله نو په هغوې باندې علماؤ د تجويد اوفرمائيل لکه جزري رحمه الله په مقدمه الجزري کښې ممانعت کړې دې نو د علماؤ د ممانعت په وجه د اخفاء نه بچکيدو د پاره د ميم حرکت او قلقلې بوئې پيدا کړلو او په مزه مزه د قلقلې بوئې او حرکت ورکول په ميم کښې رائج شول او رواج جوړ شو او خلقو دا طريقه اختيار کړه ليکن مصنف رحمه الله فرمائي چه دا درې واړه اقوال خلاف قاعده دي پدې کښې خو دا اول او دريم قول يعني مطلق قلقله او تحريک او مطلق اخفاء خو بالکل بې اصل او غير ثابت دي او سراسر غلطي او لحن دې ځکه چه دفن په کتابونو کښې د دې نام و نشان نشته دې اوس پاتې شو دويم قول يعني مطلق اظهار والاقول نو هغه في نفسه ثابت او منقول دې چه څنګه مخکښې تير شو چه دا ابو محمد مکي رحمه الله قول دې ليکن دا قول ضعيف غير اولى غير مختار دې ځکه د باء په راتلو سره اظهار کول د بعض مذهب دې د جمهورو په نزد اخفاء ده د دې اول قول مطابق درې جوابونه نور هم شته.

جواب ۱: دا قول صرف عقلي قياسي دې چه د دې نقل او ادا سره څه ثبوت نشته دې.

جواب ۲: هغه دا چه د واو يا فاء په راتلو سره ميم کښې اخفاء کولو کښې ثقل دې.

جواب ۳: هغه دا چه واو، باء او فاء درې واړو کښې فرق دې چه باء کښې مکمل انطباق شفتين دې او په فاء او واو دواړو کښې نشته دې بلکه ثنايا عليا په لاندې شفت سفلى باندې اتصال کوي نو په باء او په ميم کښې انطباق الشفتين دې نو د حرف باء په راتلو سره په ميم کښې اخفاء کول

آسان دی لیکن د واو فاء په راتلو سره په میم کښي د اظهار نه علاوه بل صفت کول گران مشکل دي (والله اعلم).

لسمه لمعه د نون ساکن او مشدد په قاعدوکښی ده

د نون ساکن او تنوین پنځه احکام دي.(١) غنه فرعي.(٢) اظهار.(٣) اخفاء.(٤) اقلاب.(٥) ادغام.

د نون ساکن او تنوین په وئیلوکښي هیڅ فرق نشته خو په لیکلو کښي شپږ (٦) فرقونه دي.

(١) نون ساکن به اصلي وي او تنوین به زائد وي.

(٢) نون ساکن به په اسم، فعل، او حرف درے واړو کښي راتلي او تنوین به صرف په اسم کښي راتلي بغیر د تنوین ترنم نه چه دا به په فعل کښي هم راتلي لکه پدے شعر کښي "أَقِلِّي اللَّوْمَ عَاذِلَ وَالْعِتَابًا" وَقُولِي إِنْ أَصَبْتُ لَقَدْ أَصَابًا" دلته اصابن فعل دے او والعتابن اسم دے په دے دواړو کښي تنوین موجود دے.

(٣) نون ساکن د کلمے په مینځ کښي هم راتلي او په آخر کښي هم راتلي او تنوین د کلمے په آخر کښي راتلي.

(٤) نون ساکن به په وقف کښي او وصل کښي او لیکولو کښي ثابت پاتے کیږي او تنوین به صرف په وصل کښي ثابت پاتے کیږي او په وقف کښي به غورزیږي یا به په الف سره بدلیږي.

(٥) نون ساکن به اکثر د تاکید د پاره راتلي او تنوین به د تاکید د پاره نه راتلي.

(٦) نون ساکن د نون په شکل سره لیکلے شي او تنوین د نون په شکل سره نه شي لیکلے.

د نون ساکن تعریف: هِيَ الَّتِي لَا حَرْكَةَ لَهَا كَقَوْلِكَ مِنْ وَعَنْ وَقَدْ تُحَرَّكُ لِالْتِقَاءِ السَّاكِنَيْنِ كَقَوْلِهِ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى وَاِنِ امْرَءَةٌ.

ترجمه: نون ساکن هغه دے چه نه وي حرکت پرے باندے لکه دا قول ستا "مَنْ عَنْ" او کله چه پرے حرکت راشي نو دا به د اجتماع ساکنین د وجے نه وي لکه "لِمَنِ ارْتَضٰى، وَاِنِ امْرَاَةٌ"(کمال الفرقان).

د تنوین تعریف: " هِيَ نُوْنٌ سَاكِنٌ زَائِدَةٌ تَلْحَقُ اٰخِرَ الْاِسْمِ تَثْبُتُ لَفْظاً وَّوَصْلًا وَّتَسْقُطُ خَطاً وَّوَقْفًا وَلَا تَكُوْنُ لِتَاكِيْدٍ.

ترجمه: دا تنوین په اصل کښې نون ساکن زائد دے د اسم اخر پورے پیوست وي لفظاً. او په وصل کښې ثابت وي او په لیکلو کښې او وقف کښې غورزیږي د تاکید د پاره نه راځي.

قاعده ۱:هر کله چه نون مشدد وي په هغے کښې به غنه کیږي په شان د میم مشدد لکه " اِنَّ اللّٰهَ " د نون غنه د میم د غنے نه اصلي ده ځکه چه دا نون خیشوم (د پوزے نلکۍ) ته نزدے دے.

قاعده ۲: هر کله چه نون ساکن یا تنوین نه روستو د حروف حلقي نه یو حرف راشي هلته به اظهار کیږي یعني پوزے ته به آواز نه بوزے لکه "اَنْعَمْتَ، سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ " دیته اظهار حلقي وائي حروف حلقي شپږ دي.

شعر:

حروف حلقي شش بود اے نو رعین همزه، ها، حا،خا، عین، غین

دلته د نون ساکن او تنوین اظهار ځکه کیږي چه د نون مخرج د حروف حلقي د مخرج نه لرے دے.

د اظهار درې درجات دي. (اعلی، اوسط، ادنی)

اعلی: د همزه، هاء په راتلو سره په نون کښې اظهار اعلی درجے والا دے.

اوسط: د عین، حاء مهمله په راتلو سره په نون کښې اظهار متوسط اوسط درجے والا دے.

ادنی: د غین خاء معجمه په راتلو سره نون کښې اظهار ادنی درجے والا دے. (المرشد).

قاعده ۳: هر کله چه د نون ساکن یا تنوین نه روستو د حروف یرملون نه یو حرف راشي نو هلته به ادغام کیږي بیا ادغام په دوه قسمه دے.

(۱) هر کله چه د نون ساکن یا تنوین نه روستو د حروف یرملون نه "ل ر" راشي هلته به ادغام کیګي بغیر د غنے نه لکه "**مِنۡ لَّدُنۡهُ، هُدًى لِّلۡمُتَّقِيۡنَ**" دیته ادغام تام کامل صحیح وائي.

(۲) هر کله چه د نون ساکن یا تنوین نه روستو د حروف یرملون نه دے څلورو حروفو "ی م ن و" نه یو حرف راشي هلته به ادغام کیږي سره د غنے نه لکه "**مَنۡ يَّقُوۡلُ**" دیته ادغام ناقص غیر صحیح غیر کامل وائي دا ځکه چه دلته د نون ساکن ذات خو ختم شو خو صفت ئے باقي دے او صفت ئے پوزے ته آواز بو تلل دي خو د ادغام د پاره یو شرط دے هغه دا چه نون ساکن او تنوین او حروف یرملون به یوه کلمه کښې نه وي راغلے او که په یو کلمه کښې راغلے وي هلته به ادغام نه کیږي بلکه اظهار به کیګي لکه "

دُنْيَا، صِنْوَانٌ، بُنْيَانٌ، قِنْوَانٌ " په ټول قرآن کښي دا د دے قاعدے د باره
څلور مثالونه دي ځکه اظهار مطلق وائي مطلق ورته د دے وجے نه وائي چه
دے سره څه قيد نشته.

اعتراض: په "نٓ وَالْقَلَمِ " او "يٰسٓ وَالْقُرْاٰنِ" کښې ادغام ندے شوے
حالانکه د نون ساکن نه روستو د حروف يرملون نه "واو" راغلے دے کلمے
هم جدا دي ؟

جواب: په روايت حفص رحمه الله کښي دلته ادغام نشته بله دا چه دا
حروف مقطعات دي جدا جدا وئيلے شي بله دا چه دا مبني "مُحْكَمْ" دي
پدے بانډے دلته اعراب نه راځي. بله دا چه د حروف مقطعاتو ادغام په
غيرو مقطعاتو کښي نه کيږي خپل مينځ کښي ئے ادغام کيږي لکه "
طٰسٓمٓ".

قاعده ۴: هر کله چه د نون ساکن يا د تنوين نه روستو "ب" راشي هلته به
اقلاب کيږي.

يعني دا نون ساکن به ورکوټي ميم سره بدل کړے او اخفاء سره به ئے ادا
کړے لکه " مِنْ بَعْدِ، سَمِيْعٌ بَصِيْرٌ" دے ورکوټي ميم ته اقلابي انقلابي
وائي دے نون ته منقلبه مقلوبه مقلبه وائي دے اخفاء ته اخفاء ابدال اخفاء
شفوي اخفاء اقلاب وائي د اقلاب لغوي معني دا " تَحْوِيْلُ الشَّيْءِ عَنْ
وَجْهِهِ".

ترجمه: کرځول د يو څيز دي د خپل ذات نه.

د اقلاب اصطلاحي معني ده " هُوَ جَعْلُ حَرْفٍ مَكَانَ حَرْفٍ اٰخَرَ مَعَ مُرَاعَاتِ الْغُنَّةِ "

ترجمه: کرځول د يو حرف دي په ځائے د بل حرف سره د لحاظ د غنے نه.

قاعده ۵: هر کله چه د نون ساکن يا د تنوين نه روستو د حروف يرملون او حروف حلقي او حرف "ب' نه علاوه بل حرف راشي بيا به په دے نون ساکن او تنوين کښي اخفاء کيبري سره د غنے نه لکه " اَنْفُسَهُمْ مَّاءً فَاَخْرَجَ " ديته اخفاء حقيقي خيشومي وائي د اخفاء لغوي معنی ده " اَلسَّتْرُ " پټول . اصطلاحي معنی ئے ده " اَلنُّطْقُ بِحَرْفٍ سَاكِنٍ عَارٍ اَيْ خَالٍ مِّنَ التَّشْدِيْدِ عَلٰى صِفَةٍ بَيْنَ الْاِظْهَارِ وَالْاِدْغَامِ مَعَ بَقَاءِ الْغُنَّةِ فِي الْحَرْفِ الْاَوَّلِ "

ترجمه: د حرف ساکن تلفظ داسے کول چه د غنے باقي ساتلو سره د ادغام او د اظهار په مينځ کښې بغير د تشديد نه ادا کول.

د اخفاء د پاره دا پنځلس حروف دي " ت، ث، ج، د، ذ، ز، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ف، ق، ک ".

يولسمه لمعه د مد په قاعدو کښې ده

د مد لغوي معنې ده "اَلزِّيَادَةُ" (اوږدول)

او اصطلاحي معنی ئے ده "اِطَالَةُ الصَّوْتِ بِحَرْفٍ مِّنْ حُرُوْفِ الْمَدِّ اَوِ اللِّيْنِ"

ترجمه: اوږدول د آواز په يو حرف باندے په حروف مده او حروف لين باندے.

حروف مده درے دي چه مجموعه ئے ده "واى". و.الف.ى

(۱) چه الف ساکن بے جهټکے وي يعني خالي وي مخکښې ترے زبر وي لکه "قَالَ، كَانَ".

(۲) واو چه هر کله ساکن وي مخکښې ترے پيش وي لکه "اَلْمَغْضُوْبِ".

(۳) ى چه ساکن وي او مخکښې ترے زير وي لکه "نَسْتَعِيْنُ" دے درے واړو يعني "اوى" مثال دے "اُوْتِيْنَا، اُوْذِيْنَا" په حروف مده کښې ولاړ زبر ولاړ زير او التا پيش هم داخل دي يعني ولاړ زبر د الف مده آواز ورکوي داولاړ زير د يائے مده آواز ورکوي او التا پيش د واو مده آواز ورکوي يعنى دا درے واړه حرکات (زبر زير پيش) د درے حروفو "اوى" قائم مقام دي بيا مد په دوه قسمه دے. مد اصلي، مد فرعي.

مد اصلي: ديته وائى چه دا په څه سبب باندے موقوف نه وي د دے په نه ادا کولو سره د حرف ذات ختميږي لکه "قَالَ، كَانَ" د مد اصلي د پاره صرف يو شرط دے چه هغه محل مد دے د محل مد نه مراد حروف مده او حروف

لین دي دے مد ته "مد اصلي" ذاتي او طبعي هم وائي د مد اصلی صرف دا یو قسم دے.

مد فرعي: دیته وائي چه دا په څه سبب باندے موقوف وي د دے مد فرعي په نه ادا کولو سره د حرف ذات نه ختمیږي بلکه خائست ئے ختمیږي لکه مِنَ السَّمَآءِ په ځائے باندے "مِنَ السَّمَاءِ" اوائے مد فرعي د پاره دوه شرطونه دي. محل مد، سبب مد.

محل مد: محل مد نه مراد حروف مده او حروف لین دي د حروف مده او لین د خصوصیت وجه دا ده چه د حروف مده په ذات کښې اصالة د وسعت او مدیت صفت موجود وي.ځکه چه بغیر د دے نه د دے حروفو ذات او وجود قائم نه پاتے کیږي او حروف لین نرمئ او لینیت کښې د حروف مده سره مشابه دي او د دے فرعه ده.

سبب مد: سبب مد نه مراد همزه او سکون دے همزه خواه که په یوه کلمه کښې وي د حروف مده نه بعد راغلے وي او که په دویمه کلمه کښې راغلے وي لکه یَشَآءُ، بِمَآ اُنْزِلَ" او سکون خواه محض سکون وي لکه "آٰلْئٰنَ، قٓ" یا سکون عارضي وي لکه "النَّاسِ" او خَوْفٍ" یا په صورت د تشدید کښې وي لکه "وَلَا الضَّآلِّیْنَ، الٓمّٓ" وغیره پس پوهه شه چه حروف لین د پاره سبب فقط سکو ن دے وجه داده چه حروف لین د مد د پاره محل ضعیفه دے لهذا د دے پاره قوي سبب پکار دے هغه ندے مگر سکون په خلاف د همزے چه هغه د مد سبب ضعیفه دے چه د محل ضعیفه د پاره د سبب جوړیدو طاقت نه لري مد فرعي تفصیلاً په نهه قسمه دے. مد متصل، مد

منفصل، مد لازم کلمي مثقل، مد لازم کلمي مخفف، مد لازم حرفي مثقل، مد لازم حرفي مخفف، مد لین لازم، مد لین عارضي، مد عارضي وقفي. احکام د مد درے دي. لازم، واجب، جائز.

لازم: هغے ته وائي چه د هغے په طول باندے د ټولو قرآء اتفاق وي.

واجب: هغے ته وائي چه په ټولو قراءتونو کښې ثابت وي او په توسط باندے ئے اتفاق وي.

جائز: هغے ته وائي چه په هغے کښې توسط طول سره قصر هم جائز وي

مقدار د مد درے دي:

(۱) طول: درے یا پنځه الف په مقدار دے.

(۲) توسط: دوه الف دوه نیم الف یا څلور الف په مقدار دے.

(۳) قصر: د یو الف په مقدار دے.

قاعده ۱: هر کله چه د حروف مده نه روستو همزه راغلي وي او دا حروف مده او همزه دواړه په یوه کلمه کښې راغلے وي نو هلته به دا حروف مده راښکلي وئیلے شي لکه "سَوَآءٌ، سِيْٓئَتْ" دے مد ته مد متصل او واجب وائي متصل ورته ځکه وائي چه حروف مده او همزه دواړه په یوه کلمه کښې راغلے دي واجب مد ورته ځکه وائي چه په روایتونو کښې ضروري دے چه په هیڅ روایت او قرآءت کښې د دے ترک جائز ندے پس واجب په معني د ضروري دے لکه.

اتحاف الفضلاء کښې فرمائیلے دي. اَلْمُتَّصِلُ وَرَدَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه نصاً فَلِذَا اجْمَعُوا عَلَيْهِ لَا يُعْرَفُ عَنْهُمْ خِلَافٌ فِي ذٰلِكَ حَتّٰى اَنَّ اِمَامُ

الْمُتَأَخِّرِيْنَ يَا مَاهِرَ الْفَنِّ مُحَقِّقِ ابْنِ الْجَزَرِي رحمه الله قَالَ تَتَبَّعْتُ قَصْرَ الْمُتَّصِلِ فَلَمْ أَجِدْهُ فِي قِرَاءَةٍ صَحِيْحَةٍ وَلَا شَاذَةٍ

يعني مد متصل د جناب عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه نه صراحةً وارد دے ځکه ټولو قرآءُ د دے په مد اتفاق کړے دے او په دے کښې د هيچا هم اختلاف معلوم ندے تر دے چه امام المتاخرين ماهر فن شمس الدين ابن الجزري رحمه الله فرمائيلي دي چه ما د متصل د قصر تلاش اوکړلو مګر دا ماته نه په يو قراءت مشهوره کښې ملاؤشو نه په قراءت شاذه کښې ملاؤ شو. او دا هم يا د ساته چه مد متصل کښې مد شرعاً هم ضروري دے ځکه دے باندے علماء کرامو حديث د ابن مسعود رضي الله عنه دليل فرمائيلے دے. او علامه محقق فرمائيلے دي "**هذا حديث جليل حجة و نص في هذا الباب و رجاله ثقات**" يعني دا جليل القدر او عظيم الشان حديث چه په دے باب کښې حجت او نص صريح دے او د دے راويان هم ثقه او قابل اعتماد دي " رواه الطبراني في معجمه الكبير ".

د متصل مقدار توسط دے په توسط کښې امام حفص رحمه الله عليه درے اقوال دي.١. دوه الف.٢. دوه نيم الف.٣. څلور الف يعني.

(١) د عام مشائخ او جمهور اهل ادا په نزد مد اصلي سره څلور الف د مد اصلي نه بغير درے الف دے.

(٢) د بعض حضراتو په نزد باندے مد اصلي سره درے الف د مد اصلي نه بغير دوه الف دے.

(٣) د جمهور اهل عرب په قول د مد اصلي سره درے نيم الف د مد اصلي نه

بغير دوه نيم الف دے دا درے واړه اقوال وجوه صحيح او جائز دي.

قاعده ۲: هر كله چه د حروف مده نه روستو همزه راغلے وي او دا حروف مده او همزه دواړه په يوه كلمه كښي نه وي راغلي بلكه په جدا كلمه كښي راغلے وي يعني د اولے كلمے په آخر كښي د حروف مده نه يو حرف راغلے وي او د دويمے كلمے په اول كښي همزه راغلے وي نو دا حروف مده به راښكلے وئيلے شي لكه " إِنَّآ أَعْطَيْنَا، قَالُوٓا آمَنَّا، ٱلَّذِيٓ أَطْعَمَهُمْ " دلته به دا مد په هغه وخت كښي كيږي چه دواړه كلمے يو ځائے اوائے او كه چرته په اوله كلمه باندے وقف اوكړے بيا مد نه كيږي دے مد ته مد منفصل او جائز وائي.

مقدار د مد منفصل: په مد منفصل كښي هم توسط دے او د توسط درے واړه وجهے پكښى صحيح او جائز دي. دے مد ته مد منفصل او مد جائز هم وائي.

(۱) مد منفصل ورته ځكه وائي چه حروف مده او همزه دواړه په جدا كلمه كښي راغلے وي.

(۲) مد جائز ورته ځكه وائي چه بعض روايتونو كښي په ديكښي قصر هم جائز دے بلكه ځمونږ امام حفص رحمه الله په روايت كښي په طريق طيبه كښي قصر هم جائز دے او په طريق شاطبي كښي صرف توسط دے او دغه شان په اوله كلمه باندے وقف كولو سره هم په كښي قصر جائز دے.

په مد متصل او منفصل کښي پنځه فرقونه دي

(۱) په مد متصل کښي حرف مده او همزه په یوه کلمه کښي وي او په منفصل کښي حرف مده او همزه په جدا کلموکښي راغلے وي.

(۲) مد متصل وصلاً وقفاً دواړه حالاتو کښي کیږي او منفصل صرف وصلاً کیږي وقفاً نه کیږي.

(۳) مد متصل کښي همزه راس العین په شکل وي بغیر د لفظ "اَلسُّوْٓاٰی" او په منفصل کښي د الف په شکل وي بغیر د هٰٓؤُلَآءِ نه.

(٤) په مد متصل کښي مد نخه غټه وي (آ) او په مد منفصل کښي د مد نخه وړه وي (آ).

(٥) مد متصل قوي دے او منفصل ضعیف دے.

قاعده ۳: مد لازم کلمي مخفف هر کله چه د حروف مده نه روستو په یوه کلمه کښي یو ساکن حرف راغلے وي چه هغه سکون اصلي وي یعني د وقف د وجے نه نهٔ وي ساکن شوے نو هلته به دا حروف مده رابښکلے وئیلے شي لکه "آٰلْئٰنَ" دلته پدے کلمه کښي اول حرف همزه دي دویم حرف الف مده دے یعني دا ولاړ زبر د الف مده قائم مقام دے دریم حرف لام ساکن دے چه د هغه سکون اصلي دے یعني د وقف د وجے نه ندے ساکن شوے نو دا حروف مده به رابښکلے وئیلے شي دے مد ته مد لازم کلمي مخفف وائي لازم ورته ځکه وائي چه لازم مد دے کلمي ورته ځکه وائي چه په یوه کلمه کښي راغلے دے مخفف ورته ځکه وائي چه د مد نه روستو سکون راغلے دے مقدار د دے طول دے.

قاعده ۴: مد لازم کلمي مثقل: دیته وائي چه کله د حروف مده نه روستو یو

مشدد حرف په يوه کلمه کښې راغلے وي نو هلته به حروف مده راځکلے
وئيلے شي او دے مد ته مد لازم کلمي مثقل وئيلے شي لکه " اَلضَّآلِّيْنَ "
لازم ورته ځکه وئيلے شي چه په هر حالت کښې په کښې مد کيږي.
او کلمي ورته ځکه وائي چه دواړه په يوه کلمه کښې دي او مثقل ورته ځکه
وائي چه د حرف مده نه روستو مشدد حرف راغلے دے.

فائده: د بعضے سورتونو په شروع کښې چه کوم حروف راغلے دي هغے
ته حروف مقطعات وئيلے شي د مقطعات معنی ده پرے کړے شوی، جدا
کړے شوي يعني دا حروف هم جدا جدا وئيلے شي بيا دا حروف مجموعي
طور سره څوارلس دي چه د هغے مجموعه دا. " كَمْ عَسَلْ نَقَصْ حَيٌّ طَاهِرْ
او دا حروف د يو کم ديرشو سورتونو په اول کښې راغلي دي.

حروف په اعتبار د تلفظ سره په څلور قسمه دي

(۱) **ثنائي**: يعني هغه حروف مقطعات چه د هغو په نامه کښې دوه دوه
حروف دي دا قسم حروف پنځه دي چه (حَيٌّ طَهُرْ) کښې جمع دي پس په
ديکښې د مد فرعي هيڅ قاعده نشته ځکه چه مد د پاره د سبب ضرورت
وي او دلته سبب مد غير موجود دے بلکه صرف محل مد موجود دے چه
صرف مد اصلي به په کښې کيږي نه فرعي

(۲) **ثلاثي بلا مد**: هغه حرف مقطع چه د هغه په نامه کښې خو درے
حروف وي مګر مينځنے حرف په کښې نه مده وي او نه لين وي هغه حرف
الف دے نو ديکښې هم د مد هيڅ قاعده نشته ځکه چه ديکښې محل

موجود نه دے.

(۳) **ثلاثي مدي الاوسط:** یعني هغه حروف مقطعات چه د هغے په نامه کښ درے حروف وي او دویم حرف ئے مده وي دا اوو (۷) حروف دي چه مجموعه ئے ده "كَمْ سَلُ نَقَصْ" نو دے کښ دویم حرف مده دے په دے حروفو کښ به مد لازم حرفي مخفف کیږي.

۴. **ثلاثي لین الاوسط:** یعني هغه حروف مقطعات چه د هغے په نامه کښ درے حروف وي او دویم حرف ئے لین وي هغه عین دے دوه ځایونو. ۱. مریم. ۲. سورت شوری کښ راغلے دي. د دے نوم مد لازم لین دے.

حروف په اعتبار د مقطعاتو سره په پنځه قسمه دي

(۱) **احادي:** یعني هغه مقطعات چه په هغے کښ یو یو حرف وي داسے مقطعات درے دي "صٓ. قٓ. نٓ"

(۲) **ثنائي:** یعني هغه مقطعات چه دوه دوه حروف ملاؤ شوي وی داسے مقطعات نهه دي . یعني "حٰمٓ" شپږ ځائے کښ سورت مؤمن، حم سجده، زخرف، دخان، جاثیه، احقاف "طٰهٰ. طٰسٓ. یٰسٓ"

(۳) **ثلاثي:** یعني هغه مقطعات چه د هغے حروف درے درے یو ځائے شوی وی داسے مقطعات دیارلس دي "الٓمٓ" شپږ ځائے کښې بقره عمران عنکبوت، روم، لقمان، الم سجده، "الٓرٰ" پنځه ځائے کښ. یعني یونس، هود، یوسف، ابراهیم، حجر کښ. "طٰسٓمٓ" دوه ځائے شعراء قصص کښ.

(٤) **رباعي:** هغه مقطعات چه د هغے حروف څلور څلور یو ځائے شوي وي داسے دوه دي. ۱. "الٓمٓصٓ" سورت اعراف. ۲. "الٓمٓرٰ" سورت رعد

(۵) **خماسي:** داسې دوه دي "كٓهٰيٰعٓصٓ" سورت مريم، "حٰمٓ عٓسٓقٓ" سورت شورٰی کښې.

قاعده ۵: مد لازم حرفي مثقل کله چه په مقطعاتو کښې د حرف مده نه روستو مشدد حرف راشي نو په دے کښې به مد کولے شي دیته مد لازم حرفي مثقل وائي لکه "طٰسٓمٓ" کښې سين والا او "الٓمٓ" کښې لام والا مد.

قاعده ۶: مد لازم حرفي مخفف کله چه په مقطعاتو کښې د حروف مده نه روستو اصلي سکون راشي نو پدے کښې به مد کيږي او دے مدته لازم حرفي مخفف وائي لکه "صٓ، نٓ".

نوټ: مد لازم کلمي مخفف. ۲. مد لازم کلمي مثقل.۳. مد لازم حرفي مخفف.۴. مد لازم حرفي مثقل پدے څلورو واړوکښې طول د الف يا پنځه الف په مقدار دے.

قاعده ۷: هر کله چه د حروف مده نه روستو يو حرف ساکن راشي چه د هغے سکون اصلي نه وي يعني د وجے د وقف نه ساکن شوے وي نو هلته مد کول او نه کول دواړه جائز دي لکه "رَبِّ الْعَالَمِيْنَ" ديته مد عارض وقفي وائي پدے مد عارض وقفي کښې طول، توسط، قصر، درے واړه جائز دي ليکن بهتر ديکښې طول دی بيا توسط بيا قصر.

قاعده ۸: مد لين عارض: کله چه د حرف لين نه روستو عارضي سکون راشي نو پدے کښې مد کول جائز دي او دے مدته مد لين عارض ويلے شي لکه "اَلصَّيْفِ، مِنْ خَوْفٍ" په ديکښې قصر،توسط، طول درے واړه قسمه مد جائز دے البته قصر پکښې غوره دے.

قاعده۹: مد لین لازم: کله چه د حرف لین نه روستو اصلي سکون راشي نو پدے مد کول جائز دي او دیته مد لین لازم وئیلے شي مثال د سورت مریم او سورت شوړی د مقطعاتو، عینونه پدے کښې قصر او طول دواړه جائز دي قصر ځکه چه سکون اصلي ماقبل حرف لین دے او طول ځکه چه د عین سره کوم حروف مقطعات راغلي دي په هغے کښې طول کیږي.

د الف د پر والي قاعده

یعني الف چه څنګه په ادا کولو کښې د ماقبل حرف تابع دے دغه شان د ترقیق او تفخیم په مسئله کښې هم د ماقبل حرف تابع دے یعني الف بذات خود پخپله باریک حرف دے لیکن که چرته د الف نه ماقبل حرف مفخم وي نو الف به هم مفخم وي او که ما قبل حرف مرقق وي نو الف به هم مرقق وي لکه "کَانَ، جَآءَ".

خلاصه دا شوه چه کله الف نه ماقبل حروف مستعلیه اووه (۷) وي یا لفظ الله وي چه مخکښې ترے ضمه یا فتحه وي یا را مفتوحه وي نو الف به هم مفخم وي بیا دا یا د ساتل پکار دي چه څومره د غتو حروفو په درجاتو کښې فرق دے دومره د الف د تفخیم په درجاتو کښې هم فرق دے یعني د تفخیم اوله درجه د لفظ الله ده بیا،طا، صاد، بیا ضاد، بیا ظا، بیا قاف، بیا غین، بیا خاء، بیا را یعني د ټولو اول درجه د لفظ الله د لام ده او آخري درجه د (را) ده دغه شان الف چه دے حروفو نه بعد راشي نو دغه ترتیب سره د الف درجات دي.

فائده: په مد متصل او مد منفصل کښې مد متصل قوي دے مد منفصل ضعیف دے ځکه چه په مد متصل کښې چه سبب مد همزه دے دا به د

حروف مده سره په هر حالت کښي موجود وي په هیڅ حالت کښي به ترې جدا نه وي مد منفصل ځکه ضعیف دے چه په دے مد منفصل کښي سبب مد چه همزه دے دا به د حروف مده سره د وصل په حالت کښي یو ځائے وي او د وقف په حالت کښي به ترے نه جدا وي.

په مد عارض او مد لازم دواړو کښي مد لازم قوي دے مد عارض ضعیف دے مد لازم ځکه قوي دے چه په مد لازم کښي سبب مد چه سکون دے دا به د حروف مده سره په هر حالت کښي موجود وي خواه که د وقف حالت وي او که د وصل حالت وي.

مد عارض ځکه ضعیف دے چه پدے کښي سبب مد چه سکون دے دا به حروف مده سره د وقف په حالت کښي موجود وي.

بیا په مد عارض وقفي او مد عارض لین کښي مد عارض وقفي قوي دے.

مد عارض لین ضغیف دے مد عارض وقفي ځکه قوي دے چه پدیکښي محل مد حروف مده دے او په مد عارض لین کښي محل مد حرف لین دے او د مد په باره کښي حروف مده د حروف لین نه اصلي او قوي دے.

فائده: کله چه په یوه کلمه کښي دوه قسمه مدونه جمع شي نو پدے دواړو کښي به اعتبار قوي لره وي او ضعیف لره به نه وي.

د مدونو درجات

(۱) د ټولو نه اوله درجه د مد لازم ده.

(۲) د مد متصل ده.

(۳) د مد عارض وقفي ده.

(۴) د مد منفصل ده.

(۵) د مد لين لازم ده.

(٦) مد لين عارض ده.

دولسمه لمعه د همزه په بيان کښي ده

همزه په دوه قسمه ده (همزه اصلي، همزه زائد).

همزه اصلي: دېته وائي چه د ف ع ل په مقابله کښي راغلي وي لکه "أَمَرَ، سَئَلَ، قَرَأَ".

همزه زائد: دېته وائي چه د "ف ع ل" په مقابله کښي نه وي راغلے لکه "أَمَنَ، إِيْمَاناً" بيا همزه زائده په دوه قسمه ده.(همزه وصلي، همزه قطعي)

همزه وصلي: دېته وائي چه دا به د وقف په حالت کښي ثابت پاتے کيږي او د وصل په حالت کښي بالکل غورځيږي او په حروفو کښي د "ال" والا همزه وصلي ده خو دلته د "ال" نه مراد هغه "ال" دے چه د دے په لرے کيدو سره په کلمه کښي فرق نه راځي او کلمه ثابت پاتے کيږي لکه "اَلْحَمْدُ، اَلْحَقُّ، اَلْحُكْمُ" و غيره بغير د "ال" والا همزه به هميشه زير راځي او که چرته زير پرے نه وي نو ته به ورته زير ورکړے.

په اسمونو کښي اوو همزے وصلي دي.۱. اِسْمٌ.۲. اِبْنٌ.۳. اِبْنَةٌ.۴. اِمْرَءٌ.۵. اِمْرَءَةٌ.۶. اِثْنَانِ.۷. اِثْنَتَانِ.

د دے اسمونو لاندے به زير راځي که زير ترے لاندے نه وي نو ته به ورله زير ورکوے په افعالو کښي د هغه فعل همزه وصلي ده چه د هغے په دريم حرف باندے زبر وي يا لاندے ترے زير وي نو همزه له به زير ورکړے که چرته زير ترے لاندے نه وي نو ته به ورله زير ورکوے لکه " اِذْهَبْ، اِضْرِبْ" که په دريم حرف باندے پيش وي نو په همزه به هم پيش وي که چرته پيش پرے نه وي نو ته به ورله پيش ورکوے لکه " اُقْتُلُوْا".

همزه قطعي: ديته وائي چه دا نه د وقف په حالت کښي غورځيږي او نه د وصل په حالت کښي غورځيږي همزے قطعي دا دي " اِنْ اِذْ، اِنْسٌ، اِکْرَمْ، اِرَمَ، اُقْسِطُوْا، اُخْرِجَتْ" وغيره.

د همزتين في کلمة بحث

کله چه په يوه کلمه کښي دوه همزے جمع شي نو د هغے احکام صفات شپږ دي.

.۱. تحقيق.۲. تسهيل واجب.۳. ابدال واجب.۴. حذف.۵. تسهيل جائز.۶. ابدال جائز مختار.

تحقيق: معني ده همزه د خپل مخرج اصلي نه خه واضحه ښکاره سختي سره د ټولو صفاتو لحاظ ساتلو سره ادا کولو ته تحقيق وائي لکه "ءَاَنْتُمْ".

تسهيل واجب: د تسهيل معني ده نرمي يعني همزه د همزے او الف په مينځ کښي ادا کول يعني همزه داسے ادا کول چه نه بالکل د همزے مخرج اصلي ته اورسي او نه بالکل الف سره بدله شي بلکه نرمئ سره ادا شي لکه " ءَاَعْجَمِيٌّ" دويمه همزه کښي تسهيل واجب دے د امام حفص رحمه الله په روايت باندے.

ابدال واجب: د ابدال معنی ده همزه په حرف مد سره مکمل بدلول ابدال چه په قراءت روايت کښي کوم ځائے ضروري وي نو ديته ابدال واجب وائي لکه "ءَآلْئٰنَ".

حذف: همزه د خپل ذات او اصل نه ختمول دیته حذف وائي لکه "اَطَّلَعَ" چه اصل کښي "ءِاطَّلَعَ" وو.

تسهیل جائز: یعني کوم ځائے کښي چه تسهیل سره بله وجه ابدال وغیره هم وي نو هغے ته تسهیل جائز وائي لکه "آللّٰه" اصل کښي "ءَاللّٰه" وو.

ابدال جائز مختار: یعني کوم ځائے کښي چه ابدال سره بله وجه هم جائز وي لیکن ابدال په کښي غوره وي.

د حفص رحمة الله علیه د پاره همزتین في کلمة پنځه اقسام دي

(۱) کله چه په یوه کلمه کښي دوه همزے جمع شي. دواړه متحرک وي دواړه قطعي وي اوله همزه قطعي مفتوحه استفهامي وي دویم به مفتوح، مکسور، مضموم وي لکه "ءِاِنَّکَ، ءَاُنْزِلَ" د دے حکم دا دے چه داسے دواړه همزو کښي به تحقیق لازم وي.

یعني خپل مخرج اصلي نه به ادا کیږي سختي سره بغیر د یو ځائے نه چه هغه لفظ "ءَاَعْجَمِيٌّ" د دے په دویمه همزه کښي د حفص رحمه الله د پاره تسهیل وجوبي دے چه چا دا تسهیل ادا نه کړو نو د حفص رحمه الله روایت کامل نه شو.

(۲) کله چه یوه کلمه کښي دوه همزے جمع شي دواړه متحرک وي اوله همزه قطعي مفتوح استفهامي وي دویمه همزه وصلي مفتوح وي داسے کلمات درے دي چه قرآن کښي شپږ ځائے کښي راغلي دي.

"آلْئٰنَ". سورة یونس کښي دوه ځائے کښي چه دا په اصل کښي "ءَآلْئٰنَ" وو.۲.

آللّٰه. سورة يونس كښې يو ځائے سورة نمل كښې دا په اصل كښې "ءَاللّٰه" وو.

آلذَّكَرَيْنِ" سورة انعام كښې دوه ځايه راغلے دے دا په اصل كښې "ءَاَلذَّكَرَيْنِ" وو د دے حكم دا دے چه اوله همزه كښې تحقيق دے او دويمه همزه كښې دوه وجوه دي. تسهيل جوازي، ابدال جوازي مختار، ليكن ابدال اولى دے په ابدال كښې اساني ده.

۳. كله چه دوه همزے په يوه كلمه كښې جمع شي اوله همزه قطعي مفتوح استفهامي وي دويمه همزه وصلي مكسور وي نو داسے كلمات په قرآن مجيد كښې اوو (۷) دي.

نام سورت	كلمه اصلي	كلمه موجوده	نمبر
سورت البقره	ءَاِتَّخَذْتُم	قُلْ اَتَّخَذْتُمْ	۱
سورت المنفقون	ءَاِسْتَغْفَرْتَ	اَسْتَغْفَرْتَ	۲
سورت مريم	ءَاِطَّلَعَ	اَطَّلَعَ الْغَيْبَ	۳
سورت السباء	ءَاِفْتَرٰى	اَفْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ	۴
سورت الصافات	ءَاِصْطَفٰى	اَصْطَفَى الْبَنَاتِ	۵
سورت ص	ءَاِسْتَكْبَرْتَ	اَسْتَكْبَرْتَ	۶
سورت ص	ءَاِتَّخَذْنَاهُمْ	اَتَّخَذْنَاهُمْ	۷

د دے حكم دا دے چه دلته دويمه همزه چه وصلي ده هغه حذف شوه او دا حذف واجب دے.

(٤) كله چه دوه همزے يوه كلمه كښې جمع شي اوله همزه قطعي متحرك وي او دويمه قطعي ساكن وي لكه " اٰمَنَ، اٰمَنُوْ، اِيْمَاناً اُوْتُمِنَ " دا به اصل كښې "ءَاْمَنَ، ءَاْمَنُوْ، ءِاْمَانًا، اُءْتُمِنَ" وو. دويمه همزه كښې ابدال اوشو د دے حكم دا دے چه دلته به دويمه همزه د اولے همزے د حركت مطابق په حرف مده سره

بدلول واجب دي.

يعني دلته ابدال وجوبي دے کله چه په اوله همزه باندے زبر وي دويمه همزه به په الف سره بدليږي لکه "اٰمَنَ" که په اوله همزه لاندے زير وي نو دويمه همزه به په ياء سره بدلولے شي لکه "اِيْمَانًا" که په اوله همزه باندے پيش وي نو دويمه همزه به په واو سره بدليږي لکه "اُوْتُمِنَ"

(۵) کله چه يوه کلمه کښې دوه همزے جمع شي اوله همزه وصلي متحرک وي دويمه همزه قطعي ساکن وي لکه "اِيْتُوْنِي، اُوْتُمِنَ" چه دا په اصل کښې "اِئْتُوْنِي، اُءْتُمِنَ" وو د دے حکم دا دے چه وقف کښې د اولے همزے اثبات دے او د دويمے ابدال دے د "اٰمَنَ، اِيْمَانًا" پشان او په وصل کښې د اولے همزے حذف دے او د دويمے همزے اثبات دے لکه "فِي السَّمٰوٰتِ، ائْتُوْنِي، الَّذِيْ اؤْتُمِنَ، قَالُوا ائْتُمِنَا".

فائده: کله چه حرف ساکن نه پس همزه راشي نو هغه صفا او واضحه وئيل او ماقبل سکون خالص ادا کول پکار دي بعض ماقبل حرف ادا کوي لکه "قَدْ اَفْلَحَ، فِي الْاَرْضِ".

فائده: همزتين في کلمتين چه کوم ځائے هم راشي نو هلته حفص رحمة الله صرف تحقيق کوي لکه "هٰؤُلَآءِ اِنْ"

فائده: قرآن کښې د سورت حجرات په دويمه رکوع کښې "بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ" راغلے دے دا په اصل کښې "بِئْسَ الْاِسْمُ الْفُسُوْقُ" وو د اَل والا همزه وصلي ده د سين او د لام په مينځ کښې راغلے ده نو او غورزيده د اسم همزه هم

وصلي ده دا هم په مينځ کښې راغله نو اوغورزيده اجتماع د ساکينينو راغله د لام او د سين په مينځ کښې نو لام ته مو د عربئ د دے قاعدے موافق زير ورکړو هغه قاعده دا ده "اَلسَّاکِنُ اِذَا حُرِّکَ حُرِّکَ بِالْکَسْرَة" دا به داسے وائے چه د "بِئْسَ" په سين به زبر وائے روستو حرف سره به ئے وصل نه کوے او روستو لام لاندے به زير وائے ميم به روستو لام سره ملاؤ کړے نو "بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ" به وائے.

ديارلسمه لمعه د وقف په قاعدو کښي ده

د تجويد اصل بحث د مخارجو او صفاتو سره دے د الله تعالي په فضل سره د ضرورت مطابق هغه مخکښي اوليکلے شو باقي نور دا دے علوم د دے فن تکميل دے علم اوقاف، علم قراءت، علم رسم الخط.

په علم اوقاف کښي دا بيانيږي چه په کوم ځائے وقف پکار دے او په کوم ځائے ندے پکار او په علم قرآت کښي دا بيانيږي چه د قرآن مجيد د کلماتو په کومو طريقو سره د وئيلو اجازت شته او په کومو طريقو سره نشته او په علم رسم الخط کښي دا بيانيږي چه بعض کلمے ليکلے شي يو شان خو وئيلے کيږي بل شان يعني د رسم الخط خلاف دا ټول مضامين د يو بل سره تعلق لري ځکه چه پدے ټولو کښي د قرآن د الفاظو نه بحث کيږي.

وقف په لغت کښي: "اَلْکَفُّ عَنِ الْفِعْلِ وَالْقَوْلِ" يعني د يو کار کولو يا د څه خبرو کولو د وجے نه اودريدل.او اصطلاح کښي "قَطْعُ الصَّوْتِ عَلَى الْکَلِمَةِ زَمَناً يَتَنَفَّسُ فِيْهِ عَادَةً بِنِيَّةِ اِسْتِيْنَافِ الْقِرَاءَةِ لَا بِنِيَّةِ الْاَعْرَاضِ" (النشر في القرات العشر جا،ص۲۴۰).

په کلمه باندے آواز دومره قدر وخت د پاره بندول چه په هغے کښې انسان فطري طور باندے ساه اخلي باوجود د دے چه د قراءت د بندیدو اراده ئې نه وي خو د مخکښې قراءت کولو اراده ئې وي.

علم وقف کښې دوه خبرے پیژندل ضروري دي. کیفیت وقف، محل وقف.

کومے طریقے سره چه وقف کوے د غے طریقے ته کیفیت وقف وائي.

او په کوم ځائے چه وقف کوے هغه ته محل وقف وائي. کیفیت وقف په څلور قسمه دي. کیفیت وقف بلحاظ آداء، کیفیت وقف بلحاظ اصل، کیفیت وقف بلحاظ رسم، کیفیت وقف بلحاظ وصل.

کیفیت وقف بلحاظ آداء: د دے څلور قسمه دي. وقف بالاسکان، وقف بالابدال، وقف بالاشمام، وقف بالروم.

وقف بالاسکان: دیته وائي چه په کوم حرف باندے وقف کوے نو هغه حرف به بالکل ساکن کړے. دا وقف بالاسکان په زبر زیر پیش دوه زبرونه دوه پیشونه ولاړ زیر الټا پیش باندے کیږي لکه "تَعۡلَمُوۡنَ".

وقف بالاشمام: دیته وائي چه په کوم حرف باندے وقف کوے نو هغه حرف به بالکل ساکن کړے او د حرف ساکن کولو نه روستو به شونډے ګول کړے دا وقف صرف په پیش باندے کیږي که یو وي او که دوه وي لکه "مُنۡتَصِرٌ"، وقف بالاشمام په لسو ځایونو کښې منع د ے.

۱. زبر.۲. دو زبر.۳. زیر.٤. دو زیر.٥. ولاړ زیر.٦. سکون اصلي.۷. حرکت عارضي.۸. میم جمع. ۹. تائے مدوره کول ة. ۱۰. ولاړ زبر، لکه "اَلۡعٰلَمِیۡنَ، بَصِیۡرًا، اَلرَّحِیۡمِ، مِنۡ رِّزۡقِیۡ، بِهٖ، فَحَدِّثۡ، اِشۡتَرَوُا الۡکُفۡرَ، په واو باندے "اِلَیۡهِمُ الۡقَوۡلَ، په میم باندے مُطَهَّرَةٌ په تائے مدوره باندے، حَقّٖ.

وقف بالروم: دیته وائي چه په کوم حرف باندے وقف کوے نو هغه حرف به

بالکل نه ساکن کوے بلکه پدے وقف کښې به د حرکت دريمه حصه ښکاره کيږي چه نږدے ناست کس ئے واوريږي دا وقف بالروم صرف په زير او پيش باندے کيږي که يو وي او که دوه وي لکه "وَالْفَجْرِ، مُنْتَصِرٌ".

په شپږ ځايونو کښې وقف بالروم منع دے.١. فتحه لکه "عَادَ".٢. دو زير لکه "مَذْحُوراً".٣. سکون اصلي لکه "فَانْصَبْ".٤. حرکت عارضي لکه "وَأَنْذِرِ النَّاسَ" په را باندے.٥. ميم جمع باندے لکه "بِهِمُ الْأَسْبَابُ" په ميم باندے.٦. تاء تانيث تائے مدوره ګول ة باندے لکه "مُكَرَّمَةٍ".

وقف بالابدال: دېته وائي چه دا وقف بالابدال به په دوه زبر والا" تنوين اور په تاء مدوره باندے کيږي دو زبر والا" تنوين به په وقف کښې په الف سره بدليږي خو پدے شرط چه دو زبر والا" تنوين په تائے مدوره باندے نه وي راغلے چه تائے مدوره په وقف کښې په "هائے ساکنه" سره بدليږي دا کيفيت وقف د ادا په لحاظ سره وو.

کيفيت وقف د اصل په لحاظ سره هم په څلور قسمه دي

١. **وقف بالسكون:** دېته وائي چه په کوم حرف باندے نه وقف کوے چه هغه حرف د مخکښې نه ساکن وي يعنې د وقف د وجے نه نهٔ وي ساکن شوے لکه "فَلَا تَقْهَرْ".

٢. **وقف بالتشديد:** دېته وائي چه نه په کوم حرف باندے وقف کوے چه هغه حرف مشدد وي لکه "مُسْتَقِرٌّ".

٣. **وقف بالاظهار:** دېته وائي چه نه په کوم حرف باندے وقف کوے چه هغه حرف مدغم وي يعنې په روستو حرف کښې ئے ادغام شوے وي لکه "

يَلْهَثْ ذَّٰلِكَ" يا دا حرف مخفف وي يعني په روستو حرف کښي اخفاء شوے وے لکه "مِنْ قَبْلِ مَنْ تَشَآءُ" نو که چرے ته په رومبي کلمه وقف اوکړے نو دے وقف ته وقف بالاظهار وائي

۴. **وقف بالاثبات:** دیته وائي چه دا حروف مده پورے خاص دے یعني هغه حروف چه د وصل په وجه سره حذف شوے وي او ته په هغے وقف اوکړے نو هغه به ثابت شي لکه " لٰكِنَّا هُوَ اللّٰهُ" او یا دا حروف مده د اجتماع ساکنین په وجه سره غور زیدلے وي لکه " وَقَالُوا الْحَمْدُ" او یا دا حروف مده د رسم الخط په وجه سره غورزیدلے وي لکه "يَسْتَحْيِ"

کیفیت وقف بلحاظ رسم: چه د قرآن کریم د لیکلو په اعتبار سره وقف اوکړے شي هغے ته کیفیت وقف بلحاظ رسم وائي دا وقف په دوه قسمه دے.۱. موافق رسم موافق وصل. ۲. موافق رسم مخالف وصل.

موافق رسم موافق وصل: هغے ته وائي چه په داسے کلمه باندے وقف اوکړے چه هغه وصلاً څنګه وئیلے شي وقفاً هم هغه شان اوئیلے شي لکه "مَاهِيَهْ" دیته هائے ساکنه وائي داسے کلمات قرآن مجید کښي اووه (۷) دي.

(۱. لَمْ يَتَسَنَّهْ [بقره].۲.. اِقْتَدِهْ [انعام].۳.. كِتَابِيَهْ [دوه ځایه سورة حاقه کښي].۴.. حِسَابِيَهْ [دوه ځائے حاقه].۵..مَالِيَهْ [حاقه].۶.. سُلْطَانِيَهْ [الحاقه].۷.. مَاهِيَهْ [القارعه] دیته وقف بالالحاق هم وائي.

موافق رسم مخالف وصل: هغے ته وائي چه په داسے کلمه باندے وقف اوکړے شي چه وقف د رسم الخط سره مطابق وي لیکن وصل سره مطابق نه

وي لیکن د رسم سره یو شان وي خو په وصل کښي دغه شان نه شي وئیلے

لکه "اَنَا، لٰکِنَّا" داسے کلمات ټول قرآن مجید کښي اوه دي.

..۱. لٰکِنَّا [سورت کهف]۲.. اَلظُّنُوْنَا [سورت احزاب].۳. اَلرَّسُوْلَا ..٤. اَلسَّبِيْلَا [دواړه سورت

احزاب کښي].٥.. اولنے قَوَارِيْرَا [سورت دهر]٦.. سَلٰسِلَا [دهر].۷..لفظ اَنَا ټول قرآن مجید

کښي په سَلٰسِلَاْ کښي دوه قسمه وقف کولے شي. ۱.. سَلَاسِلا الف سره یعني موافق

رسم الخط.۲..سَلَاسِلْ د الف نه بغیر لام ساکن سره دا مخالف رسم دے.

کیفیت وقف بلحاظ وصل: د دے مطلب دا دے چه یوه کلمه څنګه په وصل

کښي وئیلے شي هغه شان د هغے مطابق وقف اوکړے شي دا په دوه قسمه دے.۱.

موافق وصل مخالف رسم بالحزف... موافق وصل مخالف رسم بالاثبات.

..۱. **وقف موافق وصل مخالف رسم بالحزف:** یعني د وصل موافق اوکړے

شي خو د رسم مخالف وي لکه "تَتْلُوَا، ثَمُوْدَا" داسے کلمات قرآن مجید کښي

لس دي..۱. اَوْ يَعْفُوَا [سورت بقره].۲. اَنْ تَبُوْٓاَ [سورت مائده].۳. لِتَتْلُوَا [رعد]..٤.

لَنْ نَّدْعُوَا [کهف].٥. لِيَرْبُوَا [سورت روم].٦. لِيَبْلُوَا..۷. وَنَبْلُوَا [سورت محمد].۸..

ثَمُوْدَا څلور ځایه [هود، فرقان، عنکبوت نجم کښي].۹.. دویم قَوَارِيْرَا [دهر کښي].۱۰..

اَنْ اَتْلُوَا [نمل کښي] دا د وصل موافق دے خو د رسم مخالف دے ځکه چه

الف حذف شو.

..۲. **وقف موافق وصل مخالف رسم بالاثبات:** که چرته وقف د وصل مطابق

وي او د رسم الخط خلاف وي خو کلمه کښي د یو حرف اثبات زیاتوالے

راشي لکه "يَسْتَحِيْ، فَاْوٗ، لِتَسْتَوٗ، فَلَمَّآ اٰتٰنِ، فَمَآ اٰتٰنِ" کښي نون ساکن سره

هم وقف جائز دے دا به بيا موافق رسم راشي.

وقف په اعتبار د محل سره په څلور قسمه دي

.١. وقف تام.٢. وقف كافي.٣. وقف حسن.٤. وقف قبيح.

وقف تام: هغے ته وائي چه ته په يوه داسے کلمه باندے وقف اوکړے چه د هغے تعلق د ما بعد سره نه لفظاً وي او نه معناً وي لکه " **هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ** ".

وقف كافي: هغه دے چه ته په يوه داسے کلمه باندے وقف اوکړے چه د هغے تعلق د مابعد سره لفظاً نه وي او معناً وي لکه **يُنْفِقُوْنَ، يُوْقِنُوْنَ**.

وقف حسن: هغه دے چه ته په يوه داسے کلمه باندے وقف اوکړے چه د هغے تعلق د مابعد سره لفظاً وي او معناً نه وي لکه " **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ** " موصوف دے او صفت ئے " **رَبِّ الْعَالَمِيْنَ** " دے نو د " **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ** " سره لفظي تعلق دے.

کچرے وقف حسن د آيت په مينځ کښ وي نو بيا خو اعاده د ماقبل نه ضروري ده اوکه چرته وقف حسن په آيت باندے وي نو بيا اعاده نشته لکه " **اَلْعَالَمِيْنَ** "

وقف قبيح: هغه وقف دے چه ته په يو داسے کلمه باندے وقف اوکړے چه د هغے د ما بعد سره تعلق لفظي او تعلق معنوي دواړه وي لکه "**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ**" کښے په "**اَلْحَمْدُ**" او "**وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ**" کښئ په "**وَاِذْ قَالَ**" باندے وقف اوکړے په دے موقعو باندے صرف اضطرارًا وقف جائز دے او په خپل اختيار سره په دے باندے وقف جائز نه دے ځکه چه دلته کلام نه پوره

کیږي او د دینه څه مفید مطلب نه روځي.

د محل په اعتبار سره دوه قسمه وقفونه نور هم دي هغه دا دي.۱. وقف لازم.۲. وقف اقبح.

وقف لازم: یو داسې ضروري وقف دے کچرته پدے باندے وقف اونه شي نو یوه نا مناسبه معني به ذهن ته راشي لکه په "نَحْنُ اَغْنِيَآءَ" باندے وقف اونه کړے او ورسره "سَنَكْتُبُ مَاقَالُوْا" اوائے.

وقف اقبح: یو داسې نا مناسبه او اقبح وقف دے چه د دے وقف کولو سره یو غلطه معني ذهن ته راشي لکه چه ته وقف اوکړے په "مَامِنْ اِلٰهٍ" باندے نو د دے معنی غلطه جوړیږي یا وقف اوکړے "لَاتَقْرَبُو الصَّلٰوةَ" باندے.

وقف په اعتبار د قاري سره په څلور قسمه دي

..۱. وقف اختیاري..۲. وقف اضطراري..۳. وقف انتظاري..٤. وقف اختباري.

وقف اختیاري: کله چه یو قاري په خپل اختیار سره وقف اوکړي نو پداسې ځائے دے وقف اوکړي چه هلته جمله پوره وي نو داسې وقف اختیاري وي یا به تام وي یا به کافي وي یا به حسن وي یعني دا درے واړه (تام کافي حسن) د اختیاري اقسامو شو.

وقف اضطراري: کله چه قاري د مجبورئ د وجې نه په یوه کلمه یعني په جمله ناتمام باندے وقف اوکړي نو دیته وقف اضطراري وئیلے شي او وقف قبیح د دے قسم دے.

وقف انتظاري: کله چه یو قاري د قراءتونو د جمع کیدو د پاره په یوه کلمه

کښي وقف اوکړي او انتظار ئی وي بل قراءت ته نو ديته وقف انتظاري وئيلے شي.

وقف اختباري: کله چه يو قاري د امتحان د وجے نه وقف اوکړي يعني استاذ ورته او وائي چه پدے کلمه باندے وقف څنګه کيږي او دا قاري وقف اوکړي ديته وقف اختباري وئيلے شي.

تنبيه: مخکښي چه کومه قاعده تيره شوه چه يوه کلمه څنګه ليکلے شوے وي نو د هغے موافق وقف کول پکار دي نو د دغے قاعدے نه دا الفاظ مستثنٰی دي يعني ديارلس الفاظ داسے دي چه هغه به وقفاً او وصلاً د رسم الخط خلاف وئيلے شي يعنی الف به پکښي په هيڅ حالت کښي نه شي وئيلے هغه الفاظ دا دي.

أَوْ يَعْفُوَا	سورت بقره	ثَمُوْدَا	سورت الفرقان
لِتَتْلُوَا	سورت الرعد	ثَمُوْدَا	سورت النجم
لِيَرْبُوَا	سورت الروم	أَنْ تَبُوْاَ	سورت المائدہ
نَبْلُوَا	سورت محمد	لَنْ نَدْعُوَا	سورت الکهف
لِيَبْلُوَا	سورت محمد	ثَمُوْدَا	سورت العنکبوت
ثَمُوْدَا	سورت هود	دويم قَوَارِيْرَا	سورت الدهر
اَنْ اَتْلُوَا	سورت نمل		

اووه کلمے داسے دي چه د وقف په حالت کښي به د رسم الخط مطابق وي يعني الف به پکښي وئيلے شي او د وصل په حالت کښي به د رسم الخط مخالف وي يعني الف به پکښي نه شي وئيلے هغه الفاظ دا دي.

لٰكِنَّا.سورت کهف: اَلظُّنُوْنَا. سورت احزاب

اَلرَّسُوْلَا. سورت احزاب: اَلسَّبِيْلَا. سورت احزاب

سَلْسَبِيْلًا. سورت الدهر: رومبے قَوَارِيْرَا. سورت الدهر

اٰنَا. هر ځائے کښې چه راشي او کچرے لفظ د سَلَاسِلَا دوقف په حالت

کښې بغير د الف نه اوئيلے شي نو هغه هم جائزدي يعني سَلَاسِلْ.

څوارلسمه لمعه د مختلفو ضروري فائدو په بيان کښې ده

اکر چه د دے فائدو نه بعضے فائدے مخکښې هم معلومے شويدي ليکن هر کله چه د نورو مضامينو په سلسله کښې بيان شويدی نو شايد په خيال کښې به پاتے نه وي د دے د پاره دغه فائدے مے بيا اوليکلے او چه پدي کښې نورے فائدے هم دي.

فائده ۱: د سورت کهف په پينځمه رکوع کښې دے "لٰكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ" يعني "لٰكِنَّا۠" کښې الف ليکلے دے مګر دا وئيلے نشي کچرے په دے باندے څوک وقف اوکړي نو هغه وخت به وئيلے شي. ځکه چه وقف د رسم الخط تابع دے.

فائده ۲: د سورت دهر په اول کښې دے "سَلَاسِلَا۠" يعني د دويم لام نه بعد هم الف خو ليکلے دے مګر دا هم وئيلے نشي البته د وقف په حالت کښې د الف وئيل او نه وئيل دواړه صحيح دي او اول نه پس چه کوم الف ليکلے دے هغه هر حال کښې وئيلے شي.

فائده ۳: دا د سورت دهر د مينځ قريب چه قَوَارِيْرَا۠، قَوَارِيْرَا۠. دوه ځله

دے او دوارو په اخر کښې الف لیکلے دے نو د دے قاعده دا ده چه دویم ځائے کښې شو به په هیڅ حال کښې الف نشي وئیلے که وقف وي اوکه نه وي او په اول ځائے کښې که وقف اوکړے نو الف به وائي او که وقف نه کړے نو الف به نشي وئیلے زیات عادت دا دے چه په اول ځائے (لفظ) وقف کوي دویم ځائے کښې نه کوي نو پدے سورت کښې په اول ځائے کښې الف وایه او په دویم ځائے کښې مه وایه.

فائده ٤: په سورت هود کښې به " بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖهَا " کښې اماله شوے ده چه بیان ئے اتمه لمعه کښې تیر شویدے د دے نه علاوه په نورو روایتونو کښې نورے امالے هم راغلے دي لیکن د امام حفص رحمه الله د روایت مطابق صرف دغه یو اماله ده.

فائده ٥: په سورت حم سجده کښې په یو ځائے کښې تسهیل شوے دے "ءَاَعْجَمِيٌّ" د دے بیان په دولسمه لمعه کښې تیر شویدے دا دویمے همزه به د الف او همزے په مینځ کښې ادا کیږي نه به بالکل الف وئیلے شي او نه به بالکل همزه وئیلے کیږي.

فائده ٦: په قرآن مجید کښې د ادغام متجانسین ناقص د حرف طاء په حرف تاء کښې څلور مثالونه دي یعنې "لَئِنْۢ بَسَطْتَّ" پاره شپږمه سورت مائده، مَا فَرَّطْتُّمْ پاره دیارلسمه، اَحَطْتُّ پاره نورلسمه (١٩) مَا فَرَّطْتُّ پاره څلیریشتمه سورت زمر د دے د ادا کولو طریقه دا ده چه د طاء صفت استعلاء او اطباق به باقي اوساتلے شي او بغیر د قلقلے نه به ئے ادا کړے او که چرته صفت قلقله ادا شوه نو بیا ادغام نه شو بلکه اظهار شو وریسے

تاء به باریک ادا کیږي په " اَلَمۡ نَخۡلُقۡكُمۡ " کښې بهتره خبره دا ده چه ادغام تام اوشي يعني قاف په کاف کښې مکمل مدغم شي قاف او نه وئيلے شي په دیکښې ادغام ناقص هم جائز دے خو بهتر پکښې ادغام تام دے.

سوال: حرف طاء او حرف قاف خو دواړه قوي دي او د طاء ادغام په حرف تاء کښې صرف ناقص دے تام جائز نه دے او د حرف قاف ادغام په حرف کاف کښې ناقص او تام دواړه جائز دي دا ولے ؟

جواب: په حرف طاء کښې شپږ صفات قوي دي نو دا اقوي حرف شو او په قاف کښې پنځه صفات قوي دي اویو صفت انفتاح پکښې ضعيف دے نو دا قوي حرف شو نو د دے وجے نه د طاء ادغام په تاء کښې صرف ناقص دے او په کاف کښې د قاف ادغام ناقص او تام دواړه جائز دي ليکن تام بهتر دے ځکه د ادغام مقصد آساني حاصلول دي.

فائده ۷: په دولسمه سپاره سورت يوسف کښې ايت ۱۱ "لَا تَاۡمَنَّا" په نون کښې اشمام وصلي دے دلته دوه وجوه دي..۱. ادغام مع الاشمام..۲. اظهار مع الروم دا په اصل کښې "لَا تَاۡمَنُنَا" وو اول نون مضموم دويم نون مفتوح.

ادغام مع الاشمام: ديته وائي چه اول نون په دويم کښې مدغم کړے او د نون ادا کولو حالت کښې به د ضمے په شان په شونډو باندے اشاره اوکړے د دے اصل اندازه د استاذ شونډو ته په کتلو سره کيږي.

اظهار مع الروم: ديته وائي چه د اول نون حرکت ضمه کښې دريمے حصے حرکت ښکاره شي بغير غنه ادا شي ليکن اول وجه ادغام مع الاشمام اولي دے او خالص ده ادغام حالص اظهار جائز ندے.

فائده ۸: د امام حفص رحمه الله په روایت کښې په ټول قرآن کښې څلور سکتې دي سکته هم د وقف پشان ده خو په سکته او په وقف کښې دا فرق دے چه په وقف کښې ساه او آواز دواړه بندیږي او د سکتې د کولو په وخت کښې آواز لږ بند شي خو ساه په کښې جاري وي او هغه څلور سکتې دا دي.

۱. سورت کهف په اول کښې چه په "**عِوَجاً قَيِّماً**" کښې په **عِوَجاً** باندے وقف او نه کړے بلکه د **قَيِّماً** سره ئے ملاؤ کړي نو بیا به اخفاء نه کوي بلکه د **عِوَجاً** دا تنوین به په الف سره بدل کړي او سکته به اوکړي.

۲. دیروشتمه (۲۳) پاره کښې په سورت یٰس کښې د "**مَرْقَدِنَا**" په الف باندے سکته ده نو دا به د روستو کلمے یعني **هٰذَا** سره یو ځائے اوا ئے او سکته به اوکړي.

۳. په یو کم دیرشمه (۲۹) پاره کښې په سورت قیامه کښې په لفظ "**مَنْ رَاقٍ**" باندے سکته ده دلته د حروف یرملون د قاعدے موافق ادغام پکار وو ځکه چه د (ن) ساکن نه روستو را لیکلي شوے ده لیکن هر کله چه سکته د وقف پشان ده نو د (ن) او را په مینځ کښې اتصال پاتے نه شو نو د دے وجے نه ادغام نه دے شوے بلکه دلته صرف سکته ده.

په دیرشمه پاره کښې په سورت مطففین کښې د "**بَلْ رَانَ**" په لام باندے سکته ده دلته ادغام کیدو خو ادغام اونه شو ځکه چه ادغام د پاره خو وصل شرط دے او سکته خو د وقف پشان ده نو د لام او را په مینځ کښې اتصال

پاتے نه شو د دے وجے نه ادغام ندے شوے بلکه دلته سکته ده.

فائده ۹: په قرآن مجید کښې چه چرته پیش راشي هغه ته د واؤ معروف اثر ورکولے شي او چرته چه زیر راشي نو هغے د یاء معروف اثر ورکولے شي په قرآن کښې په کوم ځائے کښې په (ی) مشدد یا په (واو) مشدد باندے وقف کوے نو په سختئ سره به وقف اوکړے چه مشدد باقي پاتے شي لکه "عَلِيٌّ النَّبِيِّ عَدُوٌّ".

فائده ۱۰: په سورت یوسف کښې دي " لَيَكُونًا مِّنَ الصّٰغِرِيْنَ" او په سورت علق کښې دي " لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ " نو کچرے په "لَيَكُونًا " او لَنَسْفَعًا " باندے وقف اوکړے شي نو تنوین به په الف سره بدلولے شي او تنوین به نشي وئیلے.

په قرآن مجید کښې څلور کلمات داسے دي چه لیکلے شوے خو په صاد سره دي او د صاد د پاسه وړوکے شان سین لیکلے شوي وي هغه کلمات دا دي.

۱. يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ. سورت بقره.

۲. فِي الْخَلْقِ بَصْۜطَةً. سورت اعراف

۳. أَمْ هُمُ الْمُصَۜيْطِرُوْنَ. سورت طور

۴. بِمُصَۜيْطِرٍ. سورت غاشيه.

د دے حکم دا دے چه په اولنو دوؤ کلمو کښې به سین وئیلے شي په دریمه کلمه کښې اختیار دي صاد وئیل هم جائز دي او سین وئیل هم جائز دي او څلورمه کلمه کښې به صاد وئیلے شي.

فائده ۱۱: په قرآن مجيد کښې اته کلمات پنځلس ځايونو کښې راغلے دي چه ديکښې الف ليکلے دے خو وئيلے نشي.

۱. سورت ال عمران کښې "**لَاۡاِلَى اللّٰهِ تُحۡشَرُوۡنَ**".

۲. سورت ال عمران کښې "**لَاۡنۡفَضُّوۡا**".

۳. سورت ال عمران کښې "**اَفَاۡئِنۡ مَّاتَ**".

۴. سورت توبه کښې "**وَلَاۡاَوۡضَعُوۡا**".

۵. سورت يونس کښې "**وَمَلَاۡئِهِمۡ**".

۶. سورت انبياء کښې "**اَفَاۡئِنۡ مِّتَّ**".

۷. سورت نمل کښې "**اَوۡلَاۡاَذۡبَحَنَّهٗ**".

۸. سورت صٰفٰت کښې "**لَاۡاِلَى الۡجَحِيۡمِ**".

۹. سورت حشر کښې "**لَاۡاَنۡتُمۡ**".

۱۰. **وَمَلَاۡئِهٖ** تر ۱۵ پورے شپږ ځايه کښې يعني اعراف يونس، هود، مؤمنون، قصص، زخرف. کښې دے ټولو کښې ليکلے شوے لا دے ليکن وئيلے شي ل.

۲. قرآن مجيد کښې پنځلس کلماتو کښې واؤ زائد دے. ۱. **اَلۡحَيٰوةَ**. ۲. **اَلصَّلٰوةَ**. ۳. **اَلزَّكٰوةَ**. ۴. **كَمِشۡكٰوةٍ**. ۵. **اَلرِّبٰوا**. ۶. **اَلنَّجٰوةِ**. ۷. **اُولٰٓئِكَ**. ۸. **اُولَاۤءِ**. ۹. **اُولٰٓئِكُمۡ**. ۱۰. **اُولِيۡ** اُولُو. ۱۱. **اُولَاتِ**. ۱۲. **مَنٰوةَ**. ۱۳. **بِالۡغَدٰوةِ**. ۱۴. **سَاُورِيۡكُمۡ**. ۱۵. **وَلَاُوصَلِّبَنَّكُمۡ**. دوه ځايه په

سورت روم کښې. (ایضاح المقاصد)

درے کلمات " مِنْ ضُعْفٍ بَعْدِ ضُعْفٍ، قُوَّةٍ ضُعْفاً " دي دے کښې د
حرف ضاد ضمه ده دلته د ضاد فتحه هم جائز ده لکه مِنْ ضَعْفٍ بَعْدِ
ضَعْفٍ، قُوَّةٍ ضَعْفاً. وئيل ليکن ضمه بهتر ده.

دولس کلمات داسے دي چه هلته الف زائد وي وئيلے نه شي. أَوْ يَعْفُوَا، أَنْ
تَبُوْا، لِتَتْلُوَا، لَنْ نَّدْعُوَا، لِيَرْبُوَا، لِيَبْلُوَا، وَنَبْلُوَا، ثَمُوْدَا، څلور ځايه دويم
قَوَارِيْرَا، أَنْ أَتْلُوَا، لِشَايْءٍ، مِنْ نَّبَايْءِ.

تنبيه: مخکښې چه کومے قاعدے ذکر شوے نو په دے کښې خو اکثر
هغه دي چه د هيڅا په کښې اختلاف نشته او په کومو قاعدو کښې چه
اختلاف دے نو په هغے کښې د امام حفص رحمه الله د روايت مطابق
قاعدے ليکلے شوے دي د چا د روايت مطابق چه مونږه قرآن وايو په
قرآن مجيد کښې بعض کلمے داسے چي د الله تعالي طرف نه پيغمبر ﷺ
ته په مختلفو طريقو سره د هغے د وئيلو اجازت ورکړے شوے وؤ لکه
(مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ) په ځائے (مَلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ) او (وَمَا
يَخْدَعُوْنَ) په ځائے (وَ مَا يُخَادِعُوْنَ) وغيره نو دے اختلاف ته د
قراءتونو اختلاف وئيلے کيږي او د ډيرو صحابو رضي الله عنهم د
پيغمبر ﷺ نه حاصل کړے وؤ او بيا صحابه رضي الله عنهم خپلو شاګردانو ته
اوښودل يعني (تابعينو ته) او بيا صحابه رضي الله عنهم او تابعينو ډيرو حضراتو دا
علم حاصل کړو ليکن په دے کښې لس کسان داسے وو چه اکثر

خلق ئے پیژني او دغے لس کسانو ته د قراءتو امامان وئيلے شي د هغو لسو امامانو او قراء عزتمند او قدر مند نومونه دا دي.

۱. امام نافع بن عبد الرحمن بن ابي نعيم المدني رحمهم الله.

۲. عبد الله بن كثير مكي رحمه الله.

۳. امام ابو عمر بصري رحمه الله.

٤. امام عبد الله بن عامر شامي رحمه الله.

٥. امام عاصم بن ابي النجود كوفي رحمه الله.

٦. امام حمزه بن خبيب زيات كوفي رحمه الله.

۷. امام علي بن حمزه كسائي كوفي رحمه الله.

۸. امام ابو جعفر يزيد بن قعقاع مدني رحمه الله.

۹. امام يعقوب بن اسحاق حضرمي رحمه الله.

۱۰. امام خلف بن هشام بغدادي رحمه الله.

جزى الله بالخيرات عنّا ائمة   لنا نقلوالقرآن عذبا وسلسلا.

ترجمه : الله دے ځمونږ د طرف نه دغه ائمو ته د خير بدله ورکړي چه رانقل کړے دے مونږ ته قرآن په داسے حال کښے چه ښوږوالے او شين والے دے پکښے.

او په دوئي کښي د هر يو بے شماره شاګردان وو ليکن په دغه شاګردانو کښي د هر يو استاذ دوه دوه شاګردان داسے مشهور شول چه هغوي هم د خپلو استاذانو پشان په ټوله دنيا کښي مشهور شول په دغے لس امامانو کښي يو امام عاصم هم دے د ده په دوو مشهور شاګردانو کښي يو امام شعبه رحمه الله وو او دويم امام حفص رحمه الله وو. اګر چه د دغے ټولو

قاریانو قرآتونه او د هغوي شاګردانو نه روایتونه هم په دنیا کښې وئیلے کیږي او علماؤو پرے کتابونه هم لیکلے دي لیکن په دوئي کښې د ټولو نه زیات مشهور امام حفص رحمه الله روایت دے او په ټوله دنیا کښې زیات وئیلے کیږي.

نو حضرت تهانوي رحمه الله دا رساله د امام حفص رحمه الله د روایت مطابق لیکلے ده او چه په کومه کلمه کښې دده او د نورو قاریانو اختلاف دے نو هلته کښې ئے هم د ده د روایت مطابق لیکلے ده او روستو د امام حفص رحمه الله د سند بیان دے یعني د هغے حضراتو نومونه دا دي چه د چا په ذریعے سره هغوي ته قرآن کریم رارسیدلے دے اګر چه نومونه خو ډیر دي لیکن واسطے ټکښې درے دي.

د امام حفص رحمه الله د سند سلسله.

سلسله ۱: امام حفص رحمه الله د امام عاصم تابعي رحمه الله نه قرآن حاصل کړے وو.

سلسله ۲: امام عاصم تابعي رحمه الله د زر ابن جیش اسدي رضي الله عنه نه او د عبد الله بن حُبیب سلمي رضي الله عنه نه حاصل کړے وو.

سلسله ۳: او دے دواړو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهما د حضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه او د حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه او د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه او د حضرت ابي بن کعب رضي الله عنه نه زده کړے وو.

سلسله ٤: او دے ټولو حضراتو د جناب رسول مقبول صلی الله علیه وسلم نه زده کړے وو.

خاتمه

د سپږمۍ پوره رنړا په څوارلسمه شپه باندې وي او دلته هم د څوارلسمې لمعې په ختمیدو باندې ټول مضامین پوره شول د دې وجې نه دلته کښې په رارسیدو سره کتاب ختموم.

د ادغام مفصل بیان

ادغام اوّل په دوه قسمه دے:

(۱): ادغام کبیر. (۲) ادغام صغیر

ادغام کبیر: چه کله مدغم او مدغم فیه دواړه متحرک وي او مدغم ساکن کړے او په مدغم فیه کښے ئے داخل کړے نو دے ادغام ته ادغام کبیر وائي. په روایت حفص رحمه الله کښ د ادغام کبیر صرف پنځه کلمات دي او هغه دا دي.

(۱): "نِعِمَّا" دوه ځایه (بقره او نسآء) چه دا په اصل کښ نِعِمَ مَا وه.

(۲): "اَتُحَآجُّوْنِّيْ" (انعام) چه دا په اصل کښے "اَتُحَآجُوْنَنِيْ" وه.

(۳): "مَكَّنِّيْ" (کهف) چه دا په اصل کښے مَكَّنَنِيْ وه.

(٤): "لَا تَاْمَنَّا" (یوسف) چه دا په اصل کښ لَا تَاْمَنُنَا وه.

(٥): "تَاْمُرُوْٓنِّيْ" (زمر) چه دا په اصل کښے تَاْمُرُوْنَنِيْ وه.

ادغام صغیر: چه کله مدغم ساکن وي او مدغم فیه متحرک وي او مدغم په مدغم فیه کښے داخل کړے نو دیته ادغام صغیر وائي لکه "قُلْ رَّبِّ، مَنْ يَّقُوْلُ" وغیره.

ادغام د سبب په اعتبار سره په درې قسمه دی

..۱. ادغام مثلين..۲. ادغام متجانسين..۳. ادغام متقاربين.

ادغام مثلين: ديته وائي چه دوه حروف د يو جنس راغلے وي که په يوه کلمه کښي وي اوکه په دوه کلمو کښي وي خو چه رومبے حرف ساکن وي او دويم حرف متحرک وي نو هلته به ادغام کيږي لکه " **إِذْ ذَّهَبَ يُوَجِّهْهُ إِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ** " په دے کښي صرف ادغام تام دے يعني د اولنے حرف ذات او صفات دواړه ختميږي

ادغام متجانسين: ديته وائي چه دوه حروف د يو مخرج والا راغلے وي خو چه رومبے حرف ساکن وي دويم حرف متحرک وي که په يوه کلمه کښي وي لکه "**بَسَطْتَّ**" او که په دوه کلمو کښي وي لکه "**إِذْ ظَّلَمُوْا، قَدْ تَّبَيَّنَ**" نو هلته به ادغام کيږي. په دے کښي ادغام تام او ادغام ناقص دواړه جائز دي دے ادغام ته ادغام متجانسين وائي د حرف طا ادغام په حرف تاء کښے صرف ناقص دے.

ادغام متقاربين: ديته وائي چه دوه حروف قريب المخارج وي يا قريب الصفات وی يا قريب المخرج او قريب الصفات دواړه راغلے وي خو چه رومبے حرف ساکن وي او دويم متحرک وي نو هلته به ادغام کيږي که قريب المخرج وي لکه (**أَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ**) او که قريب الصفات وي لکه (**وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ**) او کچرته قريب المخرج او قريب الصفات دواړو وي لکه (**قُلْ رَّبِّ**) په ديکښي ادغام تام او ناقص دواړه جائز دي.

موانع ادغام يعني هغه ځايونه چه کوم ځائے کښي ادغام منع دي موانع ادغام

په ټول قرآن کښې اوه دي.

.۱. رومبے حرف تائے مضموم وي لکه "كُنتُ تُرَابًا".

.۲. چه رومبے حرف تائے مفتوحه وي لکه "كُنتَ تَتْلُوا".

.۳. چه رومبے حرف باندے تنوين وي لکه "وَاسِعٌ عَلِيمٌ".

.٤. چه رومبے حرف مشدد وي لکه "فَتَمَّ مِيقَاتُ".

.٥. چه رومبے حرف نه يو حرف غورزيدلے وي لکه "يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ".

.٦. چه رومبے حرف مده وي لکه "قَالُوا وَهُمْ".

.۷. چه رومبے حرف حلقي وي او دويم خلقي وي يا نه وي لکه "فَاصْفَحْ عَنْهُمْ"، "لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا"

د الف لام تعريفي قاعدې

د الف لام نه هغه لام مراد دے چه هغه ده کلمے نه لرے کړے شي نو په کلمه کښې څه فرق نه راځي لکه "اَلْحَقُّ، اَلْحُكْمُ، اَلْحَمْدُ وغيره".

قاعده۱: هر کله چه د الف لام تعريفي نه روستو دد ے څوارلسو حروفو نه "اِبْغِ حَجَّكَ وَ خَفْ عَقِيمَهُ" نه يو حرف راشي نو هلته به د الف لام تعريفي اظهار کيږي يعني دا الف لام به ښکاره وئيلے شي ديته اظهار قمري وئيلے شي قمري ورته ځکه وائي چه قمر وائي سپوږمۍ ته نو څنګه چه د سپوږمۍ په راختلو سره د ستورو رڼړا نه ختميګي نو دغه شان کچرته د الف

لام نه روستو د " اِبۡغِ حَجَّکَ وَخَفۡ عَقِیۡمَهٗ " نه یو حرف راشي نو دا الف
لام به ختمیکي نه بلکه ښکاره به وئیلے شي لکه اَلۡحَمۡدُ، اَلۡاٰنَ، وَالۡفَجۡرِ،
اَلۡجُلُوۡدَ، اَلۡکَوۡثَرَ، اَلۡوَاقِعَةُ، اَلۡخَآئِبِیۡنَ، اَلۡفَآئِزُوۡنَ، اَلۡعُلٰی، اَلۡقَانِتِیۡنَ،
اَلۡیَوۡمَ، اَلۡمُحۡسِنٰتِ، اَلۡهُدٰی۔

قاعده ۲: هر کله چه د الف لام تعریفي نه روستو د " اِبۡغِ حَجَّکَ وَخَفۡ
عَقِیۡمَهٗ " نه علاوه یو بل حرف راشي نو هلته به د الف لام تعریفي ادغام
کیږي لکه اَلشَّمۡسُ وغیره دي دے ادغام ته ادغام شمسي وائي شمس ورته
ځکه وائي چه شمس وائي نمر ته نو څنګه چه د نمر په راختلو سره د ستورو
رڼړا ختمیکي نو دغه شان کچرے د الف لام تعریفي نه روستو، د " ت ث د ذ
ر ز س ش ص ض ط ظ ن ل " نه یو حرف راشي نو هلته به دا الف لام هم
ختمیږي لکه " اَلصّٰفّٰتِ، اَلذّٰرِیٰتِ، اَلدَّاعِ، اَلثَّاقِبُ، اَلتَّآئِبُوۡنَ، اَلزَّانِيۡ،
اَلصّٰلِحُوۡنَ، اَلرَّحۡمٰنُ، اَلشَّمۡسُ، اَلضَّآلِّیۡنَ، اَلطَّارِقُ، اَلظّٰلِمِیۡنَ،
اَلنَّجۡمُ، وَاللَّیۡلِ اَلسَّمِیۡعُ

د اجتماع ساکنین مفصل بحث

تعریف کله چي دوه ساکن حروف یو ځائے کښې جمع شي که هغه سکون اصلي وي او که عارضي وي حقیقتاً وي که صورتاً وي او که لفظاً وي "في کلمة" وي که "في کلمتین" وي نو هغه ته اجتماع ساکنین وائي دا په دوه قسمه دي.

...١. علی حده..٢. علی غیر حده.

اجتماع ساکنین علی حده: دیته وائي چه کله دوه ساکن حروف په یو کلمه کښې راجمع شي نو بیا عام خبره ده که په کلمه کښې وي اوکه حروف مقطعات وي د دے د پاره دوه شرطونه دي..١. چه کله کلمه یوه وي..٢. اول ساکن مده وي حکم د دے دا دے چه اول ساکن به راخکلے وئیلے شي لکه "دَآبَّةٍ، آٰلْـٰٔنَ، قٓ، صٓ، نٓ وغیره پدے کښې اول سکون او دویم سکون دواړه اصلي دي او وقف او وصل دواړه حالاتو کښې وئیلے شي.

نو دیته ځکه اجتماع ساکنین علی حده في الحالین وائي دلته دواړه سکون حقیقتاً دي او که چرته دویم سکون عارضي وي یعني د وقف د وجے نه وي یعني اَلرَّحِیۡمِ، تَعۡمَلُوۡنَ نو صورتاً او لفظاً خو دوه ساکنین جمع شوے دي نو ځکه علي حده په حکم کښې راځي دیته علی حده في الوقف وائي ځکه وقفاً جمع کیدل د دے جائز دي علی حده ورته د دے وجے نه هم وائي چه د دے ادا کولو کښې ساکنینو کښې څه قسم تغیر او تبدل نه راځي او دواړه سکون په خپل حد باندے قائم وي.

اجتماع ساکنین علی غیر حده: دیته وائي چه په هغے کښي د علی حده یو یا دواړه شرطونه وي یعني داسے ساکنین جمع شي چه اول ساکن مده نه وي خو في کلمة وي یا خو اول مده وي لیکن في کلمة نه وي یا اول ساکن مده هم نه وي او في کلمه هم نه وي او په خپل حد کښي هم نه وي بلکه تغیر او تبدل په کښي راځي دیته علی غیر حده وائي د اجتماع ساکنین علی غیر حده درے اقسام دي اول قسم کله چه دوه ساکنین جمع شي شرط اول دا دے چه اول ساکن به په کښي مده نه وي او کلمه به یوه وي مثلاً "اَلْقَدْرِ، وَالْفَجْرِ" د دے حکم دا دے چه دلته دویم ساکن وقفاً جائز دے او که چرته په دے قسم کښي اول ساکن حرف لین وي نو بیا راښکل جائز دي لکه اَلْمَوْتَ شَيْءٍ، خَوْفٍ، صَيْفٍ.

..۲. دویم قسم: کله چه اجتماع ساکنین راشي شرط اول دا دے چه اول ساکن په کښي حرف مده وي شرط ثاني دا دے چه کلمه جدا وي لکه فِي الْاَرْضِ، اٰمَنُوا الَّذِيْنَ، قَالُوا الْاٰنَ وغیره.

حکم د دے دا دے چه اول ساکن به حذف کولے شي دا په اصل کښي فِي الْاَرْضِ. اٰمَنُوْا الَّذِيْنَ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ وو. اول ساکن حذف شو

..۳. دریم قسم کله چه اجتماع ساکنین راشي شرط اول دا دے چه اول ساکن به مده نه وي شرط ثاني دا دے چه کلمه هم جدا وي لکه " مِنَ الْمُؤْمِنُوْنَ، عَنِ الْيَتٰمٰى، عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ" د دے حکم دا دے چه اول ساکن به متحرک کولے شي بیا حرکات په درے قسمه دے زبر، زیر، پیش،

زبر: که اول ساکن من حرف جروي نو هغے ته به زبر ورکولے شي لکه "مِنَ اللهِ، مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ، مِنَ الصّٰدِقِيْنَ، وَمِنَ النَّاسِ" وغيره.

پيش: که اول ساکن ميم جمع وي يا واؤ لين جمع وي نو هغے ته به پيش ورکولے شي لکه "عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ، هُمُ الَّذِيْنَ، عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ، دَعَوُا اللهَ، فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ، تَوَلَّوُا الْاَدْبَارِ، يَرَوُا الْعَذَابَ"

زير: کچرے اول ساکن ميم جمع نه وي واؤ لين جمع نه وي من حرف جرنه وي نو بيا به اول ساکن ته زير ورکولے شي بيا عامه قاعده ده "اَلسَّاكِنُ اِذَا حُرِّكَ حُرِّكَ بِالْكَسْرَةِ" يعني کله چه سکون ته حرکت ورکوے نو زير به ورکولے شي لکه "عَنِ الْيَتٰمٰى، مَنِ ارْتَضٰى، اَمِ ارْتَابُوْا، اِنِ امْرُءٌ، اِذِ انْبَعَثَ".

سوال: د سورت ال عمران، الٓمّٓ اَللّٰهُ هم د دے قاعدے په حکم کښي راځي نو د دے قاعدے مطابق زير ورکول پکار وؤ زبر ئے ولے ورکړے دے.

جواب: که ديته د قاعدے مطابق ميم ته زير ورکړے شي نود هغے نه مخکښي يائے ساکنه ده هغه هم د دوه زيرونو نه جوړه ده او دريم حرف ميم دے هغه هم مکسور دے. نو بيا دلته توالت د کسرو راتلو يعني څلور کسرے پرله پسے راتللے چه هغه کلمه کښي ثقل پيدا کوي او ضمه ځکه ورنکړے شوه چه ضمه د ميم جمع خاصه ده بيا د ميم جمع سره التباس راځي فتحه ځکه ورکړے شوه چه دا اخف الحرکت دے نو دے سره ثقل هم ختم شو او بله دا چه فتحه اخ السکون دے د سکون نه فتحے ته حرکت منتقل

شو نو دا ډیر مناسب وؤ.

نون قطني: هغه ته وائي چه بعض ځائے کښي د دوه کلمو په مینځ کښي یو ورکوټے نون لیکلے شوے وي هغے ته نون قطني وائي د دے قاعده دا ده چه کله تنوین په اجتماع ساکنین کښي راشي نو د نون ساکن شکل اختیار کړي نو بیا د قاعدے مطابق دیته هم زیر ورکولے شي لکه (نُوْحُ ۨابْنَهٗ، أَحَدُ ۨاللّٰهُ الصَّمَدُ) وجه تسمیه عربئ کښي د قطن معني ده مالوچ او چه کله مالوچ د دوه کپړو په مینځ کښي راشي نو بستره ترینه جوړه شي نو دغه شان نون قطني هم د دوه کلمو په مینځ کښي راشي نو دواړه کلمے یو ځائے کړي نون قطني د مالوچو پشان د دواړه کلمو په مینځ کښي ګیر شي نو په دواړو کلمو باندے دا آسانه شي ځکه ورته نون قطني وائي (المرشد)

د هائي ضمیر بیان

تعریف: د کلمے په آخر کښي چه کومه وړه (ه) لیکلے وي د کاف ضمیر پشان وي نو دیته هائے ضمیر او هائے کنایه هم وائي د دے دواړو مقصد دا وي چه په کلام کښي مخکښي اسم ظاهر ذکر شوے وي نو د اختصار د پاره دوباره بیا اسم ضمیر ذکر کوي.

هائے ضمیر په اسم ، فعل ، حرف درے واړو کښي استعمالیږي لکه "كِتَابِهٖ، رَسُوْلِهٖ، قَتَلَهٗ، اَنْزَلْنٰهُ، بِهٖ، لَهٗ، اَنَّهٗ" وغیره.

عدم صله:

زیر: د هائے ضمیر لاندے به زیر کله راځي د هغے د پاره دا قاعده ده چه کله د هائے ضمیر نه ماقبل حرف مکسور وي او یا ترے نه مخکښي یائے

ساکنه وي نو هائے ضمیر به مکسور وي او زیر به پړے راځي لکه "بِهِ، أَمْرِهِ، مِثْلِهِ، فِيْهِ، عَلَيْهِ" د دے قاعدے خلاف قرآن مجيد کښې څلور کلمات راغلے دي.

"أَرْجِهْ [اعراف، شعراء]، فَأَلْقِهْ [نمل]، عَلَيْهُ اللّٰه [الفتح]، وَمَا أَنْسَانِيْهُ [کهف]

توجيهات: د "أَرْجِهْ، أَلْقِهْ" د مکسور په ځائے د ساکن کیدو وجه دا ده چه دا په روایت حفص رحمه الله باندے معتل اللام دے او ناقص يائي دے يعني اصل کښې "فَأَلْقِيْ، أَرْجِيْ" دي نو بيا د امر د وجے نه د قاعدے مطابق ياء حذف شوه او بيا د هغے حروفو په ځائے هائے ضمير راغله نو هغه حذف شوه حرف ياء ساکن وو نو هائے ضمير هم ساکن پاتے شوه. (المرشد)

په "عَلَيْهُ اللّٰه" کښې ضمه ځکه ده چه دلته ياء د خپل ذات په اعتبار سره عارضي ده دا په اصل کښې عَلَاهُ وو او د قاعدے مطابق د الف نه پس هائے ضمير باندے ضمه راځي دا د اصل په اعتبار سره هائے ضمير مضموم ده "أَنْسَانِيْهُ" کښې د ضمے وجه دا ده چه دلته د ياء سکون عارضي دے ځکه ياء اضافت حرکت فتحه وي او د قاعدے مطابق د هائے ضمير حرکت د فتحے نه روستو ضمه وي بله خبره دا ده چه د هائے ضمير اصلي حرکت به ضمه وي.

په دے دوه کلماتو کښې د اصلي حالت په اعتبار سره ضمه ورکړے ده.

۲.. پيش کله چه هائے ضمير نه ماقبل فتحه يا ضمه وي يا حرف ياء نه علاوه بل حرف ساکن وي نو هلته به په هائے ضمير باندے پيش راځي لکه

"كُهُ، مَالُهُ، عَنْهُ، أَخَاهُ"

وغيره ليکن سورت النور کښې يوه کلمه "وَيَتَّقْهِ" باندے کسره راغلے ده.

وجه: د دے وجه دا ده چه دا کلمه اصل کښې "وَيَتَّقِيهِ" ده نو دا په شرط کښې واقع شوه نو ياء حذف شوه دلته اصل اعتبار سره هائے ضمير مکسوره ده (المرشد)

...٣. صله د صلے معنې ده راښکل د هائے ضمير حرکت د يو الف مقدار برابر راښکلو ته صله وائي کله چه د هائے ضمير نه ماقبل او ما بعد دواړو طرفته حرف متحرک وي نو هلته به هائے ضمير کښې صله کيږي لکه "مَالُهُ وَمَا كَسَبَ، أَمْرِهِ إِلَى اللهِ، بِهِ إِيمَانًا، بِوَجْهِهِ سُوءَ الْعَذَابِ.

...٤. عدم صله: کوم ځائے کښې چه هائے ضمير کښې صله نه کيږي هغے ته عدم صله وائي په هائے ضمير کښې د عدم صلے درے حالات دي.

...١. چه هائے ضمير نه ماقبل حرف ساکن وي او ما بعد متحرک وي لکه" فِيهِ هُدًى، أَخَاهُ هَارُونَ.

...٢. چه ماقبل حرف متحرک ما بعد ساکن وي يا ما بعد مشدّد وي لکه" لَهُ الْمُلْكُ، لَهُ الْحَقُّ، لَهُ الدِّينِ.

...٣. چه ماقبل مابعد دواړو طرفته ساکن حرف وي لکه "مِنْهُ الْأَنْهَارُ" په دے درے حالاتو کښې به صله نه کيږي.

د دے قاعدو خلاف قرآن مجيد کښې دوه کلمات راغلي دي.

اول نمبر، يَرْضَهُ لَكُمْ، فِيهِ مُهَانًا. دا په اصل کښې "يَرْضَاهُ" وو نو په

جواب په شرط کښې راغے د حرف په وجه الف حذف شو نو "يَرْضَهُ" شو.

د اصل لحاظ ساتلو سره صله ختمه شوه "فِيْهٖ مُهَانًا" کښې د قاعدے مطابق صله نه کيږي ليکن دلته (جَمْعَ بَيْنَ اللُّغَتَيْنِ) د پاره صله کړے ده يعني د امام ابن کثير مکي رحمه الله قرآءت دا دے چه د هائے ضمير نه ماقبل ساکن وي او مابعد متحرک وي نو هغه هر ځائے کښې صله کوي نو حفص رحمه الله هم هغوي سره دلته دے کلمه کښې موافقت کړے دے او خلاف د قاعدے ئے صله کړے ده.

هاء په څلور قسمه ده

۱. هائے ضمیر۔ ۲. هائے سکته۔ ۳. هائے اصلیه۔ ۴. هائے مدوره.

هائي ضمير: د واحد مذکر غائب هاء ته وائي چه د اسم فعل حرف په آخر کښې مذکر غائب ته راجع وي چه د اسم فعل حرف په آخر کښي د ضمیر د پاره زیاتي راغلے وي په دیکښي څلور قواعد دي۔ ۱. کسره۔ ۲. ضمه۔ ۳. صله۔ ۴. عدم صله

هائي سکته: هغے ته وائي چه د کلمے آخري حالات معلومولو په نیت د کلمے آخر کښي راځي او دا همیشه ساکن وي دا په ټول قرآن مجید کښي نهه ځایو نو کښي راغلے ده.

۱. لَمْ يَتَسَنَّهْ، بقره۔ ۲. فَبِهُدٰهُمُ اقْتَدِهْ، انعام۔ ۳،۴. كِتَابِيَهْ الحاقة دوه ځایه۔ ۶،۷. حِسَابِيَهْ، حاقه ۲۔ ۷. مَالِيَهْ حاقه۔ ۸. سُلْطَانِيَهْ، حاقه۔ ۹. مَاهِيَهْ، قارعه. دلته اکثر خلق وقف کښي دا هاء الف سره بدلوي دا بالکل غلطه ده هاء او هاء صفا وئیل پکار دي.

هائي اصلیه: دا هغه هاء ده چه د نفس کلمے خپله اصلي هاء ده چه د حروف اصلیه "ف ع ل" په مقابله کښي اصلي راغلے وي دلته هائے ضمیر قواعد صله وغیره چلول غلطي ده دۀ قرآن مجید کښي اووه ځائے کښي ده۔ ۱. نَفْقَهُ كَثِيرًا، هود۔ ۲. فَوَاكِهُ كَثِيرَةٌ۔ ۳. غَيْرَ مُتَشَابِهٍ، انعام۔ ۴. لَمْ يَنْتَهِ، العلق۔ ۵. وَيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ، لقمان۔ ۶. لَمْ تَنْتَهِ، مریم شعراء.

۳. لفظ **الله**

هائي مدوره: د تانیث هغه تاء چه وقف کښ ها سره بدلیږي هغے هاء ته مدوره وائي لکه "الْحُطَمَةُ" (المرشد).

ختم شده

طالب دعا سیف الله او بخت نور اوطلبائے تجوید